لا إله إلا الله محمد رسول الله

كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ

(سُوْرَةُ البقرة: ۲۱۶)

# ویده اُمت

# او

# هیر شوی جهاد

ویده اُمت او هیر شوی جهاد

لیکوال: استاذ همت الله حقمل (خادم المؤمنین)

نېټه: ۱۴۴۶ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب په اړه

نوم: ویده اُمت او هېر شوی جهاد

لیکوال: استاذ همت الله حقمل(خادم المؤمنین)

کمپوز او ترتیب: خپله لیکوال

چاپ: نه دی چاپ شوی

## اړیکه:


ایمیل: hhaqmal600@gmail.com

تلګرام کانال: https://t.me/haqmal600

واتساف: +93706004042


نوټ: تاسي کولای شی زمونږ نور کتابونه د تلګرام له کانال څخه ترلاسه کړئ.

## د جــهــاد ممبرونه

که په اُمــت کښې د جـهاد ممبرونه او داعيان ډېر شي، ليرې نه ده چې د قربانۍ لپاره به داسې ځوانان را پيدا شي چې په ټول قوت سره به د دښمن په مقابل کښې جـهاد وکړي او اُمــت به يو ځل بيا خپل پخواني برم او مجد ته وګرځوي، چې کفري هېوادونه به جزيه ورکوي او کفار به د اسلامي دولت په دروازه کښې ذليل ولاړ وي. جـهاد خو له دعوت څخه تقويه کېږي، که د جهادي دعوت مشالونه مړاوي شي جـهاد ته به څنګه ځوانان تيار شي؟ همدا دعوت دی چې ځوانان د قربانۍ او ننګ لپار تياروي.

# د لیکوال نور کتابونه

1. جهادي فکر او روزنه
2. جهاد او د اُمـت ځوانان
3. خبرې ملغلرې
4. فجرالجهاد

پاملرنه: کتابونه د الله تعالی د رضا لپار لیکل شوي، زه هېڅ امتیاز نه پرې اخلم، صرف چې خپلو مسلمانانو ورونو ته ورسېږي، چاته حق نه ورکوم چې امتیاز پرې واخلي او یا یې نسبت بدل کړي، نشرول یې خپله جهادي دنده وګڼئ، په دې ثواب کښې ځانونه راسره شریکان کړئ او هیله ده چې الله تعالی تاسې ته هم د دې کتاب د لیکلو په اندازه ثواب درکړي، یاد کتابونه تاسې هر وخت کولای شئ د تلګرام له لاندې کانال څخه په وړیا توګه ډاونلوډ کړئ!

https://t.me/haqmal600

# ډالـــــــــــی

- دا کتاب په أول قدم کښې هغو غیرتي او حقاني علماؤ ته ډالی کوم چې د دنیا تر ټولو خواهشاتو تېر وو، د حق او جهادي دعوت په خاطر شهیدان شول، په زندان کښې په زولنو وتړل شول او یا تر آخري سلګۍ یې د حق او جـهاد ډېوه روښانه وساتله.
- په دوهم قدم کښې یې هغو مجاهدو او غیرتي علماؤ ته ډالی کوم چې د حق لپاره یې د دعوت په لاره کښې زندان، زولنو، شهادت او کړاوونو ته ملا تړلې، د جـهاد لپاره ریښتینی دعوت کوي، د باطل هېڅ زور او جبر یې قوي عزم نشي ماتولای او هر وخت د قربانی په ځلي ولاړ دي.
- په دریم قدم کښې یې ټؤلو هغو مجاهدینو ته ډالی کوم چې د جـهاد په لاره کښې یې د شهادت افتخار ترلاسه کړی او یا یې ترمرګ پورې په جهاد کې استقامت کړی، هغو مجاهدینو ته چې د جـهاد په لاره کښې په زولنو تړلي او هغو مجاهدینو ته چې اؤس هم په سنګرونو کښې د باطل په مقابل کښې کلک ولاړ دي او په مېړانه د الله تعالی په لاره کښې جـهاد او قتال کوي.

# لړلیک

## عنوان کېکاږئ هغه اړوند موضوع ته به مو ورسوي.


1. تقریظ ........ 1
2. مقدمه ........ 3
3. جهاد د هر مسلمان دنده ده ........ 7
4. جهاد او روحانیت ........ 9
5. جهاد ولې فرض عین دی؟ ........ 20
6. په دریو طریقو جـهـاد وکړئ! ........ 26
7. ملي دری رنګه بیرغ او تاریخی سیر ........ 36
8. ایمان مو قوی کړئ ........ 51
9. مرګ حتمی دی ........ 52
10. د مدرسو حق څنګه ادا کېږی ؟ ........ 56
11. د کفارو څو مهم فکری پلانونه او تطبیق ........ 63
12. پخوانیو مسلمانانو څنګه رزق حاصلولو؟ ........ 76
13. جهاد ته څه اړتیا ده؟ ........ 78
14. منافق جـهـاد نشی کولای ........ 81
15. مونږ ته استقامت په کار دی ........ 82
16. د مسجدونو امامان څه مسئولیت لری؟ ........ 85
17. جهاد چې نه کوې څنګه به جنت ته داخل شې؟ ........ 93
18. حق معیار وګرځوئ! ........ 95
19. مسلمانان څنګه له جـهـاد څخه لیرې شول؟ ........ 97
20. قلم او ټوپک لازم او ملزوم دی ........ 101
21. زمونږ لپاره نقش قدم ........ 102
22. اسلحه مو راواخلئ! ........ 105
23. د مکې فتحه له اقصی سره! ........ 107
24. خپل مزاج د دین تابع کړئ ........ 109

25. له کفارو سره الله تعالی دښمنی لری ........ 111
26. د اُمــت کامیابۍ د هر مسلمان د هڅې نتیجه ده ........ 113
27. آزادی ........ 116
28. په هر علمی مرکز کښې باید سیاست شامل وی ........ 119
29. قلم راپورته کړئ ........ 121
30. الهی سنت څنګه دی؟ ........ 123
31. مجاهدین بریالي دی ........ 128
32. علماؤ ته! ........ 131
33. د دریو خلافتونو سقوط! ........ 133

# تقريظ

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمر سلين نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين وبعد:

فقد اطلعت على كتاب (ويده امت او هيرشوى جهاد) (لفضيلة الأستاذ همة الله حقمل) حفظه الله تعالى - فوجدته من أحسن الكتب في بيان الجهاد حيث اجتهد -وفقه الله- في الشرح والتوضيح فيه.

ولاشك أن مسائل الجهاد أكثرها إجماعية، وكان من الأمر العجيب أن تكون هذه المسألة الواضحة وضوح الشمس مجال جهل أو التباس عندبعض العلماء فضلا عن غيرهم،ولاحول ولاقوة إلا بالله!

ولذا إنني أنصح جميع الطبقات من علماء وطلبة علم ودعاة وشباب بقراءة هذا الكتاب واقتنائه وجعله سلاحا يستفاد منه في مواجهة بعض الأقوال والآراء الفاسدة.

والأستاذ الفاضل الأديب همة الله حقمل -وفقه الله - له جهود مباركة فقد ساهم وجاهد في مناصرة الحق وأهله،

ودفع الباطل وأهله، وتصدى لهم في كتب ورسائل.

نسأل الله تعالى أن يكتب له الأجر والمثوبة وأن يثبته على ذلك.

ونسأل الله أن ينصر المجاهدين في كل مكان، وأن يخذل الكافرين وأعوانهم في كل مكان.

وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

سماحة الشيخ المفتي صفي الله المسترشد-كان الله له

22 من شعبان سنة 1446 هـ ق

# مقدمه

الحمدُ لِلّه الذي أعزَّ أهلَ الحقّ ورفعَ رايتَهم، وأذلَّ أهلَ الباطلِ وكسرَ شوكتَهم، وبشَّرَ المجاهدينَ بالنصرِ والتمكينِ، وتوعَّدَ الكافرينَ بالعذابِ المهين. والصلاة والسلام على من بعث بالسيف رحمة للعالمين، وعلى آله واصحابه واتباعيه، ومن جاهد في سبيل الله إلا يوم الدين اما بعد:

د الله تعالی څخه ډېر خوښ يم چې د ليکلو په سلسله کښې يې قلم په ګوتو راکړی او د اسلامي اُمـت د اتحاد، پرمختګ او ځوانانو ويښولو لپاره ورباندې کرښې کاږم، د الله تعالی د دې نعمت شکريه نشم ادا کولای چې د فتنو په دې سخت دور کښې يې د سپېڅلي جهاد نظريه راکړې او په دې لاره کښې خدمت راڅخه اخلي.

د اسلامي اُمـت په وړاندې کفارو په ټول تاريخ کښې زياتې هڅې کړې دي، ترڅو يې له خپل اصلي هدف څخه منحرف کړي، ترمنځ يې د نفاق اور وشيندي، له دين او جـهـاد څخه يې ليرې کړي، کفري فکر او فرهنګ پکښې ترويج کړي؛ چې په همدې اساس يې د اسلامي اُمـت په وړاندې ډېر زيات کارونه کړي دي او اوس هم په فکري، نظامي، اقتصادي او نورو ډګرونو کښې د مسلمانانو په خلاف په مُرچل کښې ناست اؤ غشي ګزاروي؛ په مقابل کښې يې مسلمانان د سخت غفلت

په خوب ویده دي، چې د دښمن هېڅ ګزار یې نه راویښوي او دې ته یې نه تیاروي ترڅو د دې سخت کفر په مقابل کښې ودرېږي او د جهاد دنده ترسره کړي.

دا چې مسلمانان هم د پخوا په پرتله له دین څخه ډېر لیرې شوي، د جهاد او قربانۍ لپاره ډېر کم مقدار تیار دي، نو څکه پرې د کفر وحشي او خونخواره کړۍ راګرځېدلې او هر ډول ظلمونه ورسره کوي، اسلامي اُمـت مظلوم نه وو، خو د مسلمانانو بې غورۍ، کمزورۍ، له جهاد څخه لیروالي او غفلت نن دې اندازې ته رسولي چې د نړۍ ټول تسلط د کفارو په لاس کښې دی، مسلمانان حتی په خپلو خاورو او کورونو کښې په خپل اختیار ژوند نشي ورڅخه کولای، نن ورځ په نړۍ کښې مسلمانان د مظلومیت او محکومیت  شپې سبا کوي، سبب یې همدا دی چې دوی د خپل رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او خپلو سلفو له لارې څخه منحرف شوي او د خواهشاتو په اساس یې د دنیا ژوند اختیار کړئ، له کفر سره یې دښمني له فکر څخه وتلې ده.

په دې کتاب کښې مونږ کوښښ کړی ترڅو مسلمانانو ته وښیو چې مونږ څومره غافل او په مقابل کښې مو کفار څومره څیرک او په کوښښ کښې دي، چې په پېړیو پېړیو یې زمونږ په خلاف مبارزه کړې؟ همدا رنګه به مونږ په کتاب کښې دا هم جوته کړو چې اسلامي اُمـت

په ملکونو او خاصو نظامونو کښې تقسیمول لوی ظلم شوی، چې د اسلام تقاضا دا نه ده، څکه چې اُمـت د یو واحد بدن او دېوال په مثال په دین کښې ذِکر شوی دی؛ همدارنګه به دا هم څرګنده کړو چې مسلمانان څومره د جهاد څخه لیرې شوي او د جهاد وظیفه ولې داسې نه ګڼل کېږي لکه د دین نور فرائض؟ یو مهمه موضوع چې د کتاب زیاته برخه جوړوي هغه دا ده چې علماء د جهاد او دعوت په وظیفه کښې څومره اندازه رول لري او د نبوي رسالت (میراث) څومره حق یې ترسره کړی دی؟

که د کتاب په لیکلو کښې زمونږ څخه کومه سطحي سهوه شوې وي، هغه زمونږ د کمزوري علم او فکر نتیجه وګڼئ، البته کتاب که کومه مفهومي او عمیقه غلطي ولري زمونږ سره یې د خپلې مهربانی په پار شریکه کړئ، ترڅو مونږ یې اصلاح کړو.

په پای کښې زه د ټولو استاذانو، دوستانو، او ملګرو څخه په ډېره مینه مننه کوم او د فردوس اعلی غوښتنه ورته کوم، چې زما سره یې د لیکوالی په برخه کښې خپلې مرستې او حسینې مشورې شریکې کړې دي، د محترم شیخ مفتي صفی الله صاحب حفظه الله څخه په ډېر درنښت مننه کوم، چې زما د کتاب کتلو ته یې خپل قېمتي وخت ورکړو او خپل نظر یې وربانې څرګند کړو، الله تعالی دې په علم، اولاد

او ټولو دیني امورو کښې سرلوړی او بریالی لري؛ همدا رنګه د قوموا الی الجهاد نشراتي اداري له محترمو مدیرانو څخه ډېره مننه کوم چې زما سره یې د کتاب په بیا کتنه کې خپله همکاري وکړه، الله تعالی دې د هر حرف په عوض ورته بې شمیره اجرونه ورکړي، په خاص ډول (صدیق الله صادق صاحب) چې زما پخواني کتابونه یې د رسنیزو آدرسونو له لارې په ترتیب سره نشر کړل او په دې خدمت کښې په استقامت راسره ولاړ دی، زه ورسره د پوره محبت اظهار کوم، الله تعالی دې د دنیا او آخرت نیکمرغي او سرلوړي ورته نصیب کړي.

له الله تعالی څخه سوال کوم چې زما عاجز بنده دا لږ هڅه چې د جـهـاد او اسلامي اُمـت د پرمختګ لپاره مې کړې په خپل دربار کښې قبوله کړي، د مسلمانانو د پرمختګ او جـهـاد د تقویې لپاره یې ګټوره وګرځوي او ماته د حق په لاره کښې پوره استقامت راکړي.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّکَ أَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

استاذ حقمل خادم المؤمنین

ستاسو د نېکو دعاګانو په هیله

# جهاد د هر مسلمان دنده ده

عجیبه دا ده چې په خېرالقرون کښې به د جـهـاد لپاره تشکیل کېدو د ټولنې ټول وګړي به د جـهـاد لپاره تیار وو، که به ځوانانو وو، که به سپینږیري وو او که به ښځې وې، دا مونږ ته معلوم دي، په کارنامو یې د تاریخ صفحې ډکې دي، په هغه وخت کښې د جـهـاد کار د ټولنې د هر فرد سره وصل وو، د ټولنې هر وګړي به په انفرادي ډول برخه پکښې اخیسته، نتیجه یې دا وه چې اسلام او اسلامي اُمـت یې لوړ کړی وو، د مسلمانانو د عروج زمانه وه، کفار ذلیل او خوار وو؛ نن ورځ لوی مشکل دا جوړ شوی چې مجاهدین او د ټولنې عام وګړي سره جلا شوي، نن ورځ که جنګ او مقابلې کېږي، خلک وايي طالبان یې کوي، زه وایم چې اې د الله تعالی بنده! دا د جـهـاد فریضه یوازې د طالبانو لپاره ده؟ په دین کښې یوازې د طالبانو نوم اخیستل شوی چې جـهـاد به یوازې دا کسان کوي؟ په دین کښې په کوم ځای کښې تاسې ته ډاډ درکړل شوی چې تاسې جـهـاد مه کوئ، جـهـاد یوازې د څو محدودو کسانو دنده ده؟ اسلامي اُمـت چې نن له مشکلاتو سره مخ دی، پرمختګ نشي کولای، کفار یې هره ورځ په سر سر وهي، کفارو ټوله نړی تر خپل قدرت او استعمار لاندې راوستلې ده عمده مشکل همدا دی چې زمونږ په ټولنه کښې مجاهدین او د ټولنې وګړي سره

جلا شوي دي، اسلامي اُمـت په ميليونونو ځوانان لري، خو د جـهاد لپاره نه بلکې د خپل ژوند عيش، شهوت او خواهشاتو لپاره؛ زه وايم کوم ځوان چې له جـهـاد سره عملي تړاؤ ونه لري دا ځوان نه بلکې د ښځو په جمله کښې راځي، د ښځو په حق کښې به هم ظلم وي چې دا ځوانان د دوی په جمله کښې حسابوم، ځکه چې ښځې هم تر ډېرې اندازې د خپل توان په اندازه په جـهـاد کولو کښې شاملې دي.

غټ مشکل دا دی چې زموږ ځوانان له تاريخ څخه ناخبره پاتې شوي، د خپلو پخوانيو اتلانو تاريخ يې نه دی لوستی، د اسلام د عروج شپې يې نه دي ليدلې، د غربي فرهنګ او پرمختګ څخه تأثر اخلي او فکر يې د اسلامي اصولو څخه ليرې شوی.

البته که ووايم، يو عمده مشکل چې زموږ ټولنه ورسره مخ ده، هغه دا دی چې د جـهـاد لپاره ترغيب او تربيت هم ډېر په ټيټه کچه دی، زموږ په ټولنه کښې د جـهـاد درس نشته، ځوانانو ته نه ويل کيږي چې جـهـاد بايد وشي او دا ستاسو مسئوليت دی، د الله تعالی له خوا د لمانځه په شان امر ورباندې شوی، نن که زموږ د ټولنې مسجدونه وګورې صرف پنځه وخته آذان او لمونځ پکښې کيږي، تاسې د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) او له هغه څخه وروسته زمانه وګورئ مسجدونه د جهادي تربيت عمده ځايونه وو، په مسجدونو کښې د

جهاد تعلیم کېدو، په مسجدونو کښې به د قرآن او احادیثو درسونه ویل کېدل، مسجدونه د دین د تعلیم مرکزونه وو، د جهاد لپاره به تشکیلونه ورڅخه کېدل.

په کار دا ده چې زمونږ د ټولنې دعوت کوونکي، عالمان، مجاهدین او نور استاذان په ټولنه کښې د دې لپاره کار وکړي، ترڅو د ټولنې ټول وګړي له جهاد سره آشنا کړي، د جهاد درس او روزنه ورکړي، ترڅو د جهاد دنده یوازې د طالب نه بلکې د ټولنې د هر وګړي شي، ترڅو د مجاهدینو او عامو وګړو ترمنځ دا فاصله ختمه شي، ترڅو دښمن ته موقع برابره نشي چې د مسلمانانو منځ ته را داخل شي.

## جهاد او روحانیت

جهاد او د مسلمانانو بریالیتوب له نیکو اعمالو، تقوا او قوي عقیدې سره مستقیمه اړیکه لري، څومره چې یو څوک زیات تقواداره وي او قوي عقیده ولري په هغه اندازه یې الله تعالی په جهاد کښې ښه قبلوي او مخه یې ورته خلاصوي، الله تعالی ته چې انسان څومره نیردې کېږي، په هغه اندازه د الله تعالی محبت هم ورسره زیاتېږي، څومره چې د الله تعالی محبت له چا سره زیات وي په هغه اندازه یې مرسته کوي او د پرمختګ لارې ورته خلاصوي؛ فدایان چې الله تعالی

په دومره لوړ شان قبلول، الله تعالی او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به یې هر وخت په خوب لیدل، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به د یو او بل په واسطه سلامونه او پیغامونه ورته رالېږل، سبب یې د دوی قوي عقیده او تقوا وه، د دوی ترمنځ د الهي او نبوي مینې خوشبویي شیندل شوې وه، دوی په هره لحظه کښې د الله تعالی د لقا تمنا لرله، د دوی ترمنځ د الهي مینې په اساس ورورولي دومره حد ته رسیدلې وه چې په هر ځۀ کښې به یې خپل ملګري په ځان مقدم ګڼل، د دوی ترمنځ د ګناه څرک هم نه وو، شپه او ورځ د الله تعالی په عبادت کښې مشغول وو، همدا قوي ایمان، عقیده او زیاته تقوا د دې سبب وو چې د کفر غرور یې له خاورو سره خاورې کړو، د کفارو منځ ته د ورتللو لارې الله تعالی ورته خلاصې کړې او داسې ځایونو ته ننوتل چې د انسان عقل کار ورته پرېږدي؛ دا انساني تدبیر او تکتیک نه ده، بلکې دا د الله تعالی مرسته او همکاري ده چې له دوې سره یې، د تقوا، ایمان او عقیدې په اساس کوي.

نن ورځ چې مسلمانان په نړی کښې محکوم او خوار دي سبب یې همدا دی چې دوی د الله تعالی څخه لیرې شوي، د تقوا لاره یې پرېښې ده؛ نن که مسلمانان الله تعالی ته په پوره ډول رجوع وکړي،

د تقوا او ايمان لاره ونيسي الله تعالی به يې د کفر او ظالم له ظلم څخه خلاص کړي.

الله تعالی فرمايي: وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا [سُوْرَةُ الطّلَآق : 2]

ژباړه: څوك چې د الله څخه په وېرېدو کار وکړي (تقوا وکړي) الله تعالی به د هغه لپاره له ستونزو څخه د وتلو لاره پېدا کړي.

الله تعالی چې صحابه کرام (رضي الله عنهم) په نړۍ کښې فاتحين کړل او زياتې سيمې يې تر خپل حکومت لاندې راوستې سبب يې د دوی ايمان، تقوا او توکل وو، له دوی سره د کفارو په اندازه پوځونه هم نه وو، د کفارو په اندازه او کيفيت اسلحې هم نه وې ورسره، صرف دوی په الله تعالی توکل کړی وو، د دين لاره يې نيولې وه، د الله تعالی په مرسته يې د روم او فارس لويې امپراتورۍ راونړولې، د عيسايانو او مجوسيانو زور او ځواک يې له خاورو سره خاورې کړو؛ تاسې فکر وکړئ، د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) شمېر په هر جنگ کښې کم وو په مقابل کښې به يې هر وخت د فارسيانو او روميانو لښکر د دوی درې او څلور چنده زيات وو، خو مسلمانانو چې د ايمان په اساس جگړه کوله، نو الله تعالی هم د هغه سپېڅلي ايمان په اساس دوی ته په غټو لښکرو فتحې ورکړې؛ نو په همدې اساس ويلای شو چې فتحه او کاميابي، صرف ايمان، عقيده، توکل او د مسلمانانو

خپل کوښښ غواړي، الله تعالی د مسلمانانو سره د دوی د عمل په اندازه مرسته کوي، مسلمانان چې څومره الله تعالی ته نیږدې کېږي په هغه اندازه الله تعالی هم دوی ته لارې خلاصوي او په ځمکه کښې په کفارو غلبه ورکوي.

جهاد صرف جګړه نه ده چې د کفارو په مقابل کښې د اسبابو په ذریعه وشي، بلکې جهاد یو روحاني عمل دی چې د تقوا، ایمان او عقیدې په اساس په ډېرو برخو کښې د کفر او طاغوت په مقابل کښې ترسره کېږي، لکه: عملي، فکري، نظامي او داسې نور چې د مسلمانانو دا ټول جهادي اقدامات د دین په محور راڅرخي او په دې ټولو برخو کښې هر مسلمان باید خپل قدرت او قوت په پوره اندازه مصرف کړي.

د جهاد لپاره مهم اسباب د مسلمانانو ایمان، عقیده او تقوا ده؛ مسلمانان د خپل ایمان، عقیدې او تقوا په اساس د بریالیتوب لوړو منارونو ته ځان رسوي؛ د مسلمانانو لپاره د شمېر او اسبابو زیاتوالی مهم نه دی، هېڅکله مسلمانان باید خپل ځانونه د کفارو سره په اسبابو او پوځونو کښې پرتله نه کړي، چې دا به د خپل اسلامي تاریخ په تندي داغ اېښودل وي، ځکه چې مسلمانان په ټول تاریخ کښې د اسبابو او پوځونو په مقیاس د کفارو په مقابل کښې لږ او کمزوري وو، خو فتحه

یې د ایمان او عقیدې په اساس ترلاسه کوله؛ د تاریخ دا ستر حقیقت دا په ګوته کوي چې مسلمانان د خپل ایمان، عقیدې او توکل په اساس بریالیتوب ترلاسه کوي.

مونږ که تاریخ په غور سره مطالعه کړو، نو ډېر به داسې واقعات مخ ته راشي چې هلته مسلمانانو د اسبابو په اساس نه بلکې د ایمان په اساس بریالیتوب ترلاسه کړی وي، مسلمانان د تاریخ په هر پړاو کښې د الله تعالی په نصرت په دښمن غالب شوي.

۱. د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د نبوت اعلان که ښه په غور سره وګورو، د ټول کفري عرب په منځ (مکه) کښې چې ډېر سخت مشرکین پکښې اوسېدل، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپل د نبوت اعلان وکړو او د دوی شرک، بت پرستی او بتانو ته یې باطل او طاغوت او باطل وویل، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یوازې وو، په مقابل کښې یې د مکې مشرکین ټول ولاړ وو، خو الله تعالی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته د حق دین، عقیدې او ایمان په اساس کامیابي ورکړه او خپل نبوي رسالت یې ترسره کړو، خپل ملګري یې پیدا کړل، الله تعالی فرمایي: يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ [سُوۡرَةُ الصَّف : 8]

ژباړه: دوی د خولو په پوکیو (افواهاتو) سره د الله د رڼا مړه کول غواړي او د الله فیصله دا ده چې هغه خپله رڼا بشپړه خوره کړي، که د کافرانو دا هر څومره بده ایشي هم.

نو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رسالت بریالیتوب او کامیابي الله تعالی غوښتې وه د کامیابی تر څلي یې ورسولو؛ کفارو که هرڅومره کوښښ او دښمني ورسره وکړه.

۲. د بدر په غزا کښې د ۳۱۳ صحابه کرامو (رضي الله عنهم) کامیابي او فتحه د دې ښکاره دلیل دی چې مسلمانان د ایمان او عقیدې پر مټ کامیابي ترلاسه کوي، نه د اسبابو په واسطه؛ د مسلمانانو په مقابل کښې د مکې ۱۰۰۰ کسان پوره په اسلحه او اسبابو سمبال وو، ماتې خوري، دا یو ښکاره حقیقت دی چې کفر او شرک د حقیقي فتحې څخه هېڅکله نشي برخمن کېدای.

۳. د احد په غزا کښې چې کله مسلمانان یو څه وځپل شول، دا د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) بې اطاعتي وه، وروسته بیا هم چې مسلمانان د کفارو په مقابل کښې بریالي شول، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او صحابه کرامو (رضي الله عنهم) د اعلی ایمان او استقامت نتیجه وه؛ دا چې اطاعت له پوره تقوا سره تړاو لري او په جهادي سلسله کښې ډېر مهم رول لري، نو په دې جنګ کښې الله

تعالی مسلمانانو ته وښوده چې، بې اطاعتي ډېر بد عواقب لري او مسلمانان د اطاعت په اساس بریالیتوب ترلاسه کوي.

۴. د موته په جګړه کښې چې کله مسلمانان د رومي پوځ سره مخ شول، د مسلمانانو شمېر (۳۰۰۰) وو خو په مقابل کښې یې د رومیانو شمېر (۱۰۰۰۰۰-۲۰۰۰۰۰) پورې اټکل شوی وو) الله تعالی بیا هم مسلمانانو ته فتحه ورکړه، دا جګړه او فتحه په دې دلالت کوي چې هر وخت مسلمانان د خپل ایمان او عقیدې په اساس د الله تعالی لوی نصرت ته لاره پرانیزي او د الله تعالی مرسته ترلاسه کوي.

۵. د یرموک جګړه چې د رومي امپراتورۍ په تاریخي ماتې او مسلمانانو په فتحه تمامه شوه، د مسلمانانو تعداد (۲۰۰۰۰-۳۰۰۰۰ پورې وو) په داسې حال کښې چې رومي پوځ (۱۰۰۰۰۰-۴۰۰۰۰۰ پورې اټکل شوی) چې د اسبابو په اساس پوره مجهز هم وو؛ خو الله تعالی د مسلمانانو د نصرت وعده کړې وه بیا هم په کفارو بریالي شول او فتحه یې ترلاسه کړه.

۶. د عربو په منځ کښې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ټولی ډېر کم وو، د مسلمانانو څو برابره کفارو په مدینه منوره کښې ژوند کولو، په مدینه کښې درې لویې لویې یهودي قبیلې اوسېدلې خو ټول د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د کم تعداد ملګرو په اساس

له مديني څخه وشړل شول او يا ووژل شول؛ دا ټول سبب د مسلمانانو ايمان، عقيده، توکل او تقوا وه چې دوی ته يې روحاني او معنوي قوّت وربښلی وو.

۷. د فارسيانو په مقابل کښې د قادسيې جګړه چې پکښې د فارسيانو غټ لښکر ماتې وخوړه او مسلمانان بريالي شول او سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه د فارسيانو ماڼۍ ترلاسه کړې، د دومره لويې امپراتورۍ په مقابل کښې بريالیتوب د ايمان له ځواک څخه پرته هېڅ شی نشي بلل کېدای.

۸. کله چې مسلمانان په خپل منځ کښې سره بې اتفاقه شول، جهاد يې پرېښوؤد، د دنيا په ژوند کښې مصروف شول، نو الله تعالی خپله مرسته ورباندې کمه کړه، د مسلمانانو د خلافت مرکز باغداد سقوط وکړو په ميليونونو مسلمانان شهيدان شول په مقابل کښې يې چنګېزيان کامياب شول، دا ځکه چې دوی تقوا پرېښوده او خپل دين يې په صحيح معنی د ژوند لپاره عملي چوکاټ ونه ګڼلو؛ همداسې عثماني خلافت او نور اسلامي حکومتونه هم چې له الهي قوانينو څخه يې سرغړونه وکړه الله تعالی قدرت ورڅخه واخيستو او ذليل شول.

۹. اندلس چې اوس دوه دولتونه دي، پرتګال او هسپانیا د مسلمانانو یو غښتلي قوماندان طارق ابن زیاد رحمه الله په ۱۲ زره کسانو فتحه کړو، دا ځکه چې مسلمانان د ایمان په زور جګړې ته داخلېدل او د الله تعالی په مرسته یې یقین وو چې له مسلمانانو سره به یې کوي، خو همدا اندلس چې بیا د مسلمانانو له لاس څخه وتلو په میلیونونو مسلمانان په کښې وو، خو د دوی سره قوي ایمان او عقیده نه وو موجود اتحاد یې له لاسه ورکړی وو، نو یې د ذلت ژوند په برخه شو او ټول مسلمانان د عیسایانو تر تسلط لاندې راغلل، ووژل شول، وشړل شول، غلامان او بندیان شول.

الله تعالی دا خبره په خپل کلام کښې ذکر کړې ده، چې مسلمانان باید په زیات شمېر کفارو باندې غالب شي ځکه چې مسلمانان ایمان لري او د الله تعالی مرسته او نصرت ورسره وي.

الله تعالی فرمایي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَٰبِرُونَ يَغْلِبُوا۟ مِا۟ئَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّا۟ئَةٌ يَغْلِبُوٓا۟ أَلْفًا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ [سُوۡرَةُ الاٴنفَال : 65]

ژباړه: اې پیغمبره! (صلی الله علیه وسلم) مؤمنان (د کفارو په مقابل کې) جنګ ته وهڅوه؛ که ستاسې نه شل تنه صابران وي، نو هغوی به پر دوو سوو برلاسي شي؛ او که سل تنه داسې وي، نو د حق د

منکرانو پر زرو تنو باندې به برلاسي شي؛ ځکه چې منکران داسې خلك دي چې پوهه نه لري.

په دې ایت شریف کښې الله تعالی مسلمانانو ته وایي چې شل تنه ستاسو څخه باید په دوه سوه کافرانو باندې غالب شي، ځکه چې کفار پوهه نه لري، کفار هوښیار نه دي، کله چې مجاهدین د کفارو په کومه اډه او مرکز حمله کوي نو د ځان په اندازه دې هغه ځیرک او پوه نه ګڼي، بلکې کافران جاهل دي، په هر دام کښې د مسلمانانو بندېږي، نن چې مونږ کفارو ته هوښیار او د تمدن جوړونکي وایو دا زمونږ خپل غفلت او کمزوري ده، مونږ په خپل دین او اصولو عمل نه دی کړی، ځکه په تمدن او پرمختګ کښې د کفارو تقلید کوو او هغه ته مخکښان وایو، که چېرې مونږ له خپل تاریخ څخه خبر شو، په اموي خلافت کښې اروپا ته د مسلمانانو د فتوحاتو سره یو ځای تمدن نقل شو، د اروپا خلکو د حیواناتو په شکل ژوند کولو، د کالیو اغوستل یې نه وو زده، د کورني ژوند اساس یې نه وو، د حیواناتو په شکل یې نسلونه راروان وو، کله چې مسلمانان اروپا ته داخل شول د مسلمانانو له علم او پوهې څخه اروپایانو الهام واخیستو، په لمړیو وختونو کښې دوی د مسلمانانو پرمختګ د پېریانو کار بللو، اروپا ته چې کله اسلام داخل شو د دوی تمدن ورسره روښانه شو او د پرمختګ په لور یې روان

کړل؛ عباسي خلافت د مسلمانانو د پرمختګ او عروج ځلی وو، په هغه وخت کښې په علم او صنعت کښې مسلمانان د ټولې دنیا مخکښان وو، د ټولې دنیا خلکو د دوی د پرمختګ او علم څخه رنګ اخیستو؛ د عثماني خلافت په وخت کښې هغه جنګي اسباب او اسلحې چې دوی لرلې د اروپایانو سترګو نه وې لیدلې، د عثماني خلافت هغه توپونه چې د عیسایانو کلاوې یې وربانديې نړولې اوس هم په موزیمونو کښې پراته دي؛ نو بحث چې بلې خوا ته ولاړ نشي مسلمانان چې خپل دین ته نیږدې شي او په هر اړخ یې عمل وکړي، په هېڅ ډګر کښې به ناکام نشي، مسلمانانو ته الله تعالی څکه هوښیاران او پوهان وایي چې دوی دین منلی او د دین له اصولو څخه یې د خپلې پوهې تنده سیرابه کړې.

نو د دې تفصیل او روایاتو په اساس باید مجاهدین دې یقین ته ورسېږي، چې الله تعالی له مسلمانانو سره د ایمان، عقیدې، تقوا او توکل په اساس مرسته کوي، اسباب او د اشخاصو زیاتوالی د الله تعالی د مرستې په مقابل کښې هېڅ حیثیت نه لري، مسلمانانو ته نه ده په کار چې د کفارو زیاتوالی او اسباب یې په تزلزل کښې راولي او ورڅخه وبېرېږي. مجاهدین که د دښمن په هرڅومره لوی مرکز او نورو نظامي ځایونو حمله کوي، باید د خپل ایماني قوّت په مقابل

کښېږ يې هېڅ شی حساب کړي او په ډېر شجاعت سره بايد عمليات ترسره کړي، الله تعالی به فتحه ورنصيب کړي؛ په دې کښې شک نشته چې الله تعالی مسلمانانو ته په جهادي بهير کښې ډېر غټ مشکلات هم حل کوي او مجاهدينو ته برياليتوب ورکوي؛ تاسې که د اسلام تاريخ په غور سره مطالعه کړئ، دا به درته جوته شي چې مسلمانان د الله تعالی په نصرت سره کاميابېږي او اسباب يې ذريعه نه ده، نو مونږ بايد خپل شجاعت او جهادي اقدامات تر اسبابو او تعداد پورې محدود نه کړو، په هر وخت او حالت کښې يوازې الله تعالی زمونږ د مرستې او متو قوي کولو لپاره کفايت کوي.

## جهاد ولې فرض عين دی؟

زه په نن حالاتو کښې هغه عالمانو او مفتيانو ته حيران يم چې په داسې حالاتو کښې دوی وايي چې جـهـاد فرض کفايي دی او يا وايي چې جـهـاد نشته، د اُمـت حالات ويني، د مسلمانانو وينې او اوښکې په سترګو ويني چې بهېږي، اسلامي مقدسات ګوري چې هره ورځ يې بې عزتي کېږي او نجس کفار پرې خپل د غرور قدمونه ږدي، دوی بيا هم د جـهـاد د حکم لپاره دلايل تراشي، د اسلامي اُمـت د ځوانانو په احساساتو خپل د شبهو په واسطه قدمونه ږدي.

زه وایم: ولې نن جـهـاد فرض عين نه دی، چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په شان کښې هره ورځ كفار ګستاخي او بې ادبي کوي، آيا د هغه ګستاخيو انتقام اخيستل شوی چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په شان کښې شوې دي؟ هغه پيغمبر چې د مرګ په حالت کښې هم د ده په خوله د اُمتي اُمتي نارې جارې وې، هغه پيغمبر چې په شپو شپو يې زمونږ لپاره د الله تعالى په دربار کښې ژړل، هغه پيغمبر چې د ټول بشريت او مخلوق څخه غوره دی، هغه پيغمبر چې صحابه کرامو (رضي الله عنهم) يې په شان کښې د کفارو يوه بې ادبي نشواى زغملى، صحابه کرامو (رضي الله عنهم) ته يې په پښه کښې يو اغزى د زغملو نه وو، نن ورځ د هغه پيغمبر په شان کښې ګستاخي کېږي خو دومره څوک نشته چې مخ يې وربانديې سور شي، د انتقام جذبه يې راپورته شي او د دې ګستاخانو څخه انتقام واخلي، ولې نن مونږ هر څۀ له سره تېروو؟ ولې مونږ د يو څه وخت په تېرېدو په دې کارونو خاورې اړوو، نو ترڅو چې د دې ګستاخانو څخه انتقام وانخيستل شي مونږ بايد په آرامه نه شو او نه هم د خواهشاتو په دنيا کښې غرق شو.

ولې نن جـهـاد فرض عين نه دی چې کفارو مو د سپېڅلي قرآن بې حرمتي او بې عزتي کړې، هغه يې سوزولی او په ډېران غورځولی

دی؟ نن چې مسلمانان په خپل قرآن غیرت ونه کړي، سبا به څنګه د الله تعالی څخه د مغفرت او جنت هیله کوي؟ دا هغه قرآن دی چې الله تعالی په لوح محفوظ کښې لیکلی، دا هغه قرآن دی چې د دې لپاره الله تعالی خپل یو داسې استازی چې په ټول بشریت او مخلوق کښې بهتره دی انتخاب کړی، د دې قرآن د نزول لپاره ۲۳ کاله د نبوت لړی روانه وه، د دې قرآن کریم لپار په وار وار ډلیز صحابه کرام شهیدان شوي، دا هغه قرآن دی چې په ټول تاریخ کښې مسلمانانو ننګونه ورباندې کړي او قربانی یې ورباندې ورکړې دي، مونږ څنګه په دې قرآن نن غیرت ونه کړو؟ مونږ څنګه د دې قرآن د لارښوونو د تطبیق لپاره لاره هواره نه کړو؟

ولې جـهـاد فرض عین نه دی چې بیت المقدس، د مسلمانانو لمړی قبله، د پیغمبرانو مسکن نن د یهودو په قبضه کښې دی؟ هغه چې امیرالمؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه یې د ازادی لپاره په عاجزانه انداز او لباس کښې له مدینې منورې څخه وخوځېدو او له فتحې څخه وروسته یې په اقصی مبارک مسجد کښې لمونځ ادا کړو، هغه چې امیرانو یې د آزادی لپاره شپې ورځې مبارزه کوله، هغه چې نورالدین زنګي رحمه الله یې د زیات کوښښ باوجود د فتحې ارمان ګور ته یوړو، هغه چې سلطان صلاح الدین ایوبي رحمه یې د آزادی لپاره په

خپل زړه کښې هيلې راګرځولې او د خپلې مبارزې په لړ کښې يې فتحه هم کړو؛ نن ولې بيت المقدس د يهودو سره اشغال وينو؟ نن ولې هغه د عزت مسجد چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) له همدې ځای څخه د اسراء په لوی سفر او د الله تعالی ملاقات ته لاړو، هغه چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ټولو پيغمبرانو ته لمونځ پکښې ورکړو، نن ولې مونږ هغه بختور مسجد آزاد نه کړو؟ نن به ولې په مونږ د بيت المقدس د ازادۍ په خاطر جـهاد فرض عين نه وي؟

ولې نن جـهاد فرض عين نه دی چې له شرق څخه تر غرب پورې اسلامي ملکونه د کفارو تر اشغال يا مستعمرې لاندې دي؟ نن ورځ زمونږ هغه هېوادونه چې د اسلام مرکزونه وو د کفارو تر اشغال څه چې اوس خالص کفري هېوادونه ورڅخه جوړ شوي، لکه پرتګال او هسپانيا چې د اسلام مرکزونه وو، نن اسلامي ملکونه زياتره د کفارو تر سيوره لاندې ژوند کوي او د کفارو په لاربښوونو عمل کوي، لکه زياتره عربي ملکونه چې هلته د حسرت لپاره کفار په سفر ځي او هلته ښکلی د خوشحالۍ ژوند کوي، په ځينو هېوادونو کښې بيا ټول قانون او نظام کفري دی، لکه زياتره د نړۍ اسلامي هېوادونه، اسلامي هېوادنه يې ځکه ګڼو چې هلته عام مسلمانان ژوند کوي او د دې

کفري او ظالمو حکومتونو څخه کړېږي؛ دا هیوادونه له کفري نظامونو او کفارو څخه خلاصول غواړي او که نه؟

ولې نن جـهـاد فرض عین نه دی چې د دوو پېړیو څخه را په دې خوا په میلیونونو مسلمانان شهیدان کېږي او هېڅ انتقام یې نه دی اخیستل شوی؟ آیا دا مسلمانان چې شهیدان شوي پور لري او که نه؟ مونږ ولې نن د خپلو وروڼو د انتقام لپاره په خپل ځان جـهـاد فرض عین نه کڼو؟ که خپل تربور مو یو ځوک قتل کړي نه یې ښښو خامخا انتقام ورڅخه اخلو، تر ټوله کورنۍ هم ورته تېر وو خو قاتل نه پرېږدو، آخر دیني اخوّت ته مو ولې فکر نه اوړي چې په میلیونونو زمونږ وروڼه ظالمو کفارو قتل کړي؟ ولې د هغوی انتقام اخیستنې ته نه تیارېږئ؟

ولې نن جـهـاد فرض عین نه دی چې بې شمېره مسلمانې ښځې د کفارو په زندانونو کښې د ذلت ژوند کوي هره ورځ کفار د هغه عزت ته لاس اچوي؟ نن ورځ ولې ضمیر داسې مړ شوی چې د خپلو ښځو او خویندو په عزت لوټلو نه راویښېږي؟ نن ولې هغه احساس مړ شوی چې یو صحابي د یوې ښځې د عزت په خاطر د یهودو په بازار کښې د یهودي غاړه ورپرې کړه؟ نن ولې هغه غیرت او ننګ نشته چې محمد بن قاسم رحمه الله یې د یوې ښځې د فریاد په اساس هندوستان ته ورسولو؟ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خو د یوې

ښځې د عزت په خاطر د يهودو يوه غټه قبيله له مدينې څخه پسې واخيسته او له کورونو څخه يې واېستل، آخر مونږ خو هم د خپل تاريخ څخه پيداوار يو د خپلو مشرانو په لاره خو بايد روان شو.

ولې نن جـهـاد فرض عين نه دی چې هره ورځ بې شمېره د مسلمانانو هغه جنازې په سترګو وينو چې د کفارو په وحشت او ظلم کښې شهيدان کېږي؟ آخر دا معصومې جنازې او جسدونه ولې مونږ ته د جـهـاد او قربانۍ درس نه راکوي؟ ولې نن د مسلمانانو ارزښت نشته؟ ولې مسلمانان دومره بې قېمته شول چې نن ورځ يې په شهادت خپله د مسلمان سترګې اوښکې نه کوي؟ ولې دا حالت چې نن د نورې نړۍ مسلمانان ورسره مخ دي يوه ورځ به خپل ځان هم نه ګڼو چې ورسره مخ به شو؟

ولې نن جـهـاد فرض عين نه دی، چې د اسلام کليمه لوړه شوې نه ده او په زياتو ځايونو کښې څوک د جـهـاد او اسلام خبره نشي کولای؟

آخر دا ځينې مفتيان صاحبان او عالمان د فرض عين جـهـاد لپاره کوم شرايط وړاندې کوي چې هغه پوره شي بيا به په مسلمانانو جـهـاد فرض عين وي او بيا به لښکرې روانوي ترڅو له کفارو سره جـهـاد وکړي؟ دا د نن ورځې عالمان خو دې د دې اُمـت په خاطر لږ فکر وکړي چې اُمـت په کوم حالت کښې دی، جـهـاد خو يوازې د خاورې د

نیولو په خاطر نه فرض کېږي، د جهاد د فرض عین والي لپاره ډېر اسباب دي چې په مسلمانانو جهاد فرض عین کوي؛ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په شان کښې بې ادبي او هغه ته بد نسبت کول په اعلی طریقه جهاد فرض عین کوي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په پېښه کښې صحابه کرامو (رضي الله عنهم) یو اغزی د ژوند په مقابل کښې نه شو زغملی، نن یې مونږ په شان کښې بې عزتي هم زغمو! ولې نن مونږ په خپلو ایمانونو نه وېرېږو؟ ولې نن زمونږ ضمیر دا نه راته وایي چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم په دفاع کښې ځان قربان کړه؟

## په درېو طریقو جــهـــاد وکړئ!

جهاد د اسلام له فرایضو څخه یوه عظیمه فریضه ده، مونږ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ژوند کښې یوه برخه د جهاد په نامه پېژنو، چې هغه ټوله مدني لس کلنه دوره ده، په دې دوره کښې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د کفارو په مقابل کښې توره له تیک څخه ایستلې جهاد او قتال یې کړی، خپله غزاۍ ته تللی، زخمي شوی او تعذیب شوی، په خپل لاس یې د کفارو په مقابل کښې اسلحه هم کارولې ده؛ مونږ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د سیرة مبارک په دوهم پړاو (مدني دوره) کښې زیاته برخه د رسول الله

(صلی الله علیه وسلم) غزواة لولو او ګورو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خپله غزاؤ ته تللی او همدارنګه یې د مجاهدینو ډلې هم د جـهـاد لپاره استولې دي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د جـهـاد لپاره صحابه کرام (رضي الله عنهم) تشویق کول او ترغیبول، ترڅو صحابه کرام (رضي الله عنهم) په خپل مال، ځان او ژبه سره د کفارو په مقابل کښې مبارزه او جـهـاد وکړي؛ جـهـاد د اسلامي اُمـت روح بلل کېږي، چې روح نه وي تش کالبوت هرڅوک په لغته وهلی شي، ځکه چې له تش کالبوت څخه احساس د خطر نه وي موجود، که چېرې شخص پوه شي چې دا یوازې کالبوت نه دی روح هم پکښې شته نو بیا یې څوک په لغته د وهلو جرئت نشي کولای، جـهـاد هم د اسلامي اُمـت لپاره د روح په شان دی ترڅو چې مسلمانان جـهـاد کوي، نو اُمـت به ژوندی وي، څوک پرې د ظلم او تېرې جرئت نشي کولای او نه یې تر تسلط لاندې راوستلای شي؛ د تاریخ په څوارلس سوه کلن دور کښې په اسلامي اُمـت ډېرې لوړې ژورې راغلې دي، ځینې وخت د اسلامي اُمـت عروج وي او ځینې وخت د رکود په ښکته حالت کښې وي، خو که دې اوږده اسلامي تاریخ ته ځیر شو، کوم وخت چې په مسلمانانو کښې د جـهـاد او قربانۍ جذبې موجودې وې او مسلمانانو جـهـاد کولو هغه د مسلمانانو د عروج زمانې وې، خو کوم وخت چې مسلمانانو جـهـاد پرېښی او هغه یې یو غیر ضروري کار ګڼلی نو هغه

يې د رکود او ټيټوالي زمانې دي، دا يو ثابت عمل دی، تاسې تاريخ وګورئ، خپله به درته معلوم شي چې د جـهـاد په اساس اسلامي اُمـت پورته شوی هم دی او ښکته شوی هم دی.

دا چې جهاد يوه مهمه وظيفه ده، له اسلامي اُمـت او دين څخه ساتنه کوي نو په همدې اساس دا وظيفه په درېو برخو کښې ترسره کېږي.

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايي: جاهدوا المشركين باموالكم وانفسكم والسنتكم. (أبو داؤد ونسائي)

ژباړه: له مشرکينو سره په خپلو مالونو، ځانونو او ژبو سره جـهـاد وکړئ.

د دې حديث شريف څخه معلومېږي چې هر مسلمان بايد د خپل قدرت په اندازه په دې درېو برخو کښې د جـهـاد عظيمه فريضه ترسره کړي.

۱. جـهـاد په مال سره: دا هم يو ستر جـهـاد دی چې مسلمانان يې د دښمن په مقابل کښې ترسره کوي، کوم مجاهدين چې په سنګرونو کښې د کفارو په مقابل کښې جنګېږي او په سنګرونو کښې دي، د هغه سره، مالي مرسته کول، خرچه ورکول او يا هم د جنګ مهمات

او تجهیزات ورکول؛ دا جـهـاد د الله تعالی په دربار کښې ډېر لوړ مقام لري.

نو په همدې اساس مونږ ته په کار ده چې په دې مالي جـهـاد کښې برخه واخلو او د هغه سټرو مجاهدینو ملاتړ او مرسته وکړو، چې په سنګرونو کښې د دښمن په مقابل کښې ولاړ دي، تر څو مو د الله تعالی په وړاندې غاړه خلاصه وي او الله تعالی راڅخه راضي شوی وي، زیات ثوابونه راکړي او په دې لویه فریضه کښې مو برخمن کړي.

نن ورځ اسلامي اُمـت په ډېر کمزوري حالت کښې دی، د جـهـاد لارویان او پلویان ډېر د ګوتو په شمېر دي، ډېر کم کسان دي چې د جـهـاد لاره یې نیولې ده، زیاتره مسلمانانو خپل د خواهشاتو بې غمه ژوند اختیار کړی، د اُمـت له حال څخه خبر نه دي، نو که نن ورځ مونږ په عملي جـهـاد کښې برخه نشو اخیستلای، نو په مالي جـهـاد کښې خو باید برخه واخلو، د مجاهدینو متې خو باید قوي کړو، د مجاهدینو لپاره خو باید اسباب او وسایل تیار کړو، نن ورځ به ډېر د قوي ایمان خاوندان د جـهـاد ملاتړ کوي او د مجاهدینو په څنګ کښې به درېږي، خو څومره چې د جـهـاد حالات سخت او پېچلي وي په هغه اندازه مجاهدینو ته الله تعالی زیات ثوابونه هم ورکوي، نن ورځ زه وایم چې

کوم کسان د الله تعالی په لاره کښې جهاد کوي، دې خلکو ته که الله تعالی جنت ورنکړي بیا به یې نو چاته ورکوي؟

نن ورځ چې کوم مسلمانان د دنیا له خواهشاتو څخه تېرېږي، د دنیا محبت او مینه په ځمکه غورځوي او د الله تعالی مینې ته په زړه کښې ځای ورکوي، د الله تعالی په مینه ځان قرباني کوي او د جهاد لاره نیسي، داسې کسان بلکل د لوړ ایمان خاوندان دي، دا بلکل د الله تعالی خاصې لښکرې دي چې په ځمکه کښې یې د خپل دین د ساتنې لپاره انتخاب کړې دي او د دین کار ورڅخه اخلي. نن ورځ چې هر سړی کوښښ کوي ترڅو پیسې او دنیا پیدا کړي، خپل د هوسا ژوند اسباب زیات کړي او د خواهشاتو غریضه پوره کړي؛ نو د همدې کار لپاره دهوکه، دروغ، غلا او خیانت کوي، تر څو یې ترلاسه کړي، خپل دین خرڅوي خو چې دنیا یې جوړه شي، پیسې یې زیاتې شي؛ په داسې حال کښې بیا هم د الله تعالی داسې دوستان شته چې خپلې شتمنۍ په جهاد کښې لګوي، د دې لپاره تجارت کوي، ترڅو خپل مالونه په جهاد کښې خرڅ کړي، د دې لپاره د مجاهدینو مرسته کوي ترڅو د دین دښمنان ورباندې وځپې او هلاک کړي، د دې لپاره مزدوري کوي، ترڅو د مجاهدینو مرسته وکړي او خپل مال د جهاد په مقدسه لاره کښې مصرف کړي؛ نن ورځ چې څوک له مجاهدینو سره هر ډول

مرسته او نصرت کوي، دا ډېر لوی کار او د دين خدمت دی، نن ورځ کفار کوښښ کوي چې په اسلامي نړۍ کښې د جـهاد نوم ختم کړي، د خلکو له فکرونو څخه د جـهاد نظريه بدله کړي، د دنيا پرستۍ او حب دنيا نظريه خلکو ته ورکړي، چې په دې کښې کفارو متعدد کارونه ترسره کړي او تر ډېرې اندازې يې خپل اهداف ترلاسه کړي هم دي، مسلمانان يې د جـهاد له دندې څخه غافل او ځينې يې د جـهاد په مقابل کښې درولي، نن ورځ په اسلامي اُمـت کښې بې شمېره علماء او شيخان د دې لپاره کار کوي، تر څو د جـهاد نظريه ختمه کړي او جـهاد په اُمـت کښې يو تشدد معرفي کړي، کوم څوک چې جهاد کوي هغه متشدد ټولنې ته معرفي کړي، نن ورځ کفار څه چې د مسلمانانو سرلاري کوښښ کوي چې جـهاد وځپي، نو په داسې حالاتو کښې بيا هم د الله تعالی د رضا او د دين د اقامې لپاره چې کوم څوک جـهاد کوي، دا ډېر لوی کار دی او دا بلکل له پوره ايمان او يقين سره تړاو لري، په اسلامي اُمـت کښې پرته له مجاهدينو څخه نور څوک د لوړې درجې او مقام خاوندان نه وينم او نه به هم وي؛ مونږ مکلف يو ترڅو د الله تعالی د دين خدمت وکړو، د الله تعالی د دين له خادمانو سره په ځان، مال او ژبه سره پوره مرسته او همکاري وکړو، ترڅو نن ورځ په هغه کسانو کښې راشو چې د الله تعالی دين ته وفادار او د الله تعالی په دين فدايان وي، په آخر کښې بيا وايم چې

خپل مالونه په جهاد کښې مصرف کړئ او د دې لارې مجاهدین په خپلو مالونو ونازوئ، ترڅو مو الله تعالی په جهادي عظیمه فریضه کښې برخه وکړي او له عذاب څخه مو لیرې کړي.

۲. جهاد په نفس سره: په دې جهاد کښې به عملي د کفارو په مقابل کښې قتال کوې، مخامخ به یې د وژلو، بندي کولو او جزیې اخیستلو لپاره جنګېږې، خپل ځومره قوت چې لرې، هغه به په کار اچوې او کمزوري به نه کوې، عملي به د جګړې صحنې ته داخلیږې او د الله تعالی د دښمنانو مقابله به کوې، اصلي جهاد همدا دی او نور ډولونه د جهاد په همدې محور راڅرخي، نو ځکه تر ټولو بهترین جهاد همدا دی چې عملي جګړه وکړې او له دښمن سره مخامخ شې؛ نن ورځ دې جهاد ته خلکو د لیونتوب نوم ورکړی، ځکه نن ورځ ټول مسلمانان له دنیا سره آشنا شوي او دنیا یې خپل اصلي کور ګڼلی، ټولې هڅې یې د دنیا لپاره دي، نو کوم څوک چې په نن عصر کښې د جهاد لاره نیسي، د دښمن مخامخ جګړې ته وردانګي او خړ سنګرونه په یخ او ګرمۍ کښې ساتي، خپل کورونه، اولادونه او ښځې پرېږدي، نو خلک فکر کوي چې دوی لېونیان دي، خو د دوی فکر او تصور غلط دی، د دوی خواهشاتو او حُب الدنیا له دوی څخه سم تصور او فکر اخیستی، د دوی د حق لیدلو سترګې ړندې شوې دي، دا مجاهدین چې نن ورځ

په سنګرونو کښې پراته دي، د سنګرونو یخ او ګرمۍ، لوږې او تندې، زخمونه او شهادتونه، بند او تعذیبونه په ځان تېروي؛ دوی د جـهـاد په مقصد پوه شوي، د دوی سره د الله تعالی محبت انتها درجې ته رسېدلی، دوی ته د خپل دین ارزښت تر خپل ځان زیات دی، د دوی اړیکه د عرش له مالک سره ده، دوی دنیا ته ارزښت نه ورکوي، د دوی سره د جنت او حورو فکر دی، دوی د عقبا غم اخیستي دي، دوی د الله تعالی د لارې خلک دي؛ نو د مجاهدینو او دنیا پرستانو فکر ډېر سره جلا دی، دنیا پرستان د دنیا له زاویې څخه خپل نظر څرګندوي او فکر کوي؛ خو دین پرستان د دین له زاویې څخه نظر څرګندوي او فکر کوي، ځکه خو د دنیا پرستانو په فکر مجاهدین لېونیان ښکاري؛ نو په هر حساب، نن ورځ د الله تعالی د مینې لونیان جـهـاد کوي، نن ورځ چې د اُمـت درد څوک محسوسوي، نو د جـهـاد لاره انتخابوي؛ نن ورځ غیرتي خلک د جـهـاد لاره اختیاروي، د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) او تابعینو رحمهم الله په وخت کښې ټولو مسلمانانو جـهـاد کولو او ټول غیرتي وو، په نن زمانه کښې ډېر کم خلک جـهـاد کوي نو په همدې اساس، په نن زمانه کښې همدا کم خلک غیرتي دي؛ نو په همدې اساس نن ورځ جـهـاد ته تیار شئ، جـهـاد وکړئ، مظلوم اُمـت راپورته کړئ، د کفارو دبدبه وړنګه کړئ، ترڅو مو الله تعالی غاړې خلاصې کړي او په منافقینو کښې مو حساب نه کړي.

۳. جـهـاد په ژبه (په قلم، دعوت او تبلیغ سره): د جـهـاد لپاره د خلکو او ځوانانو ترغیب او تشویق کول، د جـهـاد فضایل بیانول، د حالاتو سره موافق د جـهـاد حکم ورکول، د جـهـاد پر وړاندې د کفارو شبهاتو ته مدلل جوابونه ورکول، د چا په خلاف چې جهاد کېږي هغه ځرګندول، د مجاهد صفات بیانول، د جـهـاد لپاره اعداد او روزنه کول، هغه انعامونه چې الله تعالی یې مجاهدینو او شهیدانو ته ورکوي خلک پرې پوهول، د حق خبره په هر ځای کښې ښکاره کول، د کفر او شرک دښمني په ښکاره بیانول، د باطل مخالفت ځرګندول؛ کلامي او قلمي پوره مبارزه کول او له دې لارې د جـهـاد د عملي سنګر کار ګړندی کول او پیاوړی کول؛ دا ټوّل هغه جـهـاد دی چې مونږ یې د خپلې ژبې او قلم په واسطه ترسره کولای شو او مونږ مکلف یو چې د خپل توان په اندازه په دې برخه کښې هم کوښښ وکړو، چې دا د جـهـاد دریمه شعبه او برخه ده.

نن ورځ کفار ډېر کوښښ کوي چې د فکري یرغل له لارې پرته له جنګ او عملي مبارزې څخه مسلمانان له مقاومت څخه وغورځوي او په غلطه لاره یې روان کړي، که چېرې د کفارو د دې فکري یرغل په مقابل کښې زمونږ د قلم او کلام خاوندان په پوره ډوّل هڅه وکړي او مخه یې ونیسي، نو لرې نه ده چې کفار به د خپل هدف په ترلاسه کولو

کښېږي نامراده شي؛ نن ورځ کفارو د همدې لارې په اسلامي ټولنه يرغل کړی او په ميليونونو مسلمانان يې له جـهـاد او عملي مبارزې څخه غافل کړي او يا يې هم خپلې نظريې ته اړولي، نو په مونږ لازم ده چې دا دريم ډول جـهـاد هم په پوره مقاومت او قوت سره ترسره کړو، ترڅو په اسلامي اُمـت کښې يو ځل بيا د جـهـاد او قربانۍ ولولې راوپارېږي او اُمـت يو ځل بيا خپل د برم تاريخ ته وګرځي، ترڅو اسلامي اُمـت يو ځل بيا په نړۍ راج وچلوي. مونږ بايد ځوانان د جـهـاد او قربانۍ لپاره تيار کړو، مونږ بايد د ځوانانو په زړونو کښې د جـهـاد او قربانۍ مينه وکرو، مونږ بايد د حق دعوتګران له ځانونو څخه جوړ کړو، مونږ بايد داسې داعيان له ځانونو څخه جوړ کړو، چې په ډېر حکمت سره خلک د جـهـاد او قتال لپاره راوبولو او د جـهـاد تر سنګر پورې يې ورسوو؛ د جنګ لپاره خلک تيارول او ترغيب ورکول الهي امر دی چې خلک بايد جـهـاد ته ترغيب شي، الله تعالی فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلْمُؤْمِنِينَ عَلَى ٱلْقِتَالِ ۚ [سُوۡرَةُ الانفال : 65]

ژباړه: اې پيغمبره! (صلی الله عليه وسلم) مؤمنان (د کفارو په مقابل کې) جنګ ته وهڅوه.

دلته الله تعالی خپل رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته امر کوي چې ته مؤمنان جنګ ته وهڅوه او په جنګ يې ور چابک کړه، ترڅو د

كفارو سره سخته دښمني وکړي، نو هر دعوتګر ته په کار دا ده چې په ټولنه کښې د جهـاد لپاره خلک تشويق او وهڅوي، ترڅو خلک په دې دری ډؤله جهـاد کښې برخه واخلي.

نو مونږ بايد په دې دريو ډولونو جهـاد کښې غفلت ونه کړو او د خپل وس په اندازه هر ډؤل جهـاد ترسره کړو، ترڅو د اسلامي اُمـت په لوړوالي کښې مو برخه اخيستې وي، د الله تعالی دا عظيمه فريضه مو ترسره کړې وي او د الله تعالی په وړاندې مو غاړې خلاصې وي.

## ملي دری رنګه بيرغ او تاريخي سير

د اسلامي فتوحاتو د دريدو سبب!؟ د اروپا د استشراق پلان؟ په يوولسمه پېړی کښې د صليبيانو ماتې؟ د سيکولريزم نظريه؟ اسلامي نړی ته د دې نظريې انتقال؟ په اوولسمه او اتلسمه پېړی کښې د اروپا يرغل؟ په اسلامي نړی کښې خپل فکر خپرول؟ په اسلامي نړی کښې خپل اجېنټان قدرت ته رسول؟ د اروپايانو وتل له اسلامي نړی څخه؟ کوچني حکومتونه جوړول؟ مسلمانان په سرحداتو کښې تقسيم کول؟ امان الله خان د تاريخ په هنداره کښې؟ د افغانستان دری رنګه بيرغ چې د جمهوري نظام نمايندګي کوي؟ د دې ټولو د افغانستان او اسلامي اُمـت له سياسي حالت سره تړاؤ؟

پورته ټول موضوعات به له څه تفصیل سره ان شاء الله په دې وروسته ليکنه کښې درته وړاندې کړم.

د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په وخت کښې د جهاد اساس کېښودل شو او د عربي جزيرې څمکې د اسلامي حکومت برخې وګرځېدې، د مسلمانانو ټولی زيات شو، د راشدينو خلفاؤ رضی الله عنهم په دوره کښې د مسلمانانو د جهاد او مبارزې په نتيجه کښې اسلام د نړی په هره خوا خپور او په حرکت کښې شو، نور هم د پرمختګ او عروج په حال کښې وو، د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) د ايمان قوت ټوله کفري نړی لړزولې وه، ټوله کفري نړی په وېره کښې وه، د فارس او روم لويې امپراتورۍ له زوال سره مخ شوې وې، د راشدينو له خلافت څخه وروسته د امويانو په دور کښې د فتوحاتو لړۍ ګړندۍ روانه وه تر دې چې اروپا ته ورسېده، مسلمانان ډېر په چټکۍ سره مخ ته روان وو، د شرق له خوا د البانيا تر غرونو د مسلمانانو لښکرې ورسېدې او مسلمانانو خپل آسونه د البانيا په غرونو کښې څرول، د غرب له خوا اندلس فتحه شو؛ غرناطه اشبليه، قرطب، طليلطله او داسې نور مشهور ښارونه د موسی بن نصير رحمه الله او طارق ابن زياد رحمه الله د لښکرو تر قدمونو لاندې شول، کوم چې د شمالي افريقا څخه خوځېدلي وو، په داسې حال

کښېږ چې د مجاهدينو جذبې ځپاندې او تورې يې د دښمن لپاره تېرې وې، د افريقا د فتوحاتو قوماندان موسی ابن نصير رحمه الله او طارق ابن زياد رحمه الله، د فرانسې سرحدونو ته ورسېدل، د وخت خليفه ته يې خبر ورکړو چې مونږ به د فرانسې د فتحې لړۍ تر دمشق پورې تکميل کړو، تاسې اجازه راکړئ! اموي خليفه د خپلو درباريانو، چاپلوسانو او غوړمالانو، په لمسون نه تنها چې اجازه يې ورنکړه بلکې دمشق ته يې راغوښوتل او د خپلې وظيفې څخه يې برطرف کړل په داسې حال کښې چې په اروپا کښې د مسلمانانو لښکرې پرته له سرپرسته وې (دا يوه يادونه بايد وکړو چې د تاريخ په هر پړاو کښې د جګړې غښتلي قوماندانان او مبارزين د خپل خلافت يا حکومت له خوا ځپل شوي، دا يو ډېر تريخ حقيقت دی چې زمونږ د تاريخ په لمن کښې پروت دی، له الله تعالی څخه سوال کوو چې داسې حاکمان دې الله تعالی په مونږ نه مسلط کوي چې زمونږ د جـهـاد او قربانۍ موانع جوړېږي) کله چې د قدرت نيشه، د مال او پيسو محبت او دنيا دوستي په حاکمانو غالبه شي، بيا ټول وخت د هغه کارونو اقدام کوي چې د اُمـت په خير نه وي، صرف د خپلو خواهشاتو د ساتلو په خاطر فيصله کوي، دې درباريانو خليفه په دې ووېرولو چې ګواکې د دوی د فتوحاتو ساحه به پراخه شي او ستا د خلافت او قدرت لپاره به خطر جوړ شي، په هر حال تاريخ پوهان ليکي که چېرې د مسلمانانو د فتوحاتو مخه

خلیفه نه وای نیولې نو اروپا به یې ټوله فتحه کړې وه، دا نن چې په اسلامي اُمـت کوم درد او تکلیف تېرېږي، یو سبب یې همدا دی چې اروپا په هغه وخت کښې فتحه نه شوه، چې بیا یې د تاریخ په اوږدو کښې په اسلامي نړۍ څو واره یرغل کړی، چې په هر وار یرغل سره یې د اسلامي اُمـت روح وژلی او مړاوی کړی دی، همدا اروپا وه چې د اسلامي نړۍ په خلاف یې اوږده فکري پلانونه تطبیق کړل او په اسلامي نړۍ کښې یې د حقیقي اسلام او قوي ایمان سطحه ډېره راکمه کړه.

خپلې مقصودي موضوع ته راګرځم، اروپا چې کله خپله چاره په اوبو کښې لیدله د مسلمانانو پرمختګ او د فتوحاتو لړۍ یې لیدله، نو وویرېدل، هغه د نظر او فکر خاوندان او سیاست مداران یې راټول شول او د مسلمانانو په خلاف یې پلانونه جوړ کړل، چې څنګه د مسلمانانو مخه ونیسو او مسلمانانو ته ماتې ورکړو، په داسې حال کښې چې مسلمانان د پوره پرمختګ په حال کښې دي؟ نو د دې کار لپاره یې بېلابېل پلانونه طرحه کړل چې په هغه کښې یو پلان د استشراق (شرق پېژندنه) وو چې د استشراق د مدرسې اساس له همدې ځای څخه پیل شو او غوښتل یې چې په مسلمانانو کښې فکري کار وکړي، له خپل دین، فرهنګ او رواج څخه یې منحرف کړي،

د جهاد تصور بدل کړي، په خپل دين کښې شبهې ورته پيدا کړي، د همدې پلان د تطبيق لپاره يې خپل اهل ذکاوت، د فکر او ذهن خاوندان راټول کړل او شرق ته يې راوليګل ترڅو اسلامي علوم، فرهنګ او ژوند زده کړي، اروپا ته يې نقل کړي، همدا خلک چې کله په اسلامي علومو کښې پوره ماهرين شول، د ليکلو استعداد يې پيدا کړو، په مسلمانانو کښې يې د جعلي او غلط اسلامي فکر په خپرولو پيل وکړو؛ چې د دې کار څخه يې اساسي هدف د مسلمانانو څخه د جهاد او فتوحاتو تصور ختمول او مسلمانان په خپل منځ کښې په جګړو او اختلافاتو کښې اچول وو، ترڅو د کفارو سره دښمنۍ او جهاد ته خلاص نه شي، يوه فکري حربه او شبهه چې له اروپا څخه رانقل شوې هغه دا ده چې (دين په سياست کښې کار نه لري، دين بايد آخرت ته کار وکړي، دنيا او د دنيا په سياست کښې دې کار نه لري) چې دا نسخه هم مخکې اروپا تجربه کړې وه، په اروپا کښې خلک د پاپانو او کليساوو له زور او زياتي څخه ډېر تکليف شوي وو، پاپانو له خلکو سره د مذهب په نامه ډېر ظلمونه کړي وو، خپلو شخصي غرائضو ته يې د مذهب نوم ورکړی وو، د ټولنې د پرمختګ مخه يې نيولې وه چا به چې کوم ابتکار، اخترا او پرمختګ وکړو په هغه به يې د ګمراهۍ او له دين څخه د وتلي ټاپه ووهله او زنداني به يې کړو، په دې اساس يې په نړۍ کښې مذهب يو بد او د پرمختګه خلاف شی

معرفي کړو، چې نن ورځ هم په غرب کښې د اسلام په خلاف همدا فکر د نشر په حال کښې دی په، داسې حال کښې چې اسلام د شریعت په چوکاټ کښې د پرمختګ پوره اجازه ورکوي، حتی د پرمتګ لپاره مسلمانان امر کوي، د کلیساوو دا ظلمونه دومره ډېر شول، تر دې چې خلک د پاپانو په خلاف ودرېدل، بلاخره د پاپانو او پاچاهانو تر منځ زیاتې جګړې وشوې، آخر د دې جګړو په نتیجه کښې د پاچاهانو او پاپانو تر منځ صلحه وشوه چې سیاست او د دنیا کارونه دې د پاچاهانو کار وي، دین، د دین او کلیسا اړوند کارونه دې د پاپانو کار وي او یو د بل په امورو کښې به مداخله نه کوي، په همدې نتیجه کښې په اروپا کښې امن راغلو، وروسته د دوی لیکوالانو دا نظریه چې دین دې په دنیا او نظام کښې کار نه لري، په کتابونو کښې ولیکله، د فلسفې رنګ یې ورکړو، تر دې چې یو فکري مکتب ورڅخه جوړ شو او ډېر پیروان یې پیدا کړل.

اروپایانو غوښتل چې اسلامي نړۍ هم همداسې دوې ټوټې کړي او هغه د دین روح او قوت له اسلامي ټولنې څخه لیرې کړي، نو دې فکر ته یې کار پیل کړو چې دین او د دین اړوند امور دې ملایان کوي او سیاست دې پاچاهان کوي؛ چې د دې څخه یې یو بېل فکري مکتب او نظریه جوړه کړه، چې هغې ته (سیکولریزم) وایي، مونږ ورته لادینت

وایو؛ وروسته یې د سیاست او د پاچاهانو د کارونو لپاره د جمهوریت په شان بېلابېل نظامونه جوړ کړل چې د ډیموکراسۍ په اساس ولاړ وو، دوی د دې په اساس غوښتل چې پاچا او مشر دې د دین په اصولو نه بلکې د خلکو په خوښه او اصولو وټاکل شي جمهوریت د همدې سیاسي پاچا د ټاکلو لاره ده چې د ډیموکراسۍ په اصولو کېږي، د ډیموکراسۍ ټول موارد په دې یوه اساس ولاړ دي چې د خلکو اکثریت ته به اعتبار ورکول کېږي، یعنې که د یو ملک اکثریت خلک د زنا یا لواطت په جواز رایه ورکړي نو زنا یا لواطت به قانوني جواز لري، یعنې ډیموکراسي ټول قانوني امور د خلکو په اکثریت فیصله کوي.

چې خپله اصلي موضوع راڅخه پاتې نشي، زه په تاریخ کښې یو ځل شاته ځم تر څو په موضوع پوه شو. کله چې په یوولسمه او دوولسمه پېړۍ کښې اروپایانو په اسلامي نړۍ په خاص ډول په منځني ختیځ کښې ماتې وخوړه بیت المقدس آزاد شو، مسلمانان د خپل ایمان او قوي عزم په اساس بریالي شول، خو اروپایان کرار پاتې نه شول، د مسلمانانو په خلاف یې فکري کارونو ته دوام ورکړو، تر اولسمې پېړۍ پورې یې په اسلامي نړۍ کښې پوره فکري کار وکړو، په دې موده کښې یې هغه خپله فکري نظریه پوره اسلامي نړۍ ته رانقل کړې وه، په اسلامي نړۍ کښې یې خپل روحاني زامن زېږولي وو، د اسلامي

ټولنې ټول اړخونه ورته څرګند شوي وو، عثماني خلافت د رکود سره مخ وو، قومي او خپل منځي مشکلات او شخړې اوج ته رسېدلې وې، په همدې وخت کښې اروپا او غرب په اسلامي نړۍ عام یرغل راوړو، د اسلامي نړۍ په مختلفو خواوو یې مختلفې لښکرې په یوه پلان او هدف راوکوچېدې، په برصغیر باندې انګلستان حمله وکړه، د هندوستان له نیولو څخه وروسته افغانستان ته راغلل، فرانسویان شام او لبنان ته داخل شول، عراق ته انګرېزان داخل شول، شمالي افریقا ته فرانسویان او ایټالویان ننوتل، په دې یرغل کښې اسلامي نړۍ ټوله د صلیبیانو مستعمره شوه پرته له افغانستان او جزیرة العرب چې دوی ورسره جـهـاد او مقاومت وکړو او دوی ونه توانیدل چې دلته پاتې شي او استعمار وکړي؛ دوی په اسلامي نړۍ کښې دوې پېړۍ پاتې شول چې په دې دوه پېړیو کښې دوی په اسلامي نړۍ کښې ډېر فکري کارونه وکړل او د مسلمانانو د فکري انحراف لپاره یې هر اړخیزه پلانونه تطبیق کړل؛ چې دلته یې زیات تفصیل ته اوس اړتیا نشته ترڅو لیکنه راڅخه اوږده نشي، خو دا څو یې د یادونې وړ دي او زما د دې دومره لیکنې هدف هم همدا وو، دوی د خپل ځان لپاره مختلف اجنټان پیدا کړل ترڅو د انګرېزانو اهداف ترسره کړي او د دوی نظریات تطبیق کړي، اروپایانو نشوای کولای چې په اسلامي نړۍ کښې دومره زیات پوځونه اکمال کړي، په مقابل کښې یې

مسلمانانو پاخون او جـهـاد هم اعلان کړو، د مسلمانانو شتمنی یې ورسره یوړې او د اقتصادي مشکلاتو له وجې یې غوښتل چې په اسلامي نړی کښې داسې حکومتونه جوړ کړي چې د اروپایانو پلانونو ته پرمختګ ورکړي او دوی ته ژمن وي، د ملایانو په جامه کښې یې زیات پلویان پیدا کړل ترڅو د دوی په خلاف د جـهـاد څخه خلک منعه کړي او خلکو ته ووایي چې د اروپایانو په خلاف جـهـاد ناروا دی، ځکه چې دوی وطن آبادوي، د دې علماؤ له جملې څخه یو غلام محمد قادیاني وو، په لمړي وخت کښې یې د پیر په نامه ځان مشهور کړو، له هغې څخه وروسته یې د پیغمبری دعوه وکړه او دا خبره یې کوله (زه پیغمبر یم زما په دین کښې وینې تویول او جـهـاد نور نشته، انګرېزان زمونږ دوستان دي او زمونږ ملکونه راته جوړوي) بدبختانه چې د امریکایي (غربي) اشغال په دور کښې هم د همدې قادیاني غلام محمد لاره ډېرو غلامو علماؤ تعقیب کړه او د امریکایي پوځیانو د اشغال د جواز لپاره یې بېلابېل دلایل تراشل، ویل به یې چې امریکایان زمونږ وطن آبادوي، امریکایانو ته پاچا امن ورکړی، عجیبه دا وه چې هغوی یې په کورونو چاپې وهلې او دوی به ویل چې مونږ امن ورکړئ، هغوی به یې په ښځو لوبې کولې دوی به ویل چې وطن راته آبادوي، هغوی په زندان کښې اچول دوی به ویل چې د ملک امنیت ساتي!

موضوع ته راګرځم، همدارنګه له کوم اسلامي ملک څخه به چې کله اروپایان وتل په هغه ځای کښې به یې قدرت هغه غلامانو ته سپارلو چې دوی ته به زیات وفاداره وو او د دوی تګلاره به یې په خوند او خوشحالی سره تعقیبوله چې په هغه کښې یو امان الله خان د افغانستان حاکم هم شامل وو، کله چې انګېزانو له افغانستان څخه خپلې لښکرې ایستلې همدا امان الله خان چې انګرېزانو ته زیات وفاداره وو د واک په ګدی یې کېنولو او دوی ووتل، وروسته یې همدې امان الله خان ته د ازادی د اتل نوم ورکړو او په ټولنه کښې یې مشهور کړو چې اوس هم د تاریخ څخه ناخبره زیات خلک ورته د اتل او غازي په نامه قائل دي، اوس هم زیات له تاریخ څخه ناخبره مشران قبر ته ورځي او هلته آزادي لمانځي؛ واک ته له رسیدو وروسته دې امان الله خان اروپا ته سفر وکړو، له شپږ میاشتنې سفر څخه چې کله راستون شو دلته یې د اروپا نوی فرهنګ او قانون راوړو او غوښتل یې د اسلامي فرهنګ په ځای غربي فرهنګ تطبیق کړي چې خپلې پالیسی ته یې د چټکو اصلاحاتو نوم ورکړو او په ټولنه کښې یې د اروپایي فرهنګ مطابق تغیرات راوستل پیل کړل، چې له هغې څخه یې د څو یادونه کوو:

۱. د دیوبند په علماء بندیز دی هېڅ ځای به خبره نه کوي او نه به کومه حکومتي دنده ترسره کوي.

۲. حکومت به له عالمانو څخه خالي وي، په پارلمان کښې باید عالم نه وي.

۳. هېڅوک حق نه لري چې د دوو ښځو سره نکاح وکړي.

۴. پړونی او د افغاني کلتور مطابق لباس به څوک نه اغوندي، درېشي باید واغوستل شي، په دې اساس یې دومره سختي کوله چې په کوڅو کښې به عسکر ولاړ وو د کومې ښځې به چې چادري په سر وه ورڅخه ایستل کېده.

۵. په حکومتي دنده کښې د ږیرې پرېښودل بند دي. هغه څوک چې حکومتي رسمي وظیفه لري باید ږیره وخریي.

۶. په دارالامان کښې یې د ښځو د رقص لپاره خاص ځای جوړ کړی وو چې هلته به یې ښځې ګډولې.

۶. د اروپایي لباس لازم کول، چې لمړی یې خپله ښځه په هغه شکل جوړه کړه او تصویران یې خپاره کړل، نن ورځ هم په نیټ کښې شته، د (ملکې ثریا) په نوم یې پیدا کولای شی چې د بدن زیاته برخه یې لوڅه ده، دا د دې لپاره ترڅو نور خلک هم زده‌کړه ورڅخه وکړي.

نور هم داسې زيات کارونه يې وکړل چې د افغاني ټولنې د غمبرګون سبب وګرځېدل، خو دلته يې همدا ثو کفايت کوي چې خلک پرې پوه شي او امان الله خان ته د غازي لقب ورنکړي، د امان الله خان په اړه همدا خبره صحيح او د تاريخي حقايقو څخه ثرګنده ده چې د انګرېزانو يو اجينټ (د لاس آله) وو او په افغانستان کښې يې له شهرت څخه تر واک پورې ورسولو چې وروسته د اروپايانو په رايو او نقش قدم روان وو.

دا اوس چې درې رنګه بيرغ دی دا د هغه امان الله خان ايجاد وو، چې د سيکلور نظام نمايندګي يې کوله، دا بيرغ کوم د احترام حيثيت نه لري او نه هم داسې په سپېڅلي ياد انتخاب شوی، دا بيرغ د اروپايانو له خوا د امان الله خان د حکومت لپاره د يو نشان په ډول انتخاب شوی؛ اروپايان چې له کوم ملک څخه وتل هلته يې خپل لاس پوځي حکومتونه جوړول چې په هغه کښې يې د مسلمانانو قومونه محدود کړل او خپل لاس پوځي غلامان يې ورباندې حاکمان کړل، په ډېر تاسف سره به ووايو چې انګرېزانو کوم سرحدات او هېوادونه په هغه وخت کښې ايجاد کړي، اوس هم هغه سرحدات او هېوادونه دي، چې يو له بل سره همکاري او اخوّت سياسي مداخله بلل کيږي، اسلامي حکومتونو ته په کار ده چې د اروپا ايجاد کړي سرحدونه مات اؤ له

منځه يوسي، ترڅو د اروپايانو دا درې سوه کلنې هڅې او کوښښونه اوبه يوسي او له خاورو سره خاورې شي؛ د سايکس پيکو پټ تړون چې د برتانيې او فرانسې ترمنځ د دوهمې نړيوالې جګړې پرمهال وشو، د عثماني خلافت د سيمو د ويش لپاره يې پلانونه پکښې جوړ کړي وو، اسلامي نړۍ يې په خپل منځ کښې سره تقسيم کړه چې په لبنان، ترکيه او سوريه کښې فرانسې نفوذ وکړو، همدا رنګه په عراق، فلسطين او اردن کښې کې برتانوي نفوذ پيل شو، د منځني ختيځ د نن ورځې خپل منځي جنګونه د همدې تړون پايله ده، چې مسلمانان يې په زياتو برخو تقسيم کړي، له دې حالاتو څخه څرګندېږي چې کفارو په تدريجي او دوامداره ډول د اسلامي اُمـت په خلاف زيات او مؤثر ګامونه پورته کړي، چې اسلامي اُمـت اوس هم د هغه زخمونه او دردونه محسوسوي.

همدا امان الله چې اروپايانو يو ځل د مسلمانانو په منځ کښې مشهور کړو ورپسې چې دوی ووتل ملي اتل، غازي او حاکم يې معرفي کړو، له څه ځنډ پرته يې د امان الله خان حکومت په رسميت وپېژندلو، وروسته د اروپا له سفر څخه يې خپله اصلي بڼه ظاهر کړه، د اروپايي سيستم او فرهنګ موافق يې دلته اروپايانو ته عملي ګامونه پورته کړل، د دوی دا سخت او کفري فرهنګ افغانانو ته چې يو غيرتي قوم

دی د زغملو وړ نه وو، نو یې په مقابل کښې جـهاد پیل کړو او بالاخره یې امان الله خان له افغانستان څخه وتلو ته اړ کړو.

اروپایان په هر یرغل کښې خپل پخواني پلانونه رامخته کوي او تطبیق کوي یې، کله چې امریکا د صلیبي جنګونو په پار یو ځل بیا اروپایي هېوادونه ورسره راټول کړل او په افغانستان باندې یې یرغل راوړو نو هغه د امان الله خان یاد یې د کرزي په جامه کښې بیا راژوندی کړو او هغه د امان الله خان په وخت کښې چې د افغانستان لپاره کوم بیرغ ټاکل شوی وو یو ځل بیا راپورته کړو او د هغسې نظام په سر یې ورپولو چې دوی په خپله خوښه په افغانستان کښې جوړ کړی وو، دا بیرغ د غلامۍ علامه ده، کوم وخت چې په افغانستان کښې غلامان اقتدار ته رسېږي په هغه وخت کښې به همدا بیرغ پورته کوي، سور بیرغ د کمونیزم نمایندګي کوي، زرغون بیرغ د سیکولریزم نمایندګي کوي، سپین کلیمه‌دار بیرغ د اسلام او جـهاد نمایندګي کوي، چې الحمدلله اوس په افغانستان رپاند دی، مونږ هیله لرو چې په نړۍ به هم ژر رپاند شي، ان شاء الله.

البته بخښنه کوئ، زه له موضوع څخه بلې خواته شوم، موضوع ته راځو: اروپا هغه وخت په ټوله اسلامي نړۍ یرغل کړی وو، دا ځل د اسلامي نړۍ د اسلامیت رنګ په زیاتو ځایونو کښې ختم شوی او پیکه

شوی وو، په زیاتو هېوادونو کښې د اروپا نظامونه فعال وو او دوی کوم خطر نه ورڅخه لیدلو، په همدې خاطر یې د امریکې په رهبری کښې یوازې په افغانستان یرغل وکړو، ځکه چې دلته د طالبانو حکومت قایم وو، د شریعت سره موافق نظام وو، حدود ترسره کېدل، د جهاد درس او تربیت ورکول کېدو، نو دوی هم یوازې له همدې ځایونو څخه خطر محسوس کړو او په یو ځل یې په افغانستان یرغل وکړو، ترڅو له دې ځای څخه هم د اسلام او جهاد فکر ختم کړي، داسې نظام پکښې راولي ترڅو غربي سیستم د خپل ژوند لپاره اختیار کړي، له اروپا او ټول غرب سره دوستانه اړیکې ولري، هغه وو چې د طالبانو یو اسلامي حکومت یې وران کړو او د خپلو غلامانو لپاره یې یو غلام حکومت جوړ کړو، هغه د امان الله خان د یاد بیرغ چې تر سیوره لاندې یې په هغه وخت کښې اروپایانو ته زیات خدمتونه کړي وو، د اروپایانو په لارښوونو روان وو، راپورته یې کړو او یو ځل یې بیا د همدې نظام په سر ورپولو، چې د افغانستان مېړني قومونه د خپل فطرت او طبیعت له مخې په مېړانه بیا هم د دې لوی صلیبي یرغل په مقابل کښې ودرېدل او د جهاد سنګرونه یې بیا راتازه کړل؛ په سر او مال سره یې د ناټو په مقابل کښې جهاد وکړو او یو ځل یې بیا غربیان له ماتې سره مخ کړل او هغه لاس پوڅي نظام یې د اشرف غني په سرمشری کښې ماتې وخوړه او د هغه امان الله خان له

برخليک سره مخ شو، هغه د غلامۍ سمبول (زرغون بيرغ) بيا د افغانستان له غرونو او ارګ دروازې څخه ښکته شو، بيا دې الله تعالى هغه شېبې نه راويني چې اروپايان يا غربيان زمونږ په ملک کښې نظامي، سياسي او فکري حضور ولري، بيا دې زرغون د غلامۍ بيرغ الله تعالى رپاند نه راويني بلکې دا ځل دې الله تعالى مونږ ته قوت او توفيق راکړي چې د دوی ملکونو ته د موسى بن نصير رحمه الله په شان فاتحانه ننوځو، يو ځل بيا اروپا ولړزوو او خپل سپين، کليمه‌دار بيرغ په سپينه ماڼۍ ورپوو. وما توفيق الا باالله.

## ايمان مو قوي کړئ

مونږ له کفارو سره جګړه په ايماني قوّت کولای شو، زمونږ بريا او د کفارو ذلت زمونږ د ايمان په قوّت راځي، ايمان د برياليتوب او انساني عزت سبب ګرځي چې له نورو انسانانو څخه ايمان واله خلک بېلوي؛ نو په همدې اساس راځئ خپل ايمانونه مو له کفارو سره په دښمنۍ کښې قوي کړئ، د کفارو سره دښمني د ايمان يوه برخه تشکيلوي، نو که غواړئ چې ايمانونو ته قوت ورکړئ د کفارو مرۍ وربانديې پرې کړئ، په همدې سره به مو له زړه څخه د ايمان کمزوري ختمه شي، د کفارو ظلمونه در په ياد کړئ او انتقام ورڅخه واخلئ، ترڅو مو احساسات او جذبې څپاندې شي، ترڅو مو په سترګو کښې سوروالی

او هیبت پیدا شي، کفار وژنه مو خپله دنده او وظیفه وګرځوئ، د الله تعالی له عبادت څخه هېڅکله مه غافله کېږئ، ایمان په سختیو، لوږو، تندو او قربانیو سره قوي کېږي، کله چې انسان هوسا شي او خواهشات له هرې خوا ورڅخه چاپېره شي، په همداسې حالت کښې ایمان کمزوری کېږي، چې بیا انسان د قربانۍ او جـهـاد لاره پرېږدي، د قربانۍ لاره ځکه پرېږدي ترڅو یې هغه خپل خواهشات او هوساینې له لاسه ورنکړي.

## مرګ حتمي دی

یوه ورځ به خامخا له مرګ سره مخ کېږې، د مرګ فرښتې ستا د روح اخیستلو ته شېبې شماري، هغه ورځ خامخا راتلونکې ده چې ته به مرګ ته غاړه ورکوې او له دې فاني دنیا څخه به ابدي دنیا ته ستنېږې، له مرګ څخه خلاصون نشته، مرګ یو الهي استازی دی چې خلک له دنیا څخه د آخرت په لور سوق کوي؛ خو مرګ هم توپیر لري.

ځینې خلک په سنګرونو کښې د دین په خدمت کښې د کفارو له خوا په سرو وینو رنګ شي، د شهادت په منار تر هسکو آسمانونو پورې په هسکه غاړه پورته شي، چې خپل رب جل جلاله ورڅخه راضي وي او خپله هم له خپل عاقبت څخه راضي وي.

ځينې خلک په ډېر سپينږيريوالي کښې په داسې حال کښې مرګ ته لبيک وايي چې خپله هم نور ژوند ته ارزښت نه ورکوي، خپل ځان ورباندې تاوان وي، له ژوند څخه ستړی شوی وي، دردونه يې خوب ته نه پرېږدي، د ژوند ټول ضروريات يې د کورنۍ نور غړي ورپوره کوي، د کورنۍ غړي ورسره تکليف هم وي، څوک يې د ژوند او مرګ په اړه هېڅ انديښنه هم نه کوي آرزو يې وي چې الله تعالی نور رحم پرې کړی وای.

ځينې خلک په داسې حال کښې له مرګ سره يو ځای کېږي، چې د ګناهونو امبار يې نوره ملا ماته کړې وي، د الله تعالی د ټولو اوامرو څخه غافل وي، د آخرت لپاره هېڅ توښه نه لري، د قبر او برزخ عذاب يې انتظار کوي او الله تعالی هم ورڅخه ناراضه وي.

ځينې خلک په داسې حال کښې له مرګ سره يو ځای کېږي چې د مرګ هېڅ فکر نه کوي، د راتلونکي ژوند لپاره يې لويه د خيالونو دنيا جوړه کړې وي، د ځوانۍ په درشل يې قدم ايښی وي، خو له خپل راتلونکي څخه خبر نه وي يو دم يې مرګ په خپله غېږ کښې واخلي او د آخرت ژوند ته يې انتقال کړي.

په دنيا کښې د امتحان لپاره انسانانو ته موقع په لاس ورکړل شوې ده، سوالونه او جوابونه يې ټول د انسان په لاس کښې دي، صرف

چې له ځوابونو څخه استفاده وکړي او د امتحان په پارچه کښې يې وليکي، ترڅو له مرګ څخه وروسته د خپل امتحان د پارچې په اساس بريا ترلاسه کړي.

انسان چې څنګه مړ شي، د امتحان مرحله يې ختمه شي، وروسته صرف د نتيجې ايستلو لپاره د برزخ او محشر دوه لوی پړاوونه ترسره کېږي، له هغې څخه وروسته به خپلې نتيجې ته رسېږي، چې هغه به يا جنت وي او يا به د دوزخ سخت عذابونه؛ چې بيا نه پای مومي او نه هم د کوم تغير احتمال شته.

خبره مې دا کوله چې مونږ ته په دنيا کښې ډېر کم عمر راکړل شوی، د دې عمر هره لحظه او ثانيه، زمونږ د امتحان د يو سؤال حيثيت لري، نو خوښه زمونږ ده چې څنګه ځواب ورکړو صحيح يې کړو او که غلط؟ د صحيح ځواب سره به د جنت خواته نيردې کېږو او د غلط ځواب سره به د جهنم خواته نيردې کېږو.

ما پورته وويل چې له مرګ څخه خلاصون نشته يوه ورځ به خامخا مرو، په دې خبره ټول انسانان اقرار کوي له مرګ څخه هېڅوک انکار نشي کولای، نو راځئ چې د خپل ځان لپاره داسې مرګ انتخاب کړو چې د امتحان نتيجه مو مثبته راشي، ترڅو د برزخ ژوند هم راته په خير

کړي، د محشر لوی پړوانه هم په خیر راباندې تېر شي او بریالي تر جنت پورې ځانونه ورسوو.

که چېرې بریالیتوب ترلاسه کړو په جنت کښې به له رسولانو علیهم السلام سره یو ځای وو، د صحابه کرامو رضی الله عنه سره به مجلس کوو، د نیکانو سره به په جنت کښې ګرځو، هلته به په جنت کښې بیا ټول نیک خلک وي، داسې به نه وي لکه د دې دنیا خلک چې ښه او بد یې نه پېژندل کېږي، اهل جنت به پاک او سپیڅلي خلک وي.

نو په همدې اساس راځئ چې یو ښه مرګ د خپل ځان لپاره انتخاب کړو، تر څو مو په لوړ سر له خپل رب جل جلاله سره ملاقي کړي؛ زه خو غواړم چې په دې دنیا کښې الله تعالی داسې مرګ راکړي چې بدن مې د دښمن له خوا په ګولیو غلبیل شوی وي، په مخامخ جګړه کښې د دین له دښمنانو سره په داسې حال کښې مرګ راته راشي چې د جنت حورې مې شاوخوا راته ګرځي او جنتي خواږه شراب مې خولې ته د ځانکدن په حالت کښې راتویوي، زه د خپل حبیب په عشق کښې غرق وم او د ځانکدن سلګۍ مې د توحید کلیمې زمزمه کوي.

داسې مرګ خوند کوي چې له مرګ څخه وروسته د جنت اهل راته خوشحاله شي، داسې مرګ خوند کوي چې په آسمانونو کښې خلک زمونږ دیدار او لقا ته انتظار کوي، داسې مرګ خوند کوي چې رب جل

جلاله راته ووايي ټولې د ژوند مرحلې دې په بریالیتوب ترسره کړې، څه اوس داسې جنت ته داخل شه چې اوږدوالی یې تر دنیا هم زیات دی او هر ډول خواهشات پکښې موجود دي، ورشه او خپل ژوند پکښې پیل کړه.

## د مدرسو حق څنګه ادا کېږي ؟

مدرسې د دین او جهاد مرکزونه دي، له مدرسو څخه باید د جهاد لپاره تشکیلونه وشي، د مدرسو څخه باید د کفري نظریاتو او فکرونو رد وشي، په مدرسو کښې باید د سیکلورېزم، الحاد او کفري نظامونو په خلاف تعلیم ورکړل شي، مدرسې باید حق او باطل واضح کړي، له مدرسو څخه باید د دین هره برخه تشریح شي او خلک پرې پوه شي؛ هغه مدرسې د نبوي رسالت نسبت څنګه ځان ته کوي چې حق ته حق او باطل ته باطل نشي ویلی؟

په کومو مدرسو کښې چې د جهاد درس، تعلیم او ترغیب نه ورکول کېږي، هغه مدرسې به اسلام ته څنګه خدمت وکړي؟ څنګه به د اُمت راپورته کړي؟ کومې مدرسې چې د سیکولر نظامونو تائید کوي او د هغه په غېږ کښې پرتې وي، له هغه مدرسو څخه به څنګه د خیر او جهاد توقع وشي؟ مدرسې د دین داسې مرکزونه دي چې د دین د

ساتنې او نشر کولو دواړو لپاره به مبارزه ورځخه کېږي، د باطل په وړاندې به د حق غږ پورته کوي؛ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په زمانه کښې مسجد او مدرسه یو ځای (مسجد نبوي) وو، له هغه ځای څخه د اسلام لښکرې د غزاؤ لپاره استول کېدې، له هغه ځای څخه د کفارو پاچاهانو ته د اسلام قبلولو پیغامونه او قاصدان استول کېدل، په مسجد نبوي کښې د کفارو د جرګو ایستلو پلانونه جوړېدل، په مسجد نبوي کښې د خلکو د ټولنیز ژوند اصلاح کېدله، خلک نیکو کارونو ته هڅول کېدل او له بدو کارونو څخه منعه فرمایل کېده، په مسجد نبوي کښې د دین هر اړخیز تعلیم ورکول کېدو، د اعداد لپاره صحابه کرامو (رضي الله عنهم) په مسجد نبوي کښې د غشو مسابقې کولې او تورې یې زده کولې؛ په هغه وخت کښې مربي او داعي یوازې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وو، خو د دین او دعوت پوره حق یې ترسره کړی وو، داسې صحابه کرام (رضي الله عنهم) یې روزلي وو چې د ټولې نړی کفار ورځخه په وېره کښې وو، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د حقیقي دعوت برکت وو چې په لسو کلونو کښې یې په ټوله عربي جزیره اسلامي حکومت حاکم کړو.

بل خوا په پاکستان کښې نن ورځ په لکهاوو علماء د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په میراث او ممبر ناست دي، خو دعوت یې دومره

اثر نه دی کړی چې یوازې په پاکستان کښې اسلامي نظام حاکم کړي، دا ځکه چې دوی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په نقش قدم روان نه دي، د حق لپاره د ځان او مال قربانۍ ته تیار نه دي، دوی په مدرسو کښې د خاصو جماعتونو جوړولو کوښښ کوي چې له جهاد سره هېڅ تړاو نه لري، بلکې دا جماعتونه بیا هم په همدې نظام کښې شریک دي، دوی د خپل ځان او خواهشاتو د ساتلو لپاره په پاکستان کښې یو کفري نظام ته باطل هم نشي ویلی، دوی د پاکستان فاسد او کفري نظام ته د مدرسو له لارې جواز ورکوي او خلک ورته دعوت کوي، که په تعداد شي پاکستان زیات شمېر مدرسې او علماء لري، خو دا چې د دین حق یې پوره نه دی ترسره کړی، دوی هم ذلیل او محکوم ژوند کوي، د پاکستان عام ولس یې هم په فتنه کښې ککړ کړی، زه وایم چې دا نن ورځ د پاکستان مدرسې د جهاد اعلان وکړي او د پاکستان د نظام په خلاف پاڅون وکړي، په لږ وخت کښې به د پاکستان جمهوریت سقوط کوي او د اسلام جنډه به پورته کېږي؛ خو دا چې په مدرسو کښې د جهاد تعلیم او ترغیب نه ورکول کېږي، نو ځکه یې اسلام ته خیر نه دی رسېدلی، بلکې نور هم د مجاهدینو په مخ کښې د خنډ په څېر رول لوبوي.

مدرسې باید جهـاد ته کار وکړي، ځکه چې جهـاد فرض عین عبادت دی، د مدرسو او دیني تعلیم مقصد، همدا دی چې خلکو ته د الله تعالی د عبادت په لور دعوت ورکړي او د دې عبادت طریقه ورته وښيي؛ نو زه وایم چې عبادات خو أول له فرضیاتو څخه پیل کېږي، لکه لمونځ، روژه، زکوة، حج اؤ جهاد؛ دا د اسلام لوی فرضونه دي، په دې کښې دا څلور ډېر پیروان لري ځکه چې د دې نه په دعوت کښې خطر شته نه په کولو کې، یوازینی جهـاد چې دعوت او ترسره کول یې خطر لري، نو ځکه یې دعوت هم زیاتره داعیان نه کوي او د ترسره کولو لپاره یې هم ډېر څوک نشته، ځکه چې نه ډېر دعوت ورته کېږي او نه یې ډېر څوک ترسره کوي؛ خو زه وایم د مدرسو خو همدا مسئولیت دی چې پوره دین خلکو ته تشریح کړي، که چېرې علماء او مدرسې د دې فریضې په اړه خپل مسئولیت نه ادا کوي، بیا دې مونږ ته واضح کړي چې که په دین کښې ځینې فرضونه ترک شي هم مشکل نشته، ترڅو مونږ په دې اړه تشویش نه کوو! البته داسې نه ده، د همدې علماؤ د فتواى مطابق د فریضې ترک کول، ګناه کبیره او فسق دی، د جهـاد فریضه پرېښؤدل اختیاري نه دي او نه څوک ځان ورڅخه خلاصولای شي، دا علماء به د الله تعالی په وړاندې د خپل ځان او هغه شاګردانو چې دوی یې د جهـاد څخه په لیرې نظریه روزي جواب ورکوي؛ که لږ فکر وشي رسول الله (صلی الله علیه وسلم

فرمايي: علماء د انبياؤ وارثان دي. د انبياؤ ميراث خو دين، دعوت او د هغه طريقه ده؛ اوس راځو مونږ د خپل رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سره د نن ورځې علماء مقايسه کوو، چې دوی د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ميراث په څومره اندازه ترسره کړی: رسول الله (صلى الله عليه وسلم) داعي وو، غزاؤ ته تلو مجاهد وو، حق يې څرګندولو، د دين په خاطر يې هر ډول تکليف او ستونزې تېرولې، دين يې پوره بيانولو، د هېڅ ملامت کوونکي له ملامتيا څخه يې وېره نه کوله؛ خو که د نن ورځې علماء په دې تله کښې واچوو ډېر کم تعداد به پيدا شي، چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په پوره طريقه روان او عمل کوونکي وي.

که علماء دا فکر کوي چې مونږ د حق او جـهـاد خبره وکړو له خطر سره مخ کېږو د ځان ساتل هم لازم دي، خو مونږ وايو چې ستاسو د خولې پټولو په خاطر چې د پاکستان يا ټولې اسلامي نړۍ مسلمانان په خطر کښې لويدلي، هره ورځ مسلمانان شهيدانېږي، عزتونه يې لوټ شول، په زندانونو کښې په زولنو تړلي په کلونو کلونو پراته دي، د دې خلکو خطر او مظلوميت ولې زغملی شئ؟ ستاسو د خولې د پټوالي په خاطر چې بې شمېره مسلمانان د کفر په لمن کښې پراته دي د هغې مسئوليت ولې نه احساسوئ؟ ستاسو د خولې پټوالي په

خاطر چې په میلیونونو مسلمانان د باطل په مقابل کښې نه درېږي د دې مسئولیت ستاسو په غاړه دی او که نه؟ تاسې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) میراث کوم شی ګڼئ؟

دا نن ورځ چې د کفري سیکلور نظامونو په لویه فتنه کښې بې شمېره خلک لویدلي او په اساس یې له اسلام څخه لیرې شوي، د هغې خلکو خطر ولې نه احساسوئ؟ دا چې تاسې نن په حق خولې پټې کړې دي په دې دنیا مو له خطر څخه ځان خلاص کړی، د آخرت د خطر په اړه ولې فکر نه کوئ؟ د آخرت خطر هم سخت دی او که نه؟

مونږ خپلو مسلمانانو ورونو ته وایو چې په کومو مدرسو کښې د جـهـاد خبره کېږي، د حق او باطل ترمنځ تمیز موجود وي، علماء یې له جـهـاد سره قوي تړاؤ ولري، نو د دین د زده کولو لپاره هلته داخلې وکړئ، ترڅو د علم له زده کولو سره قربانۍ هم زده کړئ، ترڅو د دین پوره علم ترلاسه کړئ، ترڅو د پوره دین لپاره دعوتګران درڅخه جوړ شي، ترڅو له فراغت څخه وروسته عملي له کفارو سره د جـهـاد سنګرونه ګرم کړئ؛ همدارنګه له هغه مدرسو او استاذانو څخه لیرې اوسئ، چې له جـهـاد سره تړاو نه لري، هغه مدرسې ته مه ځئ چې د کفري نظامونو تائید کوي، له هغه عالم څخه درس مه وایئ، چې جـهـاد خوند نه ورکوي او نه یې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم)

په ځبر د قربانۍ اراده وي؛ ځکه چې ستاسو هم خطره ده چې همداسې به شئ، ځکه د انسان فطرت همداسې دی چې په کوم ماحول کښې ژوند کوي د هغه ماحول خاصیت پکښې زیاتېږي، د کوم شخص سره یې چې تعلقات وي د هغه شخص خاصیتونه پکښې پیدا کېږي.

داسې علماء خوند کوي چې یو څه وخت د دین تعلیم وکړي، وروسته له خپلو مجاهدینو او شاګردانو سره یو ځای د جهـاد په سنګرونو کښې شپې ورځې سبا کوي، د جګړې په میدان کښې د خپلو مجاهدینو اصلاح کوي، خپلو شاګردانو ته د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) غزاوې بیانوي او د جهـاد لپاره یې نور هم تشویق کوي، داسې علماء مو د سترګو تور دي چې هم سنګر پالي او هم ممبر پالي، هم تعلیم کوي او هم عمل کوي، د کفارو په مقابل کښې هم فکري مبارزه کوي او هم نظامي؛ دا ځکه چې همدا د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نقش قدم دی چې هر عالم او رهبر باید قدم ورباندې واخلي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په سنت طریقه باید که مشر وي او که کشر عمل وکړي، خو هغه ځوک چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ځای او ممبر د مسلمانانو په رأس کښې قرار لري، باید هېڅ کله د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) طریقه پرېنږدي او نه غفلت

پکښې وکړي، څکه چې د دوی د غفلت له وجې عام خلک له دين څخه ليرې کېږي او په فتنو کښې لوېږي.

## د کفارو څو مهم فکري پلانونه او تطبيق

کفار تل هڅه کوي چې د مسلمانانو په خلاف د عسکري جګړې په څنګ کښې فکري جګړه هم مخته يوسي، د فکري جګړې لپاره ډېر اوږدمهاله پلانونه جوړوي چې په څو پېړيو کښې تطبيق کېږي، له هغې څخه بيا مسلمانانو ته داسې ضربه ورکوي چې راپورته کېدل، وتل او ځان خلاصول ورڅخه ډېر کار او زور غواړي.

مونږ به د څو پلانونو يادونه وکړو کوم چې غرب د اسلامي نړۍ په خلاف د صليبي جنګونو څخه وروسته په فکري ډول کار ورڅخه اخيستی، کله چې دا ليکنه تر پايه وکتل شي دا به جوته شي چې غربيانو اسلامي اُمـت ته څنګه په تدريجي ډول ټکان ورکړی، اسلامي اُمـت يې څنګه له قوت څخه غورځولی او تقسيم کړی دی؟ څنګه اروپايان يا ټول غربيان د مسلمانانو په خلاف سره يو شوي؟

کله چې آته صليبي جنګونه په ۱۲۹۱م کال د صليبيانو په تاريخي ماتې او د مسلمانانو په لويه بريا او فتحه تمام شول په دې اساس د صليبيانو شتون په منځني ختيځ کښې پای ته ورسېدو او اسلامي

خاورې ورڅخه خلاصې شوې؛ په دې جګړو کښې مسلمانانو ځکه بریالتوب ترلاسه کړو، چې د دوی ترمنځ اتحاد او سپېڅلې اسلامي عقیده موجوده وه، په مقابل کښې یې د صلیبیانو ترمنځ سخت اختلافات موجود وو او په خپل منځ کښې یې هم د مذهب په اساس جګړې کولې؛ له دې تاریخي ماتو څخه وروسته صلیبیانو د مسلمانانو په خلاف په پراخه توګه له عسکري نه بلکې له فکري جګړې څخه کار واخیستو چې له بده مرغه کفارو د دې فکري جګړو په هر پړاو کښې بریالیتوب ترلاسه کړی، د بې‌غیرته او بې‌ضمیره مسلمانانو له شتون څخه یې په اسلامي اُمـت کښې پراخه کار اخیستی؛ کفارو د فکري جګړې په هر پړاو کښې د اسلامي اُمـت کمزورې او اساسي نقطې پیدا کړې له هغې څخه وروسته یې په همغه نقطو بېلابېل بریدونه کړي، چې له امله یې کامیابي ترلاسه کړې ده، غرب د فکري کارونو په سلسله کښې دوه ډېر مهم کارونه کړي: یو یې په اسلامي نړۍ کښې اتحاد له منځه وړی، یو اُمـت یې په ډېرو هېوادونو او ټوټو تقسیم کړی، چې په دې هره ټوټه کښې یې داسې حکومتونه واک ته رسولي چې د غربیانو په نقش قدم روان دي. دوهم کار یې دا کړی چې په غرب کښې یې یو قوي اتحاد رامنځته کړی، خپل منځي اختلافاتو ته یې د پای ټکی ایښی او ټول غرب یې د مسلمانانو په خلاف د یو سنګر په ډول ګرځولی، چې په اسلامي اُمـت کښې کومه

وړه ټوټه د دوی له قوانینو څخه سرغړونه وکړي په یو ځای یې په خلاف درېږي او ځپي یې؛ مونږ به په دې لیکنه کښې د څو پلانونو یادونه وکړو کوم چې غربیانو د مسلمانانو په خلاف په تدریجي ډول کامیاب کړي.

۱. د استشراق پلان: استشراق یعنې د شرق پېژندل، د شرقي علومو زده کول، د شرق په اړه د غرب تحقیقات کول؛ په ټوله کښې استشراق دې ته وایي چې د شرق په اړه د غرب له خوا هر اړخ (دین، فرهنګ، جغرافیه، رسم او ټولنیز ژوند) په اړه معلومات حاصلول ترڅو له هغې لارې په مسلمانان برید وکړي او په فکري ډول یې کمزوري کړي.

کفار ډېر مخته تطبیق کوونکي پلانونه جوړوي چې په راتلونکي کښې په مسلمانانو کښې اغیزه کوي او څو پیړۍ وروسته مسلمانان ورباندې ځپي، لکه د استشراق پلان چې د صلیبي جنګونو څخه وروسته پیل شو او څو پېړۍ وروسته یې په اسلامي نړۍ کښې په همدې اساس ډېرې مسلمانان له خپل دین، ایمان، فرهنګ او قانون څخه لیرې کړل او د سیکولریزم نظریه یې په اسلامي نړۍ کښې خپره کړه.

له صلیبي ماتې څخه وروسته، کله چې اروپایان پوه شول چې د مسلمانانو د پرمختګ او فتوحاتو اصلي عامل د دوی دین او په توحید

ولاړه عقيده ده، چې په اساس يې مسلمانان جـهـاد کوي او د يو بل د ژوند په خاطر له مرګ څخه هېڅ ويره نه لري؛ نو يې د دې لپاره په اروپا کښې د استشراق تبليغاتي اډه پرانيسته، تر څو مسلمانانو ته په خپل دين او عقيده کښې شکوک پيدا کړي، د مسلمانانو ترمنځ اتحاد او يووالی له منځه يوسي، مسلمانان د جـهـاد له دندې څخه غافل کړي، د همدې کار لپاره يې د غرب څخه شرق ته داسې کسان راواستول چې ډېر پوه او هوښيار وو، ترڅو د مسلمانانو د دين او ټولنيز ژوند په اړه معلومات حاصل کړي، دا ډله يې د مستشرقينو په نامه مشهوره کړه او شرق ته يې راولېږل، دلته يې د مسلمانانو د دين، جغرافيې او ټولنيز ژوند په اړه پوره معلومات حاصل کړل، وروسته بېرته ستانه شول، هلته په اروپا کښې يې په اسلامي کتابونو ليکلو پيل وکړو، کتابونو ته يې اسلامي بڼه ورکړه، په هغه ځايونو کښې چې دوی ته مقصودي وو هلته يې د مسلمانانو د ګمراه کولو او شکي کولو لپاره شبهې پکښې داخلې کړې، په خپلو ليکنو کښې يې د الله تعالی د ذات په اړه د مسلمانانو د عقيدې خرابولو په هدف بېلابېل موضوعات داخل کړل، د جـهـاد په اړه يې بېلابېل شبهات وليکل، چې ځينې يې داسې دي: بغير له امير او خليفه څخه جـهـاد نه کيږي، هغه څوک چې اسلامي خاورو ته داخليږي هغه د ملک آبادي غواړي بايد جـهـاد ورسره ونشي بلکې نور يې هم بايد حمايت وشي، دين د دنيا له کارونو سره

هېڅ تړاؤ نه لري، د دنيا ټول مسائل دين نشي حل کولای؛ د سياست لپاره بايد نوي اصول جوړ شي، همدا ډول يې کوښښ وکړو، چې هغه اصول او قواعد چې دوی ورته ژمن وو اسلامي نړۍ ته هم را وارد کړي، په غرب کښې يې د اسلام بدله (کچه) څېره خلکو ته وړاندې کړه، د غرب خلک يې د اسلام په اړه له کينې او حسد څخه ډک کړل، ترڅو په اسلام کښې داخل نشي او په مقابل کښې يې مبارزې ته تيار شي؛ دلته په شرق کښې يې د غربي فکر او فلسفې خپرولو لپاره کار وکړو او په مسلمانانو کښې يې د خپل فکر پلويان پيدا کړل، ترڅو د دوی ايډيالوژي په پوره ډؤل په اسلامي نړۍ کښې نشر شي، د استشراق دا ګټه دوی ته ورسيده، کله يې چې په اسلامي نړۍ په ١٧ او ١٨ پيړۍ کښې عام يرغل راوړو، دلته د دوی فکر مخکې له مخکې نشر شوی وو، استشراق د غرب لپاره ژمن کسان په اسلامي نړۍ کښې توليد کړي وو، د مسلمانانو تر منځ د نفاق او دښمنۍ تخم په پوره اندازه شيندل شوی وو، مسلمانان له اسلام څخه ليرې شوي او په اختلاف کښې وو، مسلمانانو په خپل منځ کښې جنګونه او دښمنۍ پيل کړې وې، نو په همدې اساس دوی وکولای شوای چې په اسلامي نړۍ کښې خپل اهداف په اسانۍ سره ترلاسه کړي، چې له هغې جملې څخه د اسلامي نړۍ ويش او د خلافت له منځه وړل وو، په اسلامي نړۍ کښې کوچني حکومتونه جوړول وو، د مسلمانانو تر منځ

د ملي، ملت او ملک په اساس بېلوالی وو، تر ټولو خطرناک کار يې دا وکړو چې په اسلامي هېوادونو کښې يې خپل وفادار خلک چې د اروپايانو (غربيانو) په نظريه روان وو، قدرت ته ورسول او په دې طريقه يې په اسلامي نړی همېشنی استعمار حاکم کړو، هغه نظامونه يې په کښې جوړ کړل کوم چې د سيکولريزم په بنسټ ولاړ وو؛ نو اوس تاسې فکر وکړئ چې اروپايانو د اسلامي نړی د ځپلو لپاره څنګه اوږدمهاله پلان کاميابی ته ورسولو؟ تقريبا شپږ پېړی يې د دې لپاره بېلابېل کارونه وکړل او په اسلامي نړی کښې يې هغه نظامونه حاکم کړل چې له اسلام سره يې هېڅ تړاؤ نشته او په ظاهره بيا هم د اسلام په نامه يادېږي او نور هرڅه اصول يې له غرب څخه الهام اخلي.

استشراق چې له صليبي جنګونو څخه وروسته راپيل شوی وو په هر تاريخ کښې په بېلابېلو لارو او طريقو د مسلمانانو په مقابل کښې له دې اډې څخه کار اخيستل شوی چې نن ورځ مونږ ورته فکري جګړه وايو، کفار کوښښ کوي چې په دې اساس مسلمانان د جهاد او مقابلې له قوت څخه وغورځوي او د ځان سره يې په داسې ډول يو ځای کړي چې د يو ډول سيکلور نظرياتو پيروي وکړي.

۲. د ويستفاليا تړون: د کفارو له اوږدو پلانونو څخه يو هم د ويستفاليا تړون وو چې په ۱۶۴۸ م کال کښې د اروپا د سياسي حالت د بدلون

لپاره لاسلیک شو، د دې تړون له مخې په اروپا کښې مذهبي او داخلي جګړې پای ته ورسېدې، ټوله اروپا یې له خپل منځي جنګونو څخه خلاصه کړه، د دې تړون په اساس د یهودیت او نصرانیت وژونکي اختلافات ختم شول، مذهبي اختلافات څکه ختم شول چې د سیکولریزم په اساس یې دین او مذهب په پوره اندازه د نظام او سیاست له دایرې څخه خارج کړل؛ د دې تړون په اساس د کلیساوو تر منځ اختلاف ختم شول، د دې تړون له مخې هر هیواد ته ملي اختیار ورکړل شو چې هر هیواد په خپله خاوره کښې پوره اختیار او حاکمیت لري، د دې تړون نتیجه دا شوه چې اروپایان د خپل منځي شخړو څخه خلاص شول او د اسلامي نړۍ په استعمار او نیولو یې پیل وکړو، اسلامي نړۍ له مخکې څخه هم د استشراق له خوا په پوره ډول ځپل شوې وه، خپل اصلي حالت او روح یې پوره له لاسه ورکړی وو، نو په دې اساس د دوی لپاره مسلمانان تیاره د خوراک ګوله او په لاس ورغله، د استعمار او اشغال لپاره یې په ټوله اسلامي نړۍ کښې خپلې لښکرې خورې کړې چې مونږ یې یادونه پورته وکړه.

اروپا د ویستفالیا د تړون تقویه کولو لپاره بېلابېل نور تړونونه هم کړي، چې له مخې یې د نورې نړۍ هیوادونه هم له ځان سره یو ځای کړي، لکه: په ۱۹۱۹م کال کښې د ملتونو ټولنه او بیا د زیات اتحاد لپاره په

۱۹۴۵م کال کښې د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان، چې دې سازمان ته یې د ټولې نړۍ په سطحه د حاکمیت اعلی درجه ورکړې ده، دا سازمان په اصل کښې د اسلام بنیاد ایستلو لپاره جوړ شوی، که دا سازمان هره پریکړه کوي د ټولو متحدو هیوادونو په ګډون به هغه کار ترسره کېږي، په دې سازمان کښې د اسلام او مسلمانانو په خلاف بېلابېل پلانونه جوړېږي چې هدف ورڅخه د مسلمانانو له دین څخه لیرې کول، د جـهاد له دندې څخه غافله کول او مسلمانان په سرحدي لومو کښې بندول دي او بلاخره کفري سیکلور نظامونه وربانديې حاکمول دي، چې دین په پوره معنی د ژوند او سیاست له نقشې وباسي.

۳. د سایکس پیکو ټړون: د کفارو له اړودو فکري کارونو څخه (چې د اسلامي اُمـت پر وړاندې یې کړي) یو هم د سایکس پیکو ټړون دی چې له مخې یې عربي او اسلامي نړۍ په ډېرو برخو تقسیم کړه او په اسلامي اُمـت کښې یې د خلافت جرړې وایستې، عثماني خلافت یې په متعددو برخو تقسیم کړو، د همدې سایکس پیکو ټړون نتیجه وه چې د اسلامي اُمـت زیاتې برخې د اروپا تر مستقیم استعمار لاندې راغلې، د همدې ټړون نتیجه وه چې په اسلامي اُمـت کښې یې سیکولر نظامونه عملا حاکم کړل، دین یې د سیاست او نظام له

ډېر ځله وايستو، سيکلور نظامونه حاکم شول، دې غربي او جمهوري نظامونو دين دومره قيد کړو، چې په مدرسو او مسجدونو کښې يې هم مستقل پرېښود، بلکې هلته يې هم د دين د تعليم لپاره شرايط کېښؤدل چې هغه ځه به نه بيانوي کوم چې د نظام او حکومت لپاره خطر ايجادوي، په همدې اساس يې په اسلامي هېوادونو کښې د جـهاد تعليم او د کفر سره د دښمنۍ تعليم بلکل ختم کړو، دا ټوله نتيجه د سايکس پيکو له تړون ځخه رامنځته شوه، کوم چې د فرانسې او بريتانيا ترمنځ په لمړي نړيوال جنګ ۱۹۱۶م کال کښې پټ تائيد شوی وو؛ دې تړون د يو بدن په څير اُمــت په داسې ټوټو تقسيم کړو چې هېڅ ټوټه يې د بلې ټوټې درد او غم نشي درک کولای؛ دې تړون جهادي اُمــت چې د نړۍ په ليرې سيمو کښې يې د دين له دښمنانو سره جـهاد کولو، د سرحدونو په قفسونو کښې بندي او بېل بېل کړو؛ دې تړون د اسلام داسې زمريان په سرحدي دامونو کښې وتړل چې د يوې مظلومې ښځې په خاطر به يې نورو ملکونو ته لښکر کشي کوله او له هغه ځخه يې دفاع خپله فريضه بلله، دې تړون اُمــت دومره د غفلت په خوب ويده کړو چې اوس مسلمان نه پېژني چې په کومه خاوره کښې ژوند کوي؟!

د ټولې موضوع خلاصه په لنډ ډول: غرب د استشراق د اوږده پلان په اساس اسلامي نړۍ له دين او جـهـاد څخه ليرې کړه، د ويستفاليا د تړون په اساس يې ټوله اروپا او په وروسته کښې غرب سره يو ځای او متحده کړل او د سايکس پيکو تړون په اساس يې ټوله اسلامي نړۍ ټوټې ټوټې کړه، د موجوده سرحداتو او ملکونو اساس يې کېښوؤد؛ په دې دريو خطرناکو پلانونو سره يې اسلامي اُمـت ته داسې ضربه ورکړې چې ځان ورڅخه خلاصول، بيرته اُمـت سره متحد کول او د کفارو تر منځ اتحاد له منځه وړل د انسان له فکر څخه ليرې خبره ده؛ خو بيا هم چې په عزم، استقامت او غيرت سره مبارزه وشي او خپلې شخصي ګټې او د قدرت نيشې شاته وغورځول شي، دا هرڅه آسانه دي.

تاسې فکر وکړئ! غربيانو څومره ژور او خطرناک پلان کامياب کړو؟! لمړی يې د اسلامي علومو زده کړه وکړه، له هغه څخه وروسته يې د مسلمانانو په دين او دنيا کښې د شکونو او شبهو اچولو هڅه وکړه، له هغه څخه وروسته يې د مسلمانانو اسلامي فکر او نظريه کمزورې کړه او مسلمانانو يې له جـهـاد څخه ليرې کړل، بيا يې مسلمانان په خپل منځ کښې د قوم او ملک په اساس په نفاق کښې واچول، په همدې حال کښې د اروپا د اتحاد لپاره ويستفاليا تړون لاسليک شو

چې له مخې یې ټوله اروپا او غرب له خپل منځي جنګونو او اختلافاتو څخه خلاص شو، دوی په اروپا او غرب کښې د مذهب ټول اختلافات ختم کړل، مذهب یې د سیاست له نقشې څخه وایستو له هغه څخه وروسته یې په اسلامي نړۍ په داسې حال کښې یرغل راوړو چې اسلامي نړۍ خپل ایماني قوّت زیات له لاسه ورکړی وو، په خپل منځ کښې پوره په دښمنۍ کښې لویدلي وو، په اسلامي نړۍ کښې د اروپایانو لاس پوخي پیدا شوي وو، وروسته یې دلته په اسلامي نړۍ کښې تقریبا دوې پېړۍ وخت تېر کړو خپل فکر یې پوره خپور کړو، وروسته یې په اسلامي نړۍ کښې خپل لاسپوڅي او غلامان واک ته ورسول، همدې غلامانو ته چې د دوی په پله یې قدم اخیستو نظامونه جوړ کړل او دوی ورڅخه ووتل.

اروپایان په داسې حال کښې له اسلامي نړۍ څخه ووتل چې دلته یې په اُمــت کښې اسلامي فکر په زیاته اندازه ختم کړی وو.

له دې دریو پلانونو څخه معلومېږي چې کفارو د مسلمانانو په خلاف له اوږدمهاله پلانونه څخه کار اخیستی چې په اساس یې اسلامي نړۍ داسې ښکېل کړې ده چې اوس له دې یو ترون څخه هم ځان نشي خلاصولای، د سایکس پیکو د ترون په اساس یې اسلامي نړۍ تقسیم کړه او د ویستفالیا د ترون په اساس یې ټوله اروپا سره متحده کړه،

نو اوس د ټولې اروپا او غرب سره د یو کوچني اسلامي هیواد جنګ او مقابله څنګه ارزوئ؟ په داسې حال کښې چې نؤر اسلامي هیوادونه د ملک او سرحد په اساس له بل اسلامي هېواد څخه په پوره اندازه ځان جلا ګڼي او هېڅ همکاري یې په ځان لازمه نه ګڼي.

همدا رنګه یې د اسلامي نړۍ څخه د طبیعي زیرمو لپاره هم ډېر پلانونه په کار اچولي چې له مخې یې د اسلامي هېوادونو څخه طبعي زېرمې وباسي او خپلې کوي یې، د افغانستان څخه یې د اشغال په وخت یورانیم، طیلا او نورې طبعي او اقتصادي شتمنۍ وایستې، له عراق څخه یې تیل غلا کړل او تر خپل کنترول لاندې یې راوستو؛ همدارنګه یې د اسلامي او عربي نړۍ لپاره لوی رنځ اسرائیلي(یهودي) حکومت رامنځ ته کړو، د اسلامي خاورو د استعمار لپاره یې اوس هم پلانونه په کار اچولي او عملي کار ورباندې کوي.

خو بیا هم وایو چې مسلمانان باید په همت او مېړانه مبارزه وکړي هېڅکله باید مایوسه او بې‌اُمیده نشي ابدي بریا بیا هم د مسلمانانو ده، د کفارو په سر هر وخت د ذلت سیورۍ ولاړ دۍ؛ اوس هم که د اسلام او جهاد په خلاف کفارو هرڅومره کار وکړو، د اسلام رڼا یې ختمه نه کړه، همدا د الله تعالی سنت دي چې د اسلام ډېوه په پوره اندازه څوک نشي ختمولای. الله تعالی فرمایي: يُرِيدُونَ أَن يُطْفِئُوا نُورَ

اللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَيَأۡبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ [سُوۡرَةُ التّوبَة : 32]

ژباړه: دا خلك غواړي چې د الله تعالی رڼا په خپلو پوکیو (افواهاتو) سره مړه کړي؛ خو الله تعالی د خپلې رڼا له بشپړولو پرته منونکی نه دی، که کافرانو ته دا هر څومره ناکاره وبریښي هم.

نو په همدې اساس بیا په اسلامي نړۍ کښې د جهاد مشالونه روښانه شول او د کفارو په مقابل کښې یې تحریکونه جوړ کړل، هغه سیمې چې دوی ونه توانیدل چې استعمارورباندې وکړي، افغانستان او ځینې قبائل وو، همدلته د دوهم جهاد بنیاد کېښودل شو او پلوشې یې ټولې اسلامي نړۍ ته خورې شوې.

که د کفارو دې اوږدو پلانونو ته وکتل شي او هغه کوښښ ته چې دوی یې د مسلمانانو په خلاف کوي؛ مسلمانان بیا هم دومره د غفلت او کمزورۍ په خوب ویده دي چې د خپل حال زمانې په اړه هم فکر نه کوي، د راتلونکي لپاره خو د اوږدمهاله پلانونو جوړول په خپل ځای پاتې دي، مسلمانان که چېرې وېښ نشي نو همداسې به کفار نور پلانونه هم تر خپل هدف پورې ورسوي، چې بیا به مسلمانان د ځمکې پر مخ د اوسېدلو او پوره عبادت کولو ځای هم ونه لري، کفار زمونږ په مقابل کښې په پوره فکري او عسکري جګړه بوخت دي، مونږ ته په

کار نه ده چې اوس هم د غفلت په خوب ویده شو، مونږ باید هر ډول قرباني ورکړو، په پوره اندازه کار وکړو، په فکري او عسکري مقابله کښې باید خپله پوره میړانه او وړتیا څرګنده کړو، د راتلونکو نسلونو لپاره باید د ښه عاقبت اساس کېږدو، مونږ باید په اوږدمهاله پلانونو کار پیل کړو، که چېرې یې مونږ تر بریا پورې ونه رسوو، وروسته به زمونږ نسلونه ادامه ورکړي او زمونږ ټاکلي اهداف به ترلاسه کړي؛ مونږ ته نور د غفلت خوب نه دی په کار نور باید ویښ شو د کفارو له دې فکري کارونو څخه باید عبرت واخلو او نور د دې جوګه شو چې کفار خپل پلانونه راباندې تطبیق نشي کړلای.

## پخوانیو مسلمانانو څنګه رزق حاصلولو؟

په تاریخ کښې که مونږ وګورو، مسلمانانو ډېر ښایسته تاریخ تر شاه پرېښی دی، مونږ ته یې داسې لاره پرېښې ده چې په تللو سره به یې د دنیا او آخرت نیکمرغي ترلاسه کوو. په پخوا وختونو کښې مسلمانانو خپل رزق د غنیمت له مال څخه حاصلولو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې څنګه ورته ویلي وو، چې د غنیمت مال ډېر پاک او سپېڅلی رزق دی، نو مسلمانانو هم کوښښ کولو چې خپل رزق له همدې لارې ترلاسه کړي او له همدې رزق څخه خپل خواړه تیار کړي، کفارو به مالونه په تجارت، ځمکه او مالدارۍ سره جمع کول،

مسلمانانو به د جهاد په واسطه ورڅخه غنیمت کول او خوړل به يې، د مال په جمع کولو کښې کفار ډېر حریص دي او کوښښ کوي چې ډېر مال ترلاسه کړي، مسلمانانو به دا مالونه پخوا د جهاد په واسطه ورڅخه غنیمت کول، خو اوس يې مسلمانانو د غلامی، مزدوری او دوستی په بدل کښې ورڅخه ترلاسه کوي، اوس مسلمانان تر خپل ایمان او وجدان ورته تېرېږي او دا مالونه ورڅخه ترلاسه کوي، اوس مسلمانان د کفارو جارو کشي او غلامي کوي ترڅو دا مالونه او پیسې ترلاسه کړي؛ په داسې حال کښې چې پخوا به مسلمانانو دا مالونه په زور ورڅخه اخیستل د جهاد او تورې په زور به يې د دوی له مالونو څخه استفاده کوله، د دې وخت مسلمانان به هم د الله تعالی حضور ته ورځي، الله تعالی ته به درېږي او حساب به ورکوي. نن ورځ لوی مشکل همدا دی چې مسلمانانو د رزق د ګټلو اصلي لاره پرېښې ده، مسلمانانو نن د رزق په ګټول کښې خپله طریقه او نقشه بدله کړې ده، بلکې داسې لاره يې اختیار کړې چې د دنیا او آخرت ذلالت دی؛ زه وایم چې رزق په غیرت وګټه او په غیرت کښې يې وخوره، پخوا به ځوانانو جهاد کولو، د پنځمې برخې غنیمت څخه به يې بیت المال ډک وو، له هغه څخه به د ټولنې مریضانو، ضعیفانو او مسکینانو ته هم مال ورکول کېدو، د غنمیت له پنځمې حصې څخه به معاشونه مقررېدل او ورکول کېدل.

# جهاد ته څه اړتیا ده؟

ډېر خلک کېدای شي دا فکر ولري چې جهاد ته څه اړتیا ده؟

خو زه وایم تاسې یو ځل د جهاد تاریخ وکورئ، مسلمانانو چې په کومه زمانه کښې جهاد ترسره کولو هم یې حالت وګورئ او په کومه زمانه کښې یې چې جهاد پریښی هم یې حالت وګورئ، درته معلومه به شي چې جهاد ته څه اړتیا ده؟

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په زمانه کښې چې د جهاد ابتداء وشوه د مسلمانانو شمیر ډېر کم وو، چې د بدر په غزا کښې د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) شمېر ۳۱۳ تنه وو خو همدې جهاد چې آته کاله نور دوام وکړو د عربو ټوله جزیره په اسلام مشرفه شوه او هر خواته د اسلام لښکرې خورې وې، دا هر څه د جهاد او قربانی برکت وو چې زیاتې قبیلې اسلام ته داخلې شوې، له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه وروسته صحابه کرامو (رضي الله عنهم) جهاد ته دوام ورکړو چې د روم او فارس لویې امپراتورۍ یې رانسکورې کړې، د مسلمانانو په کورونو کښې د غنیمت مالونه نه ځایدل، کځ په هغه وخت کښې مسلمانانو جهاد نه وای کړی نو نن به مونږ هم په خپل اسلام نه وو، هغه د پخوا په شان بت پرسته او اور پرسته ژوند به مو کولو، دا د الله تعالی لوی رحم دی چې د صحابه کرامو (رضي الله

عنهم) په واسطه يې د جـهاد وظيفه ترسره کړه او د اسلام سپوږمۍ يې زمونږ تر کورونو راورسوله، صحابه کرامو (رضي الله عنهم) د جـهاد مقدسه دنده په پوره مېړانه او استقامت ترسره کړه؛ له صحابه کرامو (رضي الله عنهم) څخه وروسته د امويانو خلافت پيل شو چې په هغه وخت کښې هم جـهاد د مسلمانانو طبعي دنده وه، هر مسلمان غوښتل چې د جـهاد په تشکيل کښې نوم وليکي او د دښمن خلاف په أول صف کښې جګړه وکړي، هغه وو چې د فتوحاتو لړۍ نړيواله شوه، د اروپا په غرونو کښې به د اسلامي لښکرو آسونه ځېرېدل؛ کله چې د عباسي خلافت واکمني شوه په هغه وخت کښې هم بېلابېل پړاوونه راغلل، خو داسې وخت هم راغلو چې د جـهاد دنده يې پرېښوده او په خپلو خواهشاتو کښې آخته شول، د قدرت ترلاسه کولو هڅې پکښې پيل شوې او ډېرو خلکو د يوې ورځې ټوټې په حيث د خلافت څخه بغاوت وکړو؛ هغه وو چې اسلامي اُمـت د کمزورتيا خواته روان وو، بالاخره عباسي خلافت د بې شمېره مسلمانانو په شهادت پای ته ورسېدو، تاتاريانو د هلاکو په مشرۍ حمله وکړه او د باغداد ځمکې يې د مسلمانانو په وينو خړوبې کړې، دريابونه يې د مسلمانانو په کتابونو ډک کړل، له همدې ځای څخه وروسته د مسلمانانو هغه رعب او برم له خاورو سره خاورې شو، مسلمانان بې سره او بې ښاروانه شول، مسلمانان د غم په ټبر کېناستل، دا د

اسلامي اُمـت لپاره يوه لويه غميزه ده چې د تاريخ په صفحو کښې ثبت شوې، دا ولې چې دوی د جـهاد مقدسه دنده تر شاه کړه؛ د عباسي خلافت له سقوط سره يو ځای  يو وړوکی ترکي قوم د عثمان بن ارطغرال په مشری جـهاد پيل کړو، کرار کرار دا لښکر زياتېدو تر دې چې د قسطنطنيې په نيولو سره يې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د هغه حديث شريف چې فرمايلي وو: بېشکه چې قسطنطنيه به فتحه کېږي، ډېر بهتره به هغه امير وي او ډېر بهتره به د هغه لښکر وي چې فتحه کوي يې. د عثماني خلافت د فتوحاتو لړی پراخه کېده تر دې چې زياتره اروپايي هېوادونه يې تر تسلط لاندې شول، دا ځکه چې په دې وخت کښې مسلمانانو بيا هم جـهاد ته مخه کړې وه، د پخوا په شان يې جـهاد خپله دنده بلله او د الله تعالی په لاره کښې هر ډول قربانی ته تيار وو، وروسته همدا خلافت چې د جـهاد د وظيفې قدر يې ونه کړو، جـهاد يې ترک کړو نو بېرته د هغه اروپايانو لاس ته د يو ايجنټ په واسطه ورغلو او مسلمانان ذليل شول، دا آزار د جـهاد پرېښوډلو وو، نو په همدې اساس جـهاد د اُمـت له پورته کېدو او ښکته کېدو سره تړلی دی، که مسلمانان جـهاد کوي نو لوړ به وي او که جـهاد نه کوي نو ذليل به وي.

# منافق جـهــاد نشي کولای

که غواړئ چې له منافقینو څخه پاکه ټولنه پیدا کړئ، نو د مجاهدینو ډله ده، چې د دښمن په مقابل کښې عملي جهاد کوي، هلته منافقین استقرار نشي کولای، منافقین د مرمیو شور، د زولنو زور، د بارودو ګردونه په خپل ځان نشي زغملای، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په وخت کښې به چې کله منافقین پوه شول چې جنګ کېږي، له غزا څخه به راوتښتېدل، تاسې ته د عبدالله ابن ابی ابن سلول منافق کیسه یاده ده چې د اُحد له غزا څخه یې د دریو سؤ ملګرو په ملتیا تېښته اختیار کړه او مدینې ته ولاړل، کله به چې د غزا لپاره مجاهدینو تیاری نیولو، په منافقینو به خپل ځانونه درانه شول او له جنګ څخه به په دروغو او بهانو پاتې کېدل؛ اوس هم د جهاد ګرم سنګر یوازې پاک او قوي ایمان واله خلک ګرموي، چې هلته منافقین څرک نشي وهلی. جهاد داسې عبادت دی چې یوازې د قوي ایمان خاوندان به یې ترسره کوي، هلته متزلزل او کمزوري ایمان واله نشي درېدلی او نه داسې عبادت ترسره کولای شي، جهاد داسې عبادت دی چې د منافق منافقت ظاهروي او ښکاره کوي یې، د کلک ایمان خاوندان همدا دي چې د خپلو سرونو په قېمت د جګړې او جهاد ډګر ته داخلیږي، په صبر او استقامت د دښمن په مقابل کښې درېږي او

په خپلو سرونو د الله تعالی په لاره کې سودا او معامله کوي، د قربانی لاره نیسي، په هسک سر د شهادت په منار ورخېژي او د مستو حورو غېږې ته ځان ورغورځوي، د حورو ناز او ادا له همداسې مستو ځوانانو سره ښايي چې په غېږ کښې یې ونیسي، ښکل یې کړي او له ګردونو څخه یې بدن پاک کړي، دا کیفیت د منافق نه په نصیب شوی او نه یې هم په قسمت کښې شته، تر اوسه پورې منافق ته حورو غېږ نه ده ورکړې، نه به یې ورکړي او نه هم ورسره ښايي، د شهادت لېونیان ډېر دي چې تر خپل دین او اسلام ځان قربان کړي او د حورو غېږې په خپلو ښایسته بدنونو ور ډکې کړي او هلته د سنګر ستړی مجاهد هوسا او دمه واخلي.

## مونږ ته استقامت په کار دی

مونږ باید په هر کار کښې له پوره استقامت څخه کار واخلو، که هرڅومره له ستونزو او مشکلاتو سره مخ کیږو باید له صبر او تحمل څخه کار واخلو او د پرمختګ په لور نور ګامونو واخلو، کوم اهداف مو چې ټاکلي وي، په مخ کښې یې که هرڅومره خنډونه وي باید ورڅخه په شا نه شو، امید شته چې یوه ورځ به مو الله تعالی خپلو اهدافو ته ورسوي، البته دا هېڅ امکان نه لري چې اهداف دې پرته له کوښښ او ستونزو تېرولو څخه ترلاسه شي، که کوم کارونه راباندې لازم شوي

وي باید هېڅ کله یې پرېنږدو، د ترسره کولو لپاره یې باید هر ډول ستونزې په ځان تېرې کړو، خو هغه کارونه چې الله تعالی رابانديې فرض او لازم کړي په پوره اندازه یې ترسره کړو.

یو لوی مشکل چې نن زیات خلک ورسره لاس او ګریوان دي دا دی چې استقامت نه لري؛ دوې ورځې ښه تقوا کوي، د الله تعالی ټول اوامر په پوره توجو او ذوق سره ترسره کوي، دریمه ورځ بیا ورڅخه پاتې وي، کله چې د جـهـاد په سفر کښې یو څه ستړی شي، یا یو تشکیل یې برابر نشي، یا دښمن ورته برابر نشي، یا یو څه زخمي شي، یا یو څه موده له دښمن سره اسیر شي، یا یو څه اقتصادي ستونزې ولري، یا یو څوک یو څه خبرې ورته وکړي، بیا نو د جـهـاد لاره پرېږدي، چې زه نور ستړی شوم، نور جـهـاد نشم کولای نور مې بس دی، نور اقتصاد جوړوم، کورنی راپسې ده، خلک مې مخالفت کوي نو د جـهـاد مقدسه لاره پرېږدي؛ یو سړی نن له ځان سره وعده وکړي چې بیا به چېرته دروغ نه وایم، خو چې د ریښتیا په خاطر لږ ځان ته خطر ویني، لږ چېرته ګټه ویني نو دروغ پیل کړي، نن و وایي چې نور به زه غیبت نه کوم، ځکه چې دا د یو مسلمان په حق کښې تجاوز دی او د لویو لویو نورو ګناهونو سبب ګرځي، تر زنا هم بده ګناه ښؤدل شوې، دوې ورځې یا یوه ورځ غیبت نه کوي، خو چې د یو چا سره یې لږ مشکل

راغلو، یا د یو داسې چا یاد راغلو چې د ده ورسره جوړه نه وي، نو غیب پسې پیل کړي او هغه عیبونه چې پکښې لیدلي یې وي خلکو ته بیانوي، یو څه له ځان څخه هم پکښې زیات کړي او ځان د بهتان درجې ته ورسوي، چې تر دې هم لویه ګناه ده؛ نن له ځان سره وعده وکړې چې نور به په انترنیت کښې بې ځایه وخت نه ضایع کوم، نور به په انترنیت کښې غلط شیان نه تعقیبوم او نشروم، نور به په ټلیفون کښې ګېمونه نه کوم، یوه ورځ نه وي ورباندې وتلې چې بېرته هغه تلیفون یې په لاس او خپل قیمتي وخت په بې کاره شیانو کتلو او نشرولو مصرفوي؛ نو عمده مشکل زمونږ همدا دی چې مونږ په خپلو کارونو کښې استقامت نه لرو، د اهدافو ترلاسه کول پرته له استقامت څخه هېڅ امکان نه لري، جنت هم د مسلمانانو لپاره یو هدف دی چې باید ترلاسه یې کړي، خو تر هغه یې نشي ترلاسه کولای چې ترڅو په دین کښې تر مرګ پورې استقامت ونه کړي، لکه الله تعالی چې فرمایي: إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ [سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 30]

ژباړه: کومو خلکو چې وویل: الله زمونږ رب دی او بیا هغوی په دې باندې ثابت قدم پاتې شول، په یقیني ډول پر هغوی باندې پرښتې

نازلیږي او هغو ته وايي: مه وېرېږئ، غم مه کوئ او د هغه جنت په زيري سره خوښ اوسئ چې ستاسې سره يې وعده شوې ده.

نو په هم دې اساس الله تعالی هغه چا ته جنت ورکوي چې په الله تعالی ايمان راوړي او بيا تر مرګ پورې په همدې ايمان استقامت وکړي، د الله تعالی ټولو اوامرو ته پوره پوره غاړه کېږدي؛ مونږ هر کار بايد په پوره استقامت، صبر او تحمل سره ترسره کړو ترڅو مونږ خپل هدف ته خپل د لارې مزلونه را لنډ کړو، دا بېشکه چې ستونزې به وي، خو دا ستونزې د دې معنی نه لري چې مونږ خپل کار او فعاليت پرېږدو او په نيمه لاره کښې ورځخه وګرځو.

## د مسجدونو امامان څه مسئوليت لري؟

عمده مشکل چې نن ورځ مونږ ورسره لاس او ګريوان يو، هغه دا دی چې د نبوي ممبر څخه نن د ټولنې اصلاح په هغه شکل نه کېږي، څنګه به چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او له هغه څخه وروسته په خيرالقرون او نورو زمانو کښې کېدله، نن ورځ مسجد صرف د آذان او لمانځه لپاره خاص شوی، هغه هم يو صف خلک موجود نه وي، ملا امام هم په هفته کښې دوې درې ورځې نه وي،  په مسجدونو کښې په مياشتو مياشتو د جـهـاد څه چې د دين عامې خبرې نه کېږي؛

شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه وايي: په مسجد کښې امام د سمندري بېړۍ په څېر دی، چې خلک د امن ساحل ته رسوي. بناءا همدا امامان دي چې خپل ملت د ګناهونو له هلاکوونکو سمندرونو څخه راخلاصوي او ورڅخه ساتي يې. زمونږ په ټولنو کښې داسې خلک شته چې د اوداسه د ماتېدو مسايل يې نه وي زده، داسې کسان شته چې د لمانځه روان الفاظ يې نه دي زده، داسې خلک شته چې د دين کارونه هېڅ خپل مسئوليت نه ګڼي؛ همدا سبب دی چې نن مو د ټولنې زيات خلک او ځوانان د دين له کارونو سره فاصله لري، په ټولنه کښې مو د دين کارونه کمزوري شوي او دا طبعي خبره هم ده، چې مسلسل د يوې ټولنې خلکو ته په مياشتو او کلونو د دين خبرې ونشي، نو داسې ټولنه او خلک خامخا د انحراف په لور ځي او په ديني کارونو کښې کمزوري کېږي، دا نن چې مونږ د ټولنې له ځوانانو څخه مجاهدين کم لرو نسبت هغه ځوانانو ته چې هېڅ احساس نه لري، سبب يې همدا دی چې د مسجد له لارې نظريه نه ده ورکړل شوې، روزل شوي نه دي، د جهاد ترغيب او تربيت په مسجدونو کښې نه دی شوی، عبدالله ابن عباس رضی الله عنه به فرمايل: چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د غزاؤ او سريو د تيارولو لپاره مسجد مرکز ګرځولی وو. همدا رنګه امام حسن البنا رحمه الله فرمايي: ځوک که غواړي چې يو قوي نسل د علم او جهاد لپاره جوړ کړي، بايد له

مسجدونو پیل وکړي. علماء باید خپل مسئولیت وپېژني، د ټولنې تګلورى جوړ کړي، د جـهـاد اساس باید علماء او د مسجدونو امامان کېږدي، امامان باید له مسجدونو څخه د قوي ایمان او عقیدې خاوندان ځوانان د جـهـاد ډګر ته وړاندې کړي، مسجدونه د اسلامي انقلابونو لپاره اساسي مرکزونه دي چې په هر تاریخ کښې یې دښمن له ماتې او ذلت سره مخ کړی، شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي: جـهـاد له مسجدونو څخه پیل کېږي، د مسجدونو له لارې په مجاهدینو کښې ایمان او په الله تعالی توکل پخیږي او کلکېږي. حضرت علي رضی الله عنه به فرمایلي: څوک چې غواړي د جـهـاد لپاره نسل چمتو کړي، باید له مسجدونو پیل وکړي. نو همدا مسجدونه دي چې د ځوانانو ایماني قوت زیاتوي او د زیات ایماني قوت په اساس له دښمن سره جـهـاد او مبارزه کېږي. کله چې زمونږ په مسجدونو کښې د جـهـاد درس او روزنه ورکول کېږي، سنګرونه به مو د مجاهدینو څخه ډک وي، مونږ باید د جـهـاد لپاره خپل نسل له کوچینوالي څخه د مسجد له لارې وروزو.

نن چې زمونږ په مسجدونو کښې د دین تعلیم نشته، د جـهـاد تربیه نشته، په دې کښې زمونږ د ټولنې عام خلک دومره نه دي ملامت لکه څومره چې همدا مسئولین او ملا امامان ملامت دي، په دې اساس

د وخت له اسلامي حکومت څخه هم ګیله کېږي، چې باید دې کار ته يې ترتيب برابر کړی وای د امر بالمعروف همدا دنده ده چې په ټولنه د خلکو د روزنې او اصلاح سيستم جوړ کړي، دوی بايد ملا امامانو ته وخت پر وخت توصيه او لارښوونې وکړي، ټولنه وځاري هغه عمده مشکلات په نښه او د مخنيوي لپاره يې د امامانو په همکاری اقدام وکړي، په دعوت او ارشاد کښې باید د بست او معاش خبره مطرح نه وي باید اهل او بااحساسه خلک پکښې وګومارل شي، باید خدمت وکړي او خپله ټولنه اصلاح کړي، عجيبه دا ده! چې کـفري او فاسق حکومت راځي د خپل ځان لپاره په ټولنه کښې تبليغ او دعوت کوي، خپل طرفداران پیدا کوي، خو زمونږ حکومت چې د دې ټولنې روح دی، اسلامي حکومت دی، بیا هم په ټولنه کښې د عامې اصلاح پروګرامونه نه لري او یا هم ډېر کم دي، د دې حکومت سره باید زمونږ د ټولنې ټوّل سيستم تغير شوی وای، ځکه چې په ټولنه کښې ډېر داسې کارونه روان دي چې خلکو خپل خواهشات او نفسونه پکښې پاچاهان ګرځولي، د دین کارونه یې د خپلې خوښې کار دی که یې زړه وغواړي کوي یې که نه نو نه یې کوي، قسم دی زړه مې هلته درد کوي چې مسجد ته د ماښام د جماعت لپاره روان وم خلک په دوکانونو او د مسجد په مخ کښې په مجلس لګيا وي او لمانځه ته نه ځي، زه وایم چې دا حکومت خو د همدې مسجد او مدرسې له لارې

کامیابي او فتحه ترلاسه کړه نن يې ولې دا مسجد له فکر څخه ايستلی چې نوره د پرمختګ ګټه ورڅخه واخلي؟ نو بيا هم امامانو ته وايو چې صرف د لمانځه امامت خو نه دی، د خلکو او ټولنې اصلاح د دې امامانو عمده دنده او مسئوليت دی، موږ به نور څه ووايو؟ خو دين تر موږ دوی ته ښه معلوم دی، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په ژوند تر موږ دوی ښه خبر دي چې له مسجد نبوي څخه يې څنګه د مسلمانانو اصلاح ټولنه عربي جزيرې ته وړاندې کړه، چې وروسته يې د اسلام پلوشې ټولې نړۍ ته خورې کړې؟ نن که چېرته زموږ د مسجدونو امامان دې کارته متوجې نشي، د ټولنې د خلکو اصلاح ونه کړي زموږ ټولنه به نوره هم د انحراف په لور ولاړه شي او له دين څخه به ليرې شي؛ په کوم کلي کښې چې وينښ، با احساسه او اصلاح کوونکی عالم وي ټول کلی ورسره اصلاح وي، د هغې کلي د خلکو طرز او طريقه د نورو کليو د خلکو سره توپير لري، د هغې کلي څخه د ديندارۍ شغلې پورته کېږي، د مسجد نظم او ترتيب يې په شرعي اصولو برابر وي، د جـهاد او قربانۍ لپاره هغه کلی زيات مجاهدين لري، خو د کوم مسجد امام چې وينښ نه وي د خلکو د اصلاح هڅې نه کوي او احساس نه وي ورسره، صرف خپل دنيايي مسئوليت ترسره کوي او د کلي له خوا ټاکل شوی پنځه وخت لمونځ ورکوي، نور د کلي په هېڅ کار او شخص کار نه لري، نو د هغه کلي

هم هر څۀ خراب، بې نظمه او له شرعي طريقې څخه ليرې وي، خلک يې له دين څخه بې خبره وي او په ګناهونو کښې اخته وي؛ مونږ او تاسو ته په کار ده، که څوک امامت لري د خپل امامت حق دې پوره ادا کړي، لکه څرنګه چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ترسره کړی، چې د ټولنې ټول کارونه يې تنظيم کول او صحابه کرام (رضي الله عنهم) يې روزل، همداسې دې امامان هم خپل مسئوليت ترسره کړي، ځکه چې همدا عالمان او امامان نن ورځ د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په ممبر ناست دي او د هغه ميراث ورپه غاړه دی، که څوک خپله امامت نه لري، هغه د خپل کلي امام دې پوه کړي، د نن ورځې د اسلامي اُمـت په حالاتو دې يې خبر کړي کېدای شي دې ځای ته د هغه امام فکر نه وي، که کومې خاص او ښې طريقې درسره وي د حکمت په اساس يې له خپلو امامانو سره شريکې کړئ، ترڅو دا ټولنه يو ځل بيا په ديني او اسلامي رنګ راپورته کړو او د دينداری مشالونه پکښې بل کړو. صحابه کرام (رضي الله عنهم) چې ډېر لوړ شان الله تعالی ورکړی وو، د دينداری غرونه وو، خو بيا هم رسول الله (صلی الله عليه وسلم) به په هفته کښې دوه ځله يا يو ځل عام نصيحت ورته کولو، صحابه کرامو به رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته ويل چې مونږ ستا سره په مجلس کښې ناست وو، ته د جنت او دوزخ کيسې راته کوې، داسې وي لکه مونږ يې چې په سترګو وينو (د

دینداری جذبه مو ډېره غالبه وي) خو کله چې ستا له مجلس څخه ولاړ شو او د دنیا په کارونو کښېږ آخته شو بیا هغه کیفیت نه وي راسره (دومره مو دینداري قوي نه وي لکه ستا سره په مجلس کښې) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: قسم په هغه ذات چې زما نفس یې په لاس کښې دی، که تاسو په هغه حالت کښې دوام وکړئ چې زما سره ناست وئ او په ذِکر بوخت وئ، نو ملائکې به له تاسو سره په لارو او بسترو کښې مصافحه وکړي.

نو په همدې اساس چې د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) کیفیت د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له مجلس څخه د وتلو په صورت کښې بدلېدلو او دوامداره نصیحت ته یې اړتیا وه، نو زمونږ کیفیت به څنګه وي، چې په شپو او ورځو د دین خبرې نه راته کېږي او نه یې اورو، په داسې حال کښې چې بیا د آخرې زمانې خلک یو؛ الله تعالی دې په مونږ رحم وکړي، الله تعالی دې زمونږ امامانو ته فکر او توفیق ورکړي، ترڅو د خپلې ټولنې د اصلاح موضوع ته اولیت ورکړي او دا کار د خپل ځان یوازینی مسئولیت وګڼي.

هر امام باید په ورځ کښې یو وخت مقرر کړي چې په هغه وخت کښې یو څه د دین خبرې خپلو مقتدیانو ته وکړي، که چېرې په ورځ کښې نه وي په دوو دریو ورځو او هفته کښې خو یو ځل باید خامخا په هغه

مهمو موضوعاتو چې ډېر اړين وي بحث وکړي، امامانو ته په کار ده چې د زيات حکمت څخه کار واخلي لمړی يې له جنت څخه پيل کړي، اخروي نعمتونه او حسرتونه ورته بيان کړي، ورپسې د دوزخ په اړه ورته وضاحت وکړي او سخت عذابونه ورته بيان کړي، له هغه څخه وروسته هغه اعمال ورته په نښه کړي چې جنت ته د تللو سبب ګرځي، په همدې ترتيب هغه اعمال هم بيان کړي چې دوزخ ته انسان وصل کوي؛ د دې ټولو په څنګ کښې د نړی د روان سياسي حالت په اړه يو څه خبرې ورته وکړي، د اُمـت اوسني حالات ورته بيان کړي او يو څه يې د جـهاد خواته ترغيب کړي، د کفارو فکري حربې ورته بيان کړي؛ دا کارونه چې ترسره کړي هغه امامانو به خپل مسئوليت ترسره کړی وي، که نه يوازې په لمانځه، جنازه او آذان سره يې غاړه نه خلاصيږي، امامان د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) په ممبر ناست دي، په کار دا ده چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) پوره لاره تعقيب کړي او د هغه په نقش قدم روان شي. کوم قيادتونه چې د جـهاد او مسجدونو ارزښت وپېژني، بيا کولای شي د ملتونو په منځ کښې خپل بيرغ پورته کړي؛ ممبرونه د جـهاد لپاره د قربانۍ او ايثار اتلان روزي او وړاندې کوي، د جـهاد لپاره تشکيلونه د مسجدونو له غېږې کېږي، مونږ بايد مسجدونه له جـهاد سره وتړو، مونږ هغه وخت بريالي کېدای شو، چې مسجدونه د جـهاد او قربانۍ درس وړاندې کړي.

## جهاد چې نه کوې څنګه به جنت ته داخل شې؟

د جهاد فریضه د خلکو په خپل اختیار کښې نه ده چې څوک یې نه ترسره کوي نو نه به ګناه‌کار کېږي، بلکې الله تعالی یې نه معاف کوي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له هغه چا څخه چې مسلمان به شو په جهاد کولو هم بیعت اخیستو، چا به چې په جهاد کولو بیعت نه کولو له هغه سره رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اسلام راوړلو بیعت هم نه کولو، دا نن ورځ چې دا بې شمېره خلک جهاد نه کوي دوی څه فکر کوي چې همداسې په مفته کښې به جنت ته داخل شي؟ الله تعالی جنت د ټول انسانیت لپاره نه دی جوړ کړی، بلکې د هغه کسانو لپاره یې جنت تیار کړی چې د الله تعالی ټولو اوامرو ته غاړه کېږدي او په پوره ډول د الله تعالی په عبادت کښې داخل وي. د اسلام راوړلو څخه مطلب دا دی چې د اسلام ټول قوانین به په خپل ځان اخلې او منې به یې، په هغه کښې که په نفس سختي راځي، که دې دنیایي ګټې زیانمنې کېږي او که له هر ډول خطر سره مخ کېږې.

بشیر بن الخصاصیة رضی الله عنه فرمایي: زه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته راغلم ترڅو د اسلام راوړلو بیعت ورسره وکړم، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) راباندې دا شرطونه کېښودل: چې د (لااله الاالله وان محمد عبده ورسوله) ګواهي به ورکوې، پنځه وخته

لمونځونه به کوي، زکات به ورکوي، د بيت الله شريف حج به کوي او د الله تعالی په لاره کښې به جهاد کوي؛ ما ورته ووېل يا رسول الله! زه د دوه کارونو وس نه لرم، زکوة نشم ورکولای، ځکه چې زما لس اوښې دي له هغوی څخه د کور سورلی او د شيدو استفاده کوم، دوهم جهاد نشم کولای، ځکه چې خلک وايي څوک چې له جهاد څخه وتښتي د الله تعالی په غضب کښې لوېږي، نو زه ويره لرم چې په جنګ کښې شريک شم او د مرګ له وېرې ونه تښتم؛ بشير رضی الله عنه وايي چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) دا خبرې واورېدې خپل لاسونه يې بېرته ټول کړل او راته ويې‌ويل چې نه زکات ورکوي او نه هم جهاد کوي نو جنت ته به څنګه داخل شې؟

بشير رضی الله عنه فرمايي: چې ما ورته ووېل، اې د الله تعالی رسوله! په دې ټولو شرايطو بيعت کوم، نو بيا يې بيعت راسره وکړو. (بيهقي في سنن الکبری)

دا چې نن ورځ دا په ميليونونو مسلمانان د جهاد له فريضې څخه غافل دي او نه يې کوي، حتی ځينې خو تر دې رسېدلي چې د جهاد مخالفت هم کوي، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د وينا مطابق به دوی څنګه جنت ته داخل شي؟

که نن ورځ رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په دنیا کښې وای د دې خلکو اسلام به یې هم نه وو قبول کړی چې جهـاد نه کوي او نه به یې د اسلام بیعت ورسره کړی وو، ځکه چې نن ورځ په اسلامي ټولنه کښې داسې کسان چې جهـاد نه کوي له اندازې زیات دي، بلکې داسې کسان هم زیات دي چې د جهـاد او مجاهدینو مخالفت کوي، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به د دوی په اړه څه فرمایلي وو، که چېرته نن ورځ موجود وای؟!

څوک که جهاد نه کوي نو دوی دې د خپل آخرت په اړه فکر وکړي، خپل راتلونکی ژوند دې وسنجوي، جهـاد الله تعالی ته له ایمان راوړلو وروسته غوره عمل دی، هغه څوک چې دا تر ټؤلو غوره عمل نه کوي نو څنګه به د الله تعالی خواته نیږدې شي؟ څنګه به د الله تعالی محبت ورسره وکړي؟ الله تعالی خپل بندګان په هغه اعمالو ځان ته نیږدې کوي چې غوره وي.

## حق معیار وګرځوئ!

د خپل ځان او کړنو لپاره حق معیار جوړ کړئ، تل هڅه کوئ چې د حق سره موازي رفتار او کړنې ترسره کړئ، په هر کار کښې د حق په لور رجوع کوئ، حق الله تعالی دی، حق مو رسول الله (صلی الله علیه

وسلم) دی، حق مو دین دی، پرته له حق څخه هر څوک او شی د تغیر او بدلېدو احتمال لري، خو د حق بدلېدل نشته، بلکې حق ثابت او په یو حال دی، نو کوښښ وکړئ چې حق د ځان لپاره معیار جوړ کړئ، اشخاص او نور څه د ځان لپاره مه معیار کوئ، تاسې که د حق سره روان وئ، د بدلېدو احتمال به مو نه وي، خو که د داسې څه یا شخص په څنګ کښې روان شئ چې هغه خپله د بدلون احتمال لري، نو ستاسو د بدلېدو احتمال به هم ورسره زيات وي. کله چې مونږ د حق سره برابر او په حق روان وو، نو د حالاتو او شرایطو په تغیر سره به مونږ ثابت پاتې وو، ځکه چې په هر حالت کښې زمونږ معیار حق دی او حق هېڅ تغیر منونکی نه دی؛ د حق لاره نیول له شک پرته چې ځینې ستونزې او تکلیفونه لري، خو په دې کښې هم شک نشته چې حقیقي کامیابي هم په دې کښې ده چې مونږ د حق په اساس وړاندې قدم واخلو، کله مو چې یو حق کار ولیدو بیا یې خامخا ترسره کړئ، مخ مه ورځخه اړوئ، الله تعالی به مخته د تللو توفیق درکړي، ستاسو لپاره صرف قوي اراده په کار ده، الله تعالی د حق په لاره کښې یو څوک یوازې نه پرېږدي،؛ هېڅکله مونږ باید د حق څخه خلاف کار او عمل ونه کړو او نه هم حق پټ کړو الله تعالی فرمایي: وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 42]

ژباړه: او حق ته د باطل جامه مه وراغوندئ (حق له باطل سره مه ګډوئ) او له پوهېدو سره سره  د حق پټولو هڅه مه کوئ!

مونږ باید له الله تعالی سره د دې ایت شریف په اساس وعده وکړو چې یا الله! زه به هېڅکله د یو حق کار په مقابل کښې دروغو او باطل ته رجوع ونه کړم، زه به هېڅکله هغه کار ترسره نه کړم چې له حق سره په ټکر کښې وي، زه به هېڅکله حق پټ نه کړم چې په کوم ځای کښې یې د بیانولو او ښکارولو اړتیا وي؛ نن ورځ چې زیات مشکلات جوړ شوي علت یې همدا دی چې حق پال او حق بیانوونکي خلک ډېر کم شوي او یا هم تر سختو تحدیدونو لاندې دي.

## مسلمانان څنګه له جـهــاد څخه لیرې شول؟

کله چې د مسلمانانو د فتوحاتو لړی په ډېر شور او شدت کښې په مخ روانه وه، د اسلامي خلافت تر سیوره لاندې د اسلام لښکرې روانې وې او کفري ځمکې فتحه کېدلې، د اسلام دعوت هر خوا پراختیا کوله، کفار د مسلمانانو په دین کښې داخلیدل، مسلمانان ورځ په ورځ اروپایي خاورو ته نیږدې کېدل، نو اروپایان په وېره کښې شول، غوښتل یې چې د مسلمانانو د دې زیات پرمختګ او فتحو مخه ونیسي او ځان له دې سخت مشکل څخه خلاص کړي، هغه داسې زمانه وه

چې مسلمانان سره متحد وو، د کـفري نړۍ په مقابل کښې يو لاس وو، د جهاد په غيرتي عقيده سمبال وو، جهاد يې د ژوند اساسي وظيفه ګڼلې وه، په هغه وخت کښې جهاد يو طبيعي امر وو، نو اروپايانو وغوښتل چې د مسلمانانو له منځ څخه اتحاد او يووالی ختم کړي او په مسلمانانو کښې د جهاد او قربانۍ تصور بدل کړي، چې د همدې کار لپاره يې ډېرې غونډې او مشورې سره وکړې د مسلمانانو په خلاف يې بېلابېل پلانونه جوړ کړل ترڅو د مسلمانانو له منځ څخه دا دوه شيان ختم کړي او مسلمانان بې روحه کړي، اروپايان پوهيدل چې د مسلمانانو قوّت د دوی په عقيده، جهاد او اتحاد کښې دی، نو د همدې لپاره يې خپل پلانونه تطبيق کړل ترڅو د مسلمانانو څخه د اسلام اصلي تصور ختم کړي، اتحاد يې له منځه لاړ شي، په خپلو منځو کښې په مشکلاتو بوخت شي او د جهاد فکر يې بدل شي، چې په تدريجي ډؤل اروپايان په دې پلانونو کښې کامياب هم شول، اسلامي نړۍ يې داسې سره ټوټې کړه چې بيا يې يو ځای کېدل د انسان په عقل کښې نه راځي، په خپلو کښې يې په جنګونو او اختلافاتو سره آخته کړل، چې په نتيجه کښې يې خپل اصلي دښمن هېر کړو او په خپلو منځونو کښې سره مصروف شول، د جهاد فکر يې له اسلامي نړۍ څخه پورته کړو چې اوس ډېر کم خلک په اسلامي نړۍ کښې د جهاد او د اُمت د پرمختګ لپاره کار کوي، نور زياتره کسان جهاد

خپله دنده او وظیفه نه ګڼي او نه هم دې لارې ته تیار دي، مسلمانان یې د دنیا او خواهشاتو سره دومره آشنا کړل چې اوس هر چا ته صرف د رزق ګټل داسې ښکارېږي چې ګواکې په پوره دین عمل کوي او خپل مسئولیت ادا کوي، د مدینې منورې صحابه کرام (رضي الله عنهم) یې په یاد نه دي چې دوی په خپلو باغونو کښې مصروف شول، الله تعالی تنبه کړل او ورته ویې ویل چې تاسې په خپلو باغونو کښې ځانونه مه مصروف کوئ بلکې جهاد وکړئ.

قسم دی دا ځای مې ډېر ځوروي چې جهاد د اسلام یوه اهمه او بنیادي فریضه ده، خو زیاتره مسلمانان دا عقیده لري چې ګواکې دا زما دنده نه ده او نه هم په ما فرض دی، دا خو هم پرېږده چې جهاد نه کوي بلکې د جهاد په خلاف ولاړ وي او د جهاد خلاف دلایل او شبهې هم خپروي، دا هم پرېږده، په ځای د دې چې د جهاد تائید وکړي، جهاد ته خلک تشویق کړي، د جهاد په خلاف د دښمن صفت کوي او د هغه د کامیابۍ آرزو لري؛ دا زموږ د اسلامي ټولنې او زیاتره مسلمانانو حال دی، دوی د کفر سره د دښمنۍ نظریه نه لري، کفار ورته بد نه ښکاري، د کفارو په ظلمونو او وحشتونو پرده اچوي، قسم دی داسې خلک زموږ په اسلامي ټولنه کښې ډېر دي، د لمانځه او مسجد خلک دي، سپینږیري خلک دي، خو دا د جهاد مخالفه نظریه

لري؛ الله تعالی دې زمونږ په ټولنه رحم وکړي، الله تعالی دې داسې بې غيرته خلکو ته هدايت وکړي چې د اسلامي ټولنې خلاف نظريات او شبهات خپروي، که د هدايت وړ نه وي تباهي يې غواړو.

نو خبره مې دا کوله چې کفارو د مسلمانانو په خلاف خپل پلانونه د تطبيق پروژو ته تسليم کړل، چې په دې پلانونو کښې يو هم د استشراق فکر او مکتب جوړول دي، استشراق هغه علم ته وايي چې غربيان يې د اسلامي ټولنې، دين، عقيدې، فرهنګ او داسې نورو په اړه ترلاسه کوي او له هغه څخه وروسته د همدې لارې د مسلمانانو په منځ کښې شبهې اچوي او د مسلمانانو په منځ کښې فکري کار کوي، کفارو خپل هغه هوښيار او د حافظې خاوندان راټول کړل او اسلامي نړۍ ته يې راواستول، دلته يې پوره اسلامي علوم زده کړل او پوره مهارت يې پکښې ترلاسه کړو، نو بيا لاړل او د دې لپاره يې کار وکړو ترڅو مسلمانانو ته په خپل دين، فرهنګ او عقيده کښې شبهې ورواچوي، چې په دې کسانو يې مستشرقين نوم کېښود، يعنې د شرقي علوم زده کوونکي يا د اسلامي علومو زده کوونکي.

مونږ په دې کتاب کښې د استشراق په اړه هر ځای تفصيل کړی، استشراق د غرب د فکري جګړې پخوانی نوم دی چې په اوس وخت کښې مونږ فکري جګړه ورته وايو، د کفارو فکري جګړه د همدې

استشراق له مدرسو څخه پيل شوې چې په هر تاريخ کښې بېلابېل رنګونه، طريقې او اهداف لري؛ نو اساسي خبره دا شوه چې کفارو د همدې استشراق په اساس هغه مسلمانان چې تاريخ يې په جهادي کارنامو ډک دی، له جـهاد څخه ليرې کړل، حتی زياتره يې تر دې ورسول چې اؤس د جـهاد په مخالفت کښې ولاړ دي او مجاهدين ورته ښه نه ښکاري، د مجاهدينو مخالفت او په هغه بېلابيلې نيوکې کوي.

## قلم او ټوپک لازم او ملزوم دي

قلم او ټوپک دواړه وکاروئ، ترڅو د اُمـت لپاره د عروج آسمان څکي جوړ شئ، د دواړو قدر او عزت وکړئ، ترڅو په ځمکه کښې عزت واله جوړ شئ، همدا قلم او ټوپک دي چې قومونه پورته کوي، قلم او ټوپک دواړه يو له بل سره لازم او ملزوم دي، که قلم يوازې شي، ممکن انسان له غلامۍ سره مخ شي، که يوازې ټوپک وکارول شي، انسان له ظلم او وحشت کولو سره مخ کوي، په کار دا ده چې دواړه يو د بل په همکارۍ د يو هدف لپاره وکارول شي، ترڅو له افراط او تفريط څخه خلاص هدف ته ورسيږئ؛ رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په خپل ژوند کښې هم قلم کارولی او هم يې ټوپک کارولی، تاسې دې پوه وئ، چې د قلم په چلولو کښې ټول دعوت داخل دی. خوار شوي هغه

قومونه دي چې دوی د ټوپک او اسلحې سره وفا نه ده کړې او د خپل اصلي هدف لپاره يې نه ده کارولې، له خپل اصلي هدف څخه منحرف شوي هغه قومونه چې دوی قلم غورځولی، د جهل په شپو کښې داخل شوي، هغه قوم چې خپله قلم پورته نه کړي، نو تل به يې نور د خپلو ګټو لپاره لوبوي او استفاده به ورڅخه کوي، په کوم قوم کښې چې قلم او اسلحه د پرمختګ په حال کښې وي هغه قوم به د عظمت او لوړوالي په لور روان وي، زمونږ لپاره ټوپک څکه زيات قدر لري چې د اسلامي نظام په راوستلو کښې يې زمونږ متې قوي کړې دي، زمونږ لپاره قلم څکه زيات د احترام وړ دی چې د اسلامي نظام په چلولو کښې يې زمونږ بنسټ قوي کړی، مونږ به ان شاء الله هر يو په خپل ځای راپورته کوو او د دښمن په خلاف به ورڅخه مناسبه استفاده کوو.

## زمونږ لپاره نقش قدم

زمونږ لپاره نقش قدم د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) زمانه ده چې مونږ بايد د هغه په لاره روان شو، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په زمانه کښې چې فکر وشي ټوله د کفارو سره د دښمنی او جهاد سلسله ده؛ له بعثت څخه وروسته په مکه مکرمه کښې د مشرکينو سره دوامداره مبارزه وه چې د حق د دعوت په مقابل کښې

مشرکینو له هېڅ ډول ظلم څخه مخ وانړولو، په رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او د هغې په ملګرو یې بېلابېل اقتصادي او ټولنیز بندیزونه ولګول، چې ۱۳ کاله د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کلکې مبارزې او د کفارو سختې دښمنی دوام وکړو، خو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې په مقابل کښې لکه غر داسې ولاړ وو، د هېڅ شرعي اصل څخه یې تنازل ونه کړو او نه یې له مشرکینو سره کومه لاره ومنله، دا دوره یوه فکري دوره وه چې کفارو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مقابل کښې هر ډول کوښښونه او تبلیغات کول، په څنګ کښې یې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته د دنیا او دنیاوي خواهشاتو پیشنهادونه هم کول، خو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په دې فکري حربه کښې هم بریالیتوب ترلاسه کړو، په سختیو کښې یې صبر ورکړو او په خپله حقه مبارزه کښې یې استقامت له لاسه ورنکړو، دا ۱۳ کلنه د دعوت دوره په همدې کشمکشونو کښې پای ته ورسېده او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره له خپلو ملګرو هجرت کولو ته اړ شو؛ له هجرت څخه وروسته هم د کفارو سره دښمني پای ته ونه رسېده، بلکې دې دښمنی یو بل رنګ خپل کړو، چې په اساس یې الله تعالی مسلمانانو ته زیات قوت او نفوذ ورکړو، د مدني دورې پیل په اسلامي اُمـت کښې د مجد، عزت او برم پیلامه وه چې رسول الله (صلی الله علیه

وسلم) د ټول عرب په سطحه قوي کفارو ته ماتې ورکړه، دا دوره د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د جـهـاد یا غزواتو په دوره شهرت لري، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له هجرت څخه وروسته تر مرګه پورې د کفارو سره جـهـاد وکړو، په دې دوره کښې هم کفارو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مقابل کښې له ډېرو جنګي او فکري حربو څخه کار واخیستو، خو کامیابي الله تعالی مسلمانانو ته ورکړه او کفار یې ذلیله کړل؛ دا ځکه چې مسلمانان په حق دین کلک ولاړ وو او تر هېڅ یو دیني اصل تېر نشول، ځکه چې دین ثابت وو غوښتل یې چې خلک هم ثابت شي او د همدې لپاره نازل شوی وو، الله تعالی چې کوم څه د یو هدف لپاره رالېږي بیا هغه هدف هم ورباندې ترلاسه کوي.

په هر وخت کښې مونږ باید د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له سپېڅلي سیرت څخه درس واخلو، د کفارو سره نرمي کول، په شرعي اصولو کښې له هغه سره سازش او جوړ جاړی کول زمونږ په دین او سیرت کښې نشته، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ټؤل ژوند د کفارو سره په دښمنی او مبارزه کښې تېر شوی، په مونږ هم لازم ده چې همدا لاره یې تعقیب کړو او له کفر سره په ښکاره او پټه دواړو سره دښمني او مبارزه وکړو.

له کفارو سره نرمي کول به د شهيدانو او زخميانو له وينو سره جفا وي، هغه کفار چې د نړی په يوه برخه کښې د مسلمانانو په ناموس لوبې کوي، خو د نړی په بله برخه کښې ورسره تجارت او نورې اړيکې کېږي، دا ځکه چې مونږ اوس د غرب ايجاد سرحداتو ته احترام لرو او په همدې انګريزي سرحداتو مو له نورو مسلمانانو څخه ځان جلا کړی، خو دا ډېره د افسوس خبره ده، ځکه چې د يوې کليمې او يو دين مسلمانان يې په يوه فرضي کرښه سره جلا کړي وي.

## اسلحه مو راواخلئ!

اې د اُمـت ځوانانو! مونږ ته له نيکونو او پلرونو څخه په ميراث کښې اسلحه راپاتې ده، مونږ تر شاه لوی د جهادونو او قربانيو تاريخ لرو، مونږ د تاريخ په پاڼو کښې بې شمېره د مېړانې او غيرت کارنامې لرو، خپل ټوپک مو تر خاورو مه لاندې کوئ، له خاورو څخه يې راوکاږئ، زنګ ته يې مه پرېږدئ، د اسلام په دښمنانو يې استعمال کړئ، که له دښمن سره په جګړه کښې نه ياست او دښمن په لاس نه درځي، نو هره ورځ خپله اسلحه يو ځل را اخلئ، د يوې ډېرې (نښې) په خوا يې برابروئ، په تصور (فکر) کښې د دين دښمنان نيسئ، ورپسې خپله سترګه ورباندې پخوئ، په دې اساس به مو د اعداد فريضه ترسره کړې وي؛ اسلحه د ځوانانو ښايست دی که يې چې په غاړه کښې واچوي،

چانته هم تر ملا ورسره وتړي، خړ ځادر ول ول تر سر تاؤ کړي او د دښمن په طرف روان شي په دې حالت کښې مجاهد دومره ښایسته معلومېږي چې د دنیا ټول ښایستونه د انسان له فکر څخه وزي؛ پخوا په مسلمانانو کښې دا لوی پېغور وو، چې چا به د جهاد اسلحه خرڅه کړې وه او یا به ورڅخه خرابه شوې وه، صحابه کرامو (رضي الله عنهم) د اسلحې قدر کولو الله تعالی د ځمکې پر مخ سلطنت او حکومت ورکړو.

په هر حال اسلحه د ځان لپاره د لارې ملګری وګرځوئ، چې الله تعالی مو عزت په نصیب کړي، اسلحه زمونږ د نیکونو تاریخ رایادوي، چې له کفارو سره یې وربانديې دښمنی کړې دي، عجیبه ده مونږ چې کلاشینکوف ګرځوو وحشتګر مو خلک بولي، کفار چې اټومي اسلحې لري، د حقوق بشر پلاران ځانونه ګڼي، نن ولې کفار د دې هڅه کوي چې مونږ له اسلحې څخه لیرې کړي، په ځای یې د لوبو شیان په لاس راکړي؟ وجه یې دا ده چې مسلمانان چې اسلحه په لاس کښې واخلي بیا به په کفاررو ذلت مسلط وي مسلمانان به په عزت کښې وي؛ کفار ځکه کوښښ کوي چې زمونږ له لاسونو څخه اسلحه واخلي چې مونږ خو د نیکونو د شجاعت او میړانې تاریخ لرو چې په کفارو یې همدا اسلحې استعمال کړې او هغه یې ذلیل کړي دي؛ نن خو

کفار وېره لري که مسلمانانو اسلحه پورته کړه بیا به زمونږ مالونه دوی د غنیمت په ډول ترلاسه کوي؛ خو په تأسف سره باید ووایو چې مسلمانان هم نن له اسلحې څخه غافل شوي او اسلحه نه لري، په ځای د دې چې له کفارو سره په توره او اسلحه مبارزه وکړي، خپل د دنیا په بې‌بقا ژوند کښې آخته وي ترڅو یوه ګوله ډوډی ترلاسه کړي، مونږ وایو چې مسلمانان باید د اسلحې پر مټ رزق وګټي ځکه چې د دې اُمـت روزي د نیزې په سر کښې اېښودل شوې، دوی به خپله نیزه او توره د کفارو په خلاف استعمالوي که کوم مالونه ورڅخه غنیمت شول هغه به خپله روزي ګرځوي؛ په کوم قوم کښې چې اسلحه محدوده شوه او تر خاصو خلکو پورې انتخاب شوه، نو پوه شه چې هغه قوم به د مېړانې په ډګر کښې بریالی نشي.

## د مکې فتحه له اقصی سره!

لنډه مقایسه: کله چې د هجرت په آتم کال مکه مکرمه فتحه شوه، د دې سترې فتحې په غېږ کښې دری لویې فتحې شاملې وې:

۱. د مکې له سرسخته مشرکینو څخه د مکې مظلوم مسلمانان خلاصول، چې هجرت کولو ته یې هم نه پرېښؤدل او دوی د مکې د

مشرکینو له سخت ظلم لاندې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د راتګ په هیله د مظلومیت شپې سبا کولې.

۲. د حضرت ابراهیم علیه السلام یاد (کعبه شریفه: چې مسلمانان هلته د حج فریضه ادا کوي او ټول مسلمانان یې په لوري الله تعالی ته لمونځ کوي) د مشرکانو له بتانو او بت پرستی څخه خلاصول، چې په درې سوه او شپیته بتانو ډکه وه.

۳. د مکې د هغه مشرکینو ماتې چې په ټوله عربي جزیره کښې یې په قوت ظلم او زیاتي کښې ساری نه وو موجود.

همدا رنګه نن هم د اقصی فتحه د وخت امیر المؤمنین ته همداسې انتظار کوي، چې په دې فتحه کښې هم درې لویې فتحې نغښتې او منسجمې شوې دي:

۱. هلته مظلوم مسلمانان د اسرائیلي سر سخته یهودیانو تر سخت ظلم او وحشت لاندې دي او هره ورځ یې قتلوي او بندیانوي؛ همدا مظلومان د آزادی په هیله دي، ترڅو مسلمانان د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په شان لښکر کشي وکړي او هغه مظلوم مسلمانان له مظلومیت څخه خلاص کړي.

۲. د سلیمان علیه السلام یاد (بیت المقدس: چې لمړی قبله وه، د زیاتو پیغمبرانو مسکن او ټاټوبی او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لمونځ پیغمبرانو ته ورکول او له دې ځای څخه اسرا ته سفر، دې ځای ته فضیلت ورکړی او د اسلام په لوړو شعائرو او مقدساتو کښې شامل دی.) همدا د عزت مسجد نن د اسرائیلو ظالمانو په لاس کښې د حسارت شپې سبا کوي او په ریښتیني مسلمانانو پسې د غم او پرېشانی اوښکې تویوي؛ دا هم د آزادی او فتحې په انتظار دی؛ ترڅو مسلمانان ورشي او د مکې مکرمې په څېر یې له حسارت مظلومیت څخه خلاص کړي.

۳. د وخت ظالم او جابر اسرائیلي یهود ځپل او له ماتې سره مخ کول هم د وخت امیرالمؤمنین ته سترګې په لاره دي او مسلمانان همداسې هیله لري چې یوه ورځ به یې له همداسې برخلیک سره مخ کوي، لکه څرنګه چې د مکې مشرکین رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ذلیل او مات شول.

## خپل مزاج د دین تابع کړئ

الله تعالی دې په مونږ رحم وکړي دین مو د خپل مزاج تابع کړی دی، که مو زړه غواړي عبادت او د الله تعالی بندګي کوو، که یې ونه غواړي

هېڅ فکر مو نه وي، الله تعالی زمونږ څخه په سختی او آسانی، په غم او خوشحالی، په يخ او ګرمی کښې عبادت او بندګي غواړي، الله تعالی چې کوم څه په مونږ لازم کړي او له کومو څخه يې منعه کړي يو بايد په پوره پابندی سره يې ترسره کړو، خپل د ځان خواهشات مو بايد د الله تعالی له بندګی او عبادت څخه راونه ګرځوي، بايد د دنيا کارونه مو له عبادت څخه محروم نه کړي او نه مو په عبادت کښې کمزوري راولي، جـهـاد چې الله تعالی په مونږ فرض کړی دی، زمونږ په ټولنه کښې يې زيات خلک نه خوښوي او نه يې ترسره کوي، جـهـاد هم همداسې فرض دی لکه څنګه چې روژه او لمونځ دي، خو زمونږ د ټولنې د خلکو د مزاج او طبيعت سره نه دی برابر، نو ځکه يې نه ترسره کوي، د نن زمانې خلک کوم کار چې په اسانی ترسره کېږي هغه ترسره کوي او کوم کار چې په سختی ترسره کېږي هغه پرېږدي، دا حال زمونږ د ټولنې د زياتو خلکو په مزاج کښې دی چې خپل مزاج ته د دين په کار اوليت ورکوي او د دين کارونه پرېږدي، فکر يې هم همدا وي چې دا کار ګواکي زما هېڅ مسؤليت نه دی، ځينې خلک دومره حد ته رسيدلي چې جنت د خپل ځان حق ګڼي، دا عبادت کول ورته يو اضافي شی ښکارېږي چې ترسره کول يې خپل لازمي مسئوليت نه ورته ښکارېږي؛ کله چې د ماښام آذان وشي، مسجد د کلي په خلکو ډک شي، خو کله چې د ماخستن او سهار د لمانځه وخت

شي يو صف خلک هم نه پوره کېږي؛ مانښام خو د مسجد د بنډار لپاره راځي، خپل طبيعت يې همدا دی نو ځکه د مانښام لمونځ کوي، د ماخستن او سهار په لمانځه کښې يې په نفس سختي راځي هلته بيا د خپل نفس او مزاج بنده کېږي او مسجد ته نه راځي، د ماسپښين او مازيګر د لمانځه په وخت کښې په دنيايي کارونو آخته وي مسجد ورڅخه هېر وي، حتی لمونځ هم هغه د کار په چټل لباس کښې ژر ژر وکړي او بېرته په خپل کار پيل وکړي؛ دا زمونږ د ټولنې د زياتو خلکو حال دی چې خپل طبيعت يې په دين مقدم کړی دی، د خپل نفس او هوا لپاره که په دين کښې ځای ويني ترسره کوي يې که يې نه ويني، نو هغه د دين کار ورته پرېږدي خو د خپل نفس او حوس په لاره روانيږي؛ الله تعالی به له داسې خلکو څخه سخت حساب واخلي، ځکه چې دا د کبر عمل دی، حق دا دی چې بايد په سختۍ او آسانۍ کښې دين ته اوليت ورکړل شي او هر کار بايد د دين په سيوره کښې ترسره شي؛ کوم کار چې په دين کښې وي ترسره شي او کوم کار چې په دين کښې نه وي بايد ځان ورڅخه وساتل شي.

## له کفارو سره الله تعالی دښمني لري

مونږ بايد له کفارو سره کرکه او دښمني ولرو، د کفارو سره دښمني زمونږ د ايمان برخه ده، اسلام او کفر نه سره يو ځای کېږي مګر په

اسلام یا کفر سره، مونږ ځکه باید له کفارو سره سخته دښمني ولرو، چې الله تعالی له کفارو سره سخته دښمني لري، ځکه تاسې وګورئ، چې الله تعالی هغه کسانو ته ځومره زيات انعامونه منلي چې جهاد کوي او له کفارو سره دښمني کوي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: هغه څوک چې کافر ووژني الله تعالی یې بیا په اور کښې هېڅکله نه ورسره یو ځای کوي. دا خو طبعي خبره ده چې کافر ووژل شي جهنم ته به ځي او د دوزخ له سرو اورونو سره به ملاقي کېږي، هغه څوک چې کافر یې وژلی وي بیا یې الله تعالی له دې کافر سره په جهنم کښې نه یو ځای کوي، ورڅخه ساتي یې، نو په همدې اساس د کافر وژل د یو مسلمان لپاره لوی نعمت دی چې الله تعالی یې یو چا ته ورکوي، راځئ! چې له نن څخه وروسته له خپلو ځانونو سره وعده وکړو چې زه به یو کافر خامخا وژنم ترڅو کافر جهنم ته لاړ شي او ما الله تعالی له جهنم څخه وساتي. الله تعالی له کفارو سره دومره دښمني لري چې مسلمانانو ته یې په قرآن کریم کښې واضح ویلي چې دا کافران ووژنئ هر ځای مو چې پیدا کړل. کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په بدر کښې اویا مشرکین ونیول او بندیان یې کړل، حضرت عمر رضی الله عنه وفرمایل چې هر څوک دې خپل نسبي دوست قتل کړي، مونږ له مشرکینو سره هېڅ محبت نه لرو او سخته کرکه ورسره لرو. بیا وروسته دا مشرکین د فدیې په بدل کښې خوشي

شول، خو د الله تعالی د حضرت عمر رضی الله عنه مشوره خوښه شوې وه؛ الله تعالی دا خوښوي چې له کفارو سره باید سخته دښمني او نفرت وشي، له دوی سره باید له نرمښت څخه کار وانخیستل شي. همدارنګه مونږ ته له نیکونو څخه راپاتې میراث د کفارو سره دښمني ده، مونږ باید په هېڅ وخت کښې له کفارو سره خپلې دښمنی ته د پای ټکی کېنږدو، مونږ به ترهغه وخته له کفارو سره دښمني کوو ترڅو دوی اسلام ته غاړه کېږدي، یا جزیه قبوله کړي او یا ټؤل مړه او هلاک شي؛ البته مسلمانان چې کله له کفارو څخه جزیه اخلي بیا هم باید کافر ذلیل وي او مسلمانانو ته په کار ده چې بیا هم کرکه ورڅخه وکړي، زمونږ رب جل جلاله مونږ ته له کفارو سره د دښمنی ترغیب راکوي، زمونږ دین مونږ ته له کفارو سره د نفرت او کرکې درس راکوي، زمونږ تاریخ مونږ د کفارو سره د دښمنی او جـهـاد په لاره روانوي.

## د اُمـــــت کامیابي د هر مسلمان د هڅې نتیجه ده

الله تعالی مسلمانانو ته د یو شخص او فرد په اساس فتحه نه ورکوي، په دې کښې شک نشته چې د مسلمانانو په فتوحاتو کښې د قوي او مدبرو مشرانو او اشخاصو رول مؤثر او ګټور وي، خو مسلمانان باید هېڅکله داسې فکر ونه کړي چې مونږ ته الله تعالی فتحه د پلانکي او پلانکي شخص په اساس راکوي، د خالد بن ولید رضی الله عنه په

قوماندانی کښې چې مسلمانانو په هر جنګ کښې فتحه ترلاسه کوله، د ځينو مسلمانانو سره داسې فکر پيدا کېدو چې دا فتحه د خالد بن وليد رضی الله عنه د تدبير او اعلی رهبری نتيجه ده، نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دا ثابته کړه چې د خالد بن وليد رضی الله عنه له مشری پرته هم مسلمانان بريالي کېدای شي او ابو عبيده رضی الله عنه يې په شام کښې د لښکر سر مشر کړو، چې بيا هم مسلمانان په مخ روان وو او د فتوحاتو لړی له خنډ سره مخ نه شوه. الله تعالی مسلمانانو ته فتحه د اسلام او عقيدې په خاطر ورکوي، مسلمانانو ته هېڅکله نه ده په کار چې د مسلمانانو پرمختګ او فتحې خاصو اشخاصو او قومونو ته منسوب کړي، الله تعالی له مسلمانانو سره د اتحاد، وروروليی او ايمان په اساس مرسته کوي، مسلمانانو چې په کوم تاريخ کښې مېړانه او غيرت کړئ، د دين او جـهاد لاره يې نيولې ده، الله تعالی فتحه او کاميابي ورباندې لورولې ده، د افغانستان د اسلامي امارت اساس اېښوډلو ابتکار زمونږ رهبر حضرت ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله کړی دی او دا واقعا هم د اُمـت لپاره ډېر لوی کار دی، الله تعالی غوښتل چې دا تحريک رامنځ ته کړي، خو د مشر ملا صاحب محترم انتخاب يې په هغه لويه پېرزوينه کړې، په هغه کښې يې د غيرت او عدالت آثار ليدل، نو ځکه يې هغه د دې لوی تحريک د مشر په حيث انتخاب کړو، پرته له اسبابو او اشخاصو

يې صرف د الله تعالی په توکل پيل وکړو، خو وروسته په ځنګ کښې ورسره د مسلمانانو درېدل او د ده ترځنګ قربانۍ ورکول هم هغه اسباب دي چې يو لوی اتحاد د جهاد او قربانۍ کېښودل شو، چې بيا يې د يو پوره ملک او نظام بنه خپله کړه تر دې چې د نړۍ يو پوره قطب يې د ماتې او ذلت سره مخ کړو؛ په اسلامي اُمت کښې يې نوی روح واچولو او اُمـت يې له تورو تيارو ځخه رڼا ته راويستلو، اروپايان او غربيان پوهېدل چې په نړۍ کښې همدا يو ځای اسلامي حرکت او نظام پاتې دی نو يې دا ځل د نورو صليبي جنګونو په خلاف يوازې په افغانستان حمله وکړه او دا سپېڅلی نظام يې تيت پرک کړو، بيا هم هغه د حضرت ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله او د هغه د ملګرو مجاهدينو هڅې وې چې بيا يې يو قوي جهادي لښکر تيار کړو او د صليب په لښکرو يې په افغانستان کښې ناتار جوړ کړو، همدا مجاهدين چې د نړۍ له هرې برخې ځخه راغلي وو د کفارو په مقابل کښې ودرېدل او نه ستړې کېدونکې او نه ماتېدونکې جګړه يې د صليب په خلاف روانه کړه، هغه لوی رهبر حضرت ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله د خپل رب جل جلاله په لور وکوچېدو، خو د لښکر په فتوحاتو او پرمختګ کښې کوم خنډ رامنځ ته نشو، بلکې د شهيد ملا اخترمحمد منصور تقبله الله په سر مشرۍ کښې نور هم مسلمانان منسجم، قوي او پرمختللي شول، په ډېره لنډه موده کښې

دا مدبر او شجاع رهبر هم د الله تعالی په لور وکوچېدو او شهيد شو، له هغه څخه وروسته اوسنی اميرالمؤمنين شيخ هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله مشر وټاکل شو، خو بيا هم په مسلمانانو کښې کوم بدلون رانغلو، بلکې نور هم پرمختللي شول، تر دې چې هغه مغرور صليبي لښکر له ماتې سره مخ شو او ذليل له افغانستان څخه ووتل؛ که دې پړاو ته په ښه ډول ځير شو نو مونږ ته به معلومه شي چې د مسلمانانو فتحه په خاصو اشخاصو پورې اړه نه لري، بلکې الله تعالی مسلمانانو ته فتحه د دين او عقيدې په خاطر ورکوي، که چېرې دا نظام يوازې په لوی ملا صاحب محترم ولاړ وای، خو بايد د هغه له وفات سره دا حرکت هم پای ته رسېدلی وای، بيا هم وايم چې د ځينو رهبرانو او جنګ سالارانو تدبير او تکتيک له موثريت څخه خالي نه وي، چې هغه بايد د هغه په شخصي صفاتو کښې منحصر شي، د ټول اُمـت لاسته راوړنه بايد يو شخص او فرد ته منسوب نشي، ځکه چې دلته د نورو افرادو کارنامې صرف نظر ګرځي، چې دا بيا له عدالت څخه لرې اقدام بلل کېږي.

## آزادي

آزادي يوه داسې اصطلاح ده چې د تاريخ په اوږدو کښې په بېلابېلو تعبيرونو سره ژباړل شوې ده او د زياتو مفهومونو لپاره کارول شوې،

آزادي ډېر اړخونه لري، لکه: ديني، سياسي، اقتصادي، فرهنګي، فکري او داسې نور، چې په همدې اساس يې تعبير هم د حالاتو په تغير سره بدليږي.

خو د مسلمانانو له ليدلوري څخه آزادي دې ته وايي چې خلک د الله تعالی په بندګۍ کښې داخل شي، نور د هر شي او شخص له مستقلې پيروی څخه خلاص شي؛ د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په زمانه کښې آزادي دې ته ويل کېده، چې چا به د توحيد کليمه وويله، په يو الله تعالی به يې ايمان راوړو، د بتانو او نورو سرکښانو کفارو له غلامۍ او بندګۍ څخه به آزاد شول، د دين له اصولو څخه به يې پيروي کوله، په څمکه کښې د هېڅ شخص د اصولو پابند به نه وو، صرف د الله تعالی د لارښوونو پابندي به يې کوله او د اسلام په مبارک دين کښې به داخل شو، همدې شخص ته يې آزاد او خپلوک ويل.

حقيقي آزادي همدا ده، چې انسان د انسانانو او طاغوتي قوانينو څخه آزاد وي؛ لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ [سُوۡرَةُ الذّاريَات : 56]

ژباړه: او ما پيريان او انسانان له دې پرته چې زما بندګي وکړي، د بل څه کار لپاره ندي پيدا کړي.

نو په همدې اساس د انسان خلقت د همدې لپاره شوی چې یوازې د الله تعالی بندګي وکړي او د الله تعالی له اصولو څخه پیروي وکړي، اوس که انسان د انسانانو یا طاغوتي قوانینو پابند شي، نو انسان به له خپلې آزادۍ څخه محروم شي، چې داسې انسان خپلواک نه بلل کېږي، ځکه چې انسان پرته له الله تعالی څخه د خلکو او طاغوتیانو له پیروۍ څخه خلاص نه دی.

مسلمانانو د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له زمانې څخه تر نن ورځې پورې د همدې لپاره مبارزه او جهاد کړی ترڅو خلک د خلکو له بندګۍ او غلامۍ څخه خلاص کړي، د الله تعالی په بندګۍ کښې یې داخل کړي، چې د حقیقي آزادۍ همدا صورت دی؛ د مسلمانانو مبارزه حق ځکه ده چې د الله تعالی بندګۍ ته خلک رابولي او د انسان پیدایښت د همدې لپاره شوی ترڅو د الله تعالی عبادت وکړي؛ که یو څوک د بادار له خوښې پرته کارګري د بل چا لپاره کوي، وروسته به هغه بادار دې شخص ته مزدوري ورکړي؟ هېڅکله نه، بلکې همداسې به یې رخصت کړي او سزا به هم ورکړي؛ همدا رنګه الله تعالی هم هغه چا ته اجر ورکوي، چې د الله تعالی بندګي او عبادت وکړي، ځکه چې الله تعالی د همدې لپاره پیدا کړی دی، اؤس که یو څوک د الله تعالی څخه بغیر د بل څه یا شخص مطلق پیروي کوي، نو الله تعالی

به ورته په قهر کېږي او عذاب به ورکوي. په همدې اساس د الله تعالی تر ټولو بهترینه بندګي همدا ده چې يو شخص خپله هم د الله تعالی عبادت کوي او نور خلک هم ورته دعوت کوي، تر ټولو آزاد خلک همدا دي چې خپله هم د طاغوت له پیروی څخه نفرت کوي او نور خلک يې هم له پیروی څخه منعه کوي؛ همدا خلک مجاهدين دي چې د طاغوت د پرزولو او د الله تعالی بندګی ته د خلکو رابللو لپاره په مېړانه مبارزه او جـهـاد کوي؛ الله تعالی چې له مجاهدينو سره زيات محبت لري، هغه هم په همدې خاطر چې مجاهدين د شرک او طاغوت رېښې کاږي او د الله تعالی بندګی ته خلک رابولي، د کوم څه لپاره چې الله تعالی انسان پيدا کړی، مجاهدين يې د هغه په لور دعوت کوي. اوس که کوم څوک د الله تعالی پیروي کوي آزاد بلل کېږي او کوم څوک چې د الله تعالی څخه بغير د بل چا پیروي کوي هغه بيا آزاد نه بلل کېږي، ځکه چې د هغه واک او اختيار په خپله اراده کښې نه وي.

## په هر علمي مرکز کښې بايد سياست شامل وي

زمونږ د مدرسې او پوهنتون محصل له فراغت سره يو ځای بايد د سياست په ډګر کښې پوره پوهه او معلومات ولري، مونږ بايد د مدرسې او پوهنتون څخه په هر پړاؤ کښې د سياست اتلان فارغ کړو،

زمونږ مدرسه او پوهنتون باید له سیاست سره مستقیمه اړیکه ولري، مونږ باید هېڅکله تعلیمي مراکز له سیاست څخه جلا نه کړو، مونږ چې کله خپل ټول نسل په سیاست کښې پوه کړو نو د کفارو لپاره به ټوله ټولنه د یو فولادي دیوال حیثیت پیدا کړي، چې په هېڅ ځای کښې به هم د دوی لپاره د مداخلې ځای پیدا نشي، کفارو په هره زمانه کښې کوښښ کړی چې زمونږ په خلاف له همدې علمي مراکزو څخه کار واخلي او زمونږ په خلاف د فکر او علم خاوندان وکاروي، په ځای د دې چې زمونږ ځوانان له سیاست څخه ځان لرې محسوس کړي، باید عملاً په سیاست کښې داخل وي، د مدرسې او پوهنتون نصاب باید داسې جوړ وي چې د سیاست او جـهـاد هره برخه پکښې نغښتې وي، مونږ له مکتب څخه صرف د اقتصاد جوړونې لپاره محصلین نه فارغوو، همدا محصلین باید د نظام د ثبات لپاره لوی لوی کارونه وکړي، باید په نړیوال سیاسي حالت پوره پوهه ولري؛ په څنګ کښې باید عقیدوي روزنه ورکړل شي، ترڅو اسلام او اسلامي نظام ته پوره ژمن او په اخلاص هڅې وکړي؛ همدا رنګه له مدرسې څخه فارغ شوی فاضل صرف جماعت او امامت خپل کار ونه ګڼي، هغه هم باید له سیاست سره تړلی وي، په ټولنه کښې باید زیات فکري کار وکړي، د کفارو نظریات او کفري حربې باید په ډېر مهارت او هوښیارتیا دفعه کړي، ټولنه په دینې او اسلامي زیور ښایسته کړي.

# قلم راپورته کړئ

اې د قلم خاوندانو! د قلم په ذريعه مبارزه وکړئ، له خپل قلم څخه جهادي توره جوړه کړئ، د کفارو رېښې پرې وکاږئ، د قلم په مټ کفري افکار راوسپړئ او په مناسبو طريقو يې باطل‌والی تشريح کړئ.

اې قلموالو! نن ورځ د خپل قلم جوهر ښکاره کړئ، نن ورځ دين کماحقه ابلاغ کړئ، د ليکلو په وخت کښې د هېڅ شخص خاطر مه کوئ، د ځان لپاره حق معيار وګرځوئ، کومه ليکنه چې د حق سره برابره وي، هغه ليکنه حق هم وي، نو ځنډول يې مناسب نه وي.

د قلم پورته کول د ډېرو لويو کارونو څخه دی، الله تعالی بشريت ته علم د قلم په ذريعه رسولی، لکه چې فرمايي: الَّذِى عَلَّمَ بِالْقَلَمِ [سُوۡرَةُ العَلَق : 4]

ژباړه: هغه (الله تعالی) چې د قلم په مرسته يې (انسان ته) علم وښودی.

د علم يوه اهمه او مؤثره وسيله قلم دی چې په اساس يې له يو نسل څخه بل نسل ته علم رسول کېږي او د علم د ساتنې لپاره کار ورڅخه اخيستل کېږي، مونږ ته په کار ده چې هر وخت په قلم سره داسې څه

ولیکو چې حق وي او د خیر وړانګې خپرې کړي، ترڅو مو راتلونکو نسلونو ته د لارې مشال وګرځي او لاره ورڅخه ورکه نشي.

قلم ډېر لوړ منزلت لري، مونږ ته په کار ده چې قلم له خپلو اړوندو ټولو حقوقو سره پورته کړو، د قلم عزت وکړو، الله تعالی په قرآن کریم کښې په قلم سره قسم اخیستی، رب ذولجلال چې په کوم څه سره قسم اخلي هغه شی ارزښت واله وي او خاص خصوصیات لري، رب کریم جل جلاله فرمایي: نٓ ۚ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ [سُوۡرَةُ القَلَم : 1]

ژباړه: نون؛ قسم دی په قلم او په هغه څه چې لیکونکي یې لیکي.

له دې ځای څخه څرګندېږي چې قلم او لیکوالي ډېر ارزښت لري، ځکه چې الله تعالی قسم وربانديې اخلي؛ مونږ ته په کار ده چې خپل قلم خاص د دین خدمت ته وقف کړو؛ شخصي خصومتونو، قوم پرستی، ناروا کارونو او دنیا دوستی ته باید دعوت پرې ونه کړو.

اې قلموالو! دا کوچنی قلم چې ستاسو په لاسونو کښې دی دا ډېر څه کولی شي، د تورې او ټوپک څخه زیات هم د دښمن په خلاف استعمالېدلی شي، ځینې وخت ستاسو د وړې لیکنې په ذریعه د دښمن لوی لوی پلانونه له منځه ځي، ځینې وخت د یوې وړې لیکنې په اساس زیات ځوانان د ټوپک او تورې پورته کولو ته تیارېږي، نو هر

څۀ چې لیکئ په غټ نیت او اراده یې ولیکئ؛ تر څو لوی اهداف ترلاسه کړئ.

اې لیکوالانو! خپل قلم باثمره کړئ، په خپل قلم کښې د مسلمانانو لپاره د مینې، ورورولۍ، ایمانداری او اتحاد سیاهي واچوئ، د قلم رنګ مو باید د کفارو لپاره د زهرو په څېر وي، تل هڅه کوئ چې کفري افکار مردود کړئ اؤ اسلامي ټولنه ورڅخه پاکه کړئ.

اې د علم څښتنانو! تاسې خپل مسئولیت وپېژنئ، د ټولنې د پرمختګ لپاره په ټولنه کښې د علم څراغونه بل کړئ، د ټولنې خلکو ته د ایمانداری درس ورکړئ، خلکو ته د جـهاد په لاره د تللو ترغیب ورکړئ، ټولنه د جـهاد خوا ته نیردې کړئ، د دنیا دوستۍ او شهوت پرستۍ څخه خلک د آخرت په لور سوق کړئ.

اې قلموالو! د خپلې ټولنې رنځ وپېژنئ، له ټولنې څخه ناپوهي ختمه کړئ، ترڅو ټولنه د پوهې په څراغ روښانه شي.

## الهي سنت څنګه دي؟

له کوم وخت نه چې عثماني خلافت له منځه تللی، بیا هم په اسلامي نړۍ کښې ډېر اسلامي قیادتونه قدرت ته رسېدلي، خو وروسته چې دوی خپله تګلاره بدله کړې ده، د غربي دنیا سره یې سیاسي همجهته

تګلورى غوره کړى، صرف يې نوم د اسلامي پاتې شوى، نور يې اسلام په پوره اندازه شاته غورځولى؛ دا د الله تعالى سنت دي، کوم حکومتونه چې له شرعي اصولو څخه واوړي، الله تعالى يې مرسته نه کوي او له منځه يې وړي، الله تعالى هغه نظامونو ته چې په ديني او شرعي اصولو کلک ولاړ وي، نور هم ثبات او کلک‌والى ورکوي.

د اسلامي قيادتونو د له منځه وړلو لپاره اوس وخت کنبې عسکري جنګ دومره مهم نه دى لکه څومره چې فکري او سياسي جنګ مهم او موثر دى، په عسکري جنګ کنبې به مسلمانان له داسې ماتې سره مخ شي چې يوازې د دنيا په اساس به ماتې وخوري، بلکې په فکري جنګ کنبې کفار کوښښ دا کوي چې د مسلمانانو د بريالتوب روح (عقيده) له منځه يوسي چې د دې سره مسلمانان دنياوي او اخروي دواړه تاوانونه کوي؛ غربي نړى نن ورځ همدا جګړه په مخ روانه کړې ده او د مسلمانانو له غفلت څخه په پوره ډول استفاده کوي، غربيان کوښښ کوي چې مسلمانان له خپل شريعت څخه واړوي او د خپل ځان په څېر يې د انساني قوانينو تابع کړي، چې نن ورځ يې په اسلامي نړى کنبې همدا پلان تر ډېرې اندازې بريالى هم دى، نن ورځ د ويښ ضمير، کلک ايمان او د احساس خاوندان مسلمانان په اسلامي نړى کنبې ډېر کم دي چې د کفارو سره په هغه شکل دښمني وکړي، څنګه

چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم)، صحابه کرامو (رضي الله عنهم) او پخوانیو مسلمانانو کړې ده، نن ورځ مسلمانان په یو ډول نه یو ډول له کفارو سره تعامل او اړیکې جوړوي.

نن ورځ ولې د ایران، پاکستان، ترکیې، عربي هېوادنو او نورو تش په نامه اسلامي هېوادونو د اشغال خطره نشته؟ ولې په هغه هېوادونو حملې نه کېږي؟ مشکل همدا دی چې دوی په خپلو هېوادونو کښې هغه څه تطبیق کړي، د کوم څه چې غربیان غوښتنه کوي، دوی له دین او شریعت څخه لیرې شوي، نو ځکه غربیان کوم مشکل نه ورسره جوړوي، دوی انساني قوانینو ته غاړه ایښې ده، نو ځکه یې نړیوال په رسمیت پیژني؛ دا یو افغانستان دی چې هرڅوک یې په سر وهي، کله انګرېزان راځي، سیکولر نظام په موږ تپي، جهـاد او دین مو د سیاست له نقشې وباسي، له نظام څخه مو وباسي، په مسجد او مدرسه کښې مو منحصر کوي؛ کله شورویان راځي، کمونېستي نظام راته جوړوي، زموږ دین او شریعت لغوه کوي، د مارکس او لیننګ انسان وژونکې مفکورې راباندې تطبیق کوي؛ کله امریکایان او ناټو راځي راته وایي چې ډیموکراسي ومنئ، د ډیموکراسۍ تر چتر لاندې ځانونه برابر کړئ او خپل دین مو د تکیې په صندوق کښې واچوئ؛ دا خلک ولې په موږ هر وخت حملې کوي؟ ولې په دومره اسلامي نړۍ

کښېږي دا کوچنی هېواد نه پرېږدي؟ دا ځکه چې مونږ د دوی سره هغه نظريې نه تائيدوو چې زمونږ له دين سره برابرې نه وي؛ مونږ له دوی سره کفر او د طاغوت حاکميت نه منو، مونږ نه غواړو چې سيکولريزم، کمونيزم او ډيموکراسي دلته رېښې وکړي او تطبيق شي؛ د نړی کفارو د اسلام تاريخ مطالعه کړی چې مسلمانان په ډېر کم تعداد سره هم کولای شي چې د ايمان او الهي قوانينو په مټ د نړۍ زورور کفر په خطر کښې واچوي؛ نو ځکه يې اوس متې بډ وهلې دي ترڅو مونږ هم له خپل دين او عقيدې څخه ليرې کړي، ترڅو د دوی نظرياتو تطبيق کولو ته لاره هواره شي؛ خو مونږ وايو ترڅو چې د دې ځمکې ډېر کم تعداد خلک په خپل دين کلک ولاړ وي هم به دلته کوم کفري فکر راڅخه تطبيق نشي، ان شاء الله.

تاسې فکر وکړئ، د کفر کوم قانون او منشور به داسې وي چې زمونږ له دين سره جوړ او برابر وي؟ مونږ ته خو الله تعالی واضح وېلي په قرآن کريم اعلی کتاب کښې چې کفار د مسلمانانو دوستان نشي جوړېدلای، کفار تر هغه وخت کوښښ کوي ترڅو چې مسلمانان له خپل دين څخه واړوي.

الله تعالی فرمايي: وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَآءً ۖ [سُوْرَةُ النِّسَاء : 89]

ژباړه: هغوی دا خوښوي لکه څنګه چې خپله کافران دي، هماغسې تاسې هم کافران شئ؛ تر څو تاسې او هغوی ټول سره برابر شئ.

کله چې مسلمانانو خپل دين ورته پرېښودو، وروسته به دوی ورسره ملګرتيا کوي، د دوی نظام به په رسميت پېژني، د دوستۍ اړيکې به سره لري، يو او بل ته به مناسبتي مبارکيانې ورکوي، يو له بل سره به په غم او درد کښې شريک وي؛ خو دا هم ياد لرئ چې مسلمانان هرڅومره تر خپل دين ورته تېر شي، بيا يې هم کفار د غلامۍ له درجې څخه نه پورته کوي، ضرور به د کفارو غلامي هم ورسره کوي.

نن چې په نړۍ کښې تش په نامه اسلامي هيوادونه شتون لري، ټول د غرب په دروازه ولاړ دي او غلامي ورته کوي؛ په نړۍ کښې دوه قطبونه زورور دي چې نور هيوادونه يې په محور راڅرخي، د يو قطب په رأس کښې امريکا او د بل قطب په رأس کښې روسيه ده؛ نن ورځ چې د دې دوو قطبونو څخه څوک پيروي ونه کړي، د يو يتيم او بې سرپرسته په شکل ښکاره کېږي، خو مونږ وايو چې زمونږ لپاره يوازې د الله تعالی مرسته او نصرت کفايت کوي، د دين په خاطر که ټوله دنيا هم دښمني راسره وکړي، تر خپل دين به ورته تېر نشو، زمونږ د ژوند او تګلارې په اړه دې پردي خلک تحليل نه کوي او نه دې مونږ ته د ژوند تېرولو لارې توصيه کوي، مونږ د خپل دين په اساس په دنيا

کښېږ ژوند کوو، دا دنیا د یوې ذریعې په ډول د آخرت د ژوند لپاره کاروو، په دنیا کښې که ژوند وي هم د دین په اصولو یې غواړو او که مرګ وي هم له دین او ایمان سره یې له خپل رب جل جلاله څخه غواړو.

## مجاهدین بریالي دي

په داسې حال کښې چې یوه لویه فریضه مو په غاړه پرته ده، په داسې حال کښې چې د دین د اقامې لپاره لوی مسئولیت راپه غاړه دی، په داسې حال کښې چې د الله تعالی د یو امر اداینه رابانديې لازمه ده، په داسې حال کښې چې جـهـاد د اُمـت په هر فرد فرض عین کړل شوی، نو هغه څوک به د الله تعالی په وړاندې کامیاب وي چې په اوسنیو شرایطو کښې د جـهـاد په لاره قدم اخلي، د الله تعالی د رضا لپاره له کفر سره دښمني کوي او په همدې لاره کښې تر خپل ځان او مال قربانولو پورې ولاړ وي.

د دین دا لویه فریضه د اُمـت په زیاته برخه کښې فلج شوې او هېره شوې ده، الله تعالی چې کوم څه په مسلمانانو فرض کړي پرېښوؤدل یې کبیره ګناه وي، نو په همدې خاطر نن ورځ چې مجاهدین بریالي دي هغوی دا لویه فریضه ترسره کړې او له ترک څخه د ځان ساتلو په

ذریعه يې ځان د کاميابۍ پړاؤ ته رسولی دی؛ هغه څوک چې په اوسنيو شرايطو کښې جهاد نه کوي نو د کبیره ګناه په سبب په لوی زيان او تاوان کښې مبتلا دي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: څوک چې نه جهاد وکړي، نه د جهاد اراده وکړي، نه هم د جهاد لپاره دعوت وکړي او مړ شي، دا کس د منافقت له مرګ څخه په يو ډؤل مړ شو.

نن ورځ مجاهدينو د الله تعالی دې سخت امتحان ته ځان ورکړی، نن ورځ مجاهدينو په ډېرو کمو اسبابو سره د نړۍ له لويو قوتونو سره دښمني پيل کړې ده، نو په داسې حالاتو کښې به ولې مجاهدين کامياب نه وي؟

زمونږ لوی مشکل چې نن ورځ ورسره لاس او ګريوان يو هغه دا دی چې دنيا مو خوښه کړې، د آخرت ژوند مو هېر کړی، نن ورځ مونږ فکر کوو چې مرګ په جهاد کښې دی، خو په دې ځای مونږ نه پوهيږو چې حقيقي ژوند په جهاد کښې دی، ځکه که شهيد شې هم د الله تعالی په نزد ژوندی يې، نو بيا ولې د خپل ځان لپاره په جهاد کښې خطر محسوسوئ؟ ولې د جهاد له فريضې څخه وېره کوئ؟ ولې د محشر سختۍ او عذابونه درڅخه هېر دي؟ ولې دا جهاد په خپل ځان فرض نه ګڼئ؟ نن ورځ زياتره خلک دا فکر کوي چې دا جهاد به ګواکي يو

اختياري او شوقي عمل وي، كه يې څوک کوي ثواب دی او كه يې څوک نه کوي هېڅ مشكل نشته؛ خو په حقيقت كښې داسې نه ده، جـهاد يو الهي امر دی، په هر مسلمان فرض عين دی، څوک يې چې کوي کامياب به وي څوک يې چې نه کوي د الله تعالی په وړاندې به ملامت او د لويې ګناه مرتكب وي.

لكه څرنګه چې لمونځ فرض عين دی، د يو لمانځه په قضاء كولو سره ځان لوی ګناه‌کار ګڼو همداسې جـهاد هم فرض عين دی او همداسې ورباندې ګناه‌کار کېږو لكه د لمانځه په قضاء سره.

كه يو څوک لمونځ قصداً پرېږدي هرڅوک ګوت‌څنډنه ورته کوي او ملامتوي يې، خو نن چې په ميليونونو مسلمانانو د جـهاد پاكه او سپېڅلې فريضه ترک کړې ده ولې يې څوک نه ملامتوي؟ ولې څوک نه ورته وايي چې تاسې د كبيره ګناه مرتكب ياست؟

په دې پوه شئ، چې د جـهاد د فريضې پوښتنه به بيا الله تعالی په ډېر عدالت سره وكړي، ځكه چې دا هرڅه الله تعالی څاري او ويني، الله تعالی ته غيرتي مسلمانان خوند وركوي او د غيرت تقاضا همدا وي چې انسان بايد جـهاد وكړي، د كفارو سره كركه او دښمني ولري.

دا نن چې خلکو یوازې په لمانځه او روژه سره اکتفاء کړې او د جـهاد فریضه یې شاته کړې دا خلک به بیا په کومو سترګو د شهیدانو او یتیمانو په حضور کښې الله تعالی ته جواب ورکوي؟ دا خلک به بیا د دې آیت جواب څنګه ورکوي چې الله تعالی فرمایي: کتب علیکم القتال؟

هغه څوک چې د الله تعالی په لاره کښې یې جـهاد کړی او د دین دښمنان یې خپل دښمنان ګڼلي، هغه به د الله تعالی په حضور کښې په لوړ سر ولاړ وي او الله تعالی به یې جنت ته داخلوي، د صحابه کرامو رضی الله عنه سره به یې یو ځای جنت په نصیب کوي.

## علماؤ ته!

زیات علماء اؤس د دین په یوه برخه کښې خدمت کوي او داسې فکر کوي چې ګواکي پوره مسئولیت یې ترسره کړی دی، خو داسې نه ده، علماء د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وارثان دي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دین په ټولو برخو کښې خپل مسئولیت په پوره ډول ترسره کړی دی، نن ورځ که علماء په ټؤلو برخو کښې خپل مسئولیت ترسره نه کړي څنګه به د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وارث وګڼل شي؟! په داسې حال کښې چې د دین زیاتې برخې فلج

دي، لکه جهاد او له کفارو سره دښمني، نن ورځ علماء وېره لري چې په جهادي دعوت کښې به له خطر سره مخ شي، نن ورځ علماء وېره لري چې په طاغوت رد کول به يې د سر خطر وي؛ خو زه وايم چې آيا د نن ورځې علماء د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه محترم دي، چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د مکې د مشرکينو په منځ کښې په شرک رد کولو؟ آيا په دې سره رسول الله (صلى الله عليه وسلم) تکليفونه او سختۍ تېر نه کړل؟ آيا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د نن ورځې تر علماؤ محترم نه وو چې د مشرکينو او يهودو په خلاف به يې زغره اچولې وه، توره به يې په لاس کښې وه او د جګړې په أول خط کښې به يې جنګ کولو؟ آيا له دې څخه تاسې عبرت نه اخلئ چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په دې دين د طائف په کوڅو کښې په ډبرو وېشتل کېدو او په سرو وينو ورنګول شو؟ آيا د نن ورځې شيخان محترم له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه ډېر د عزت واله دي چې په مدرسو او مسجدونو کښې په سپينو جامو کښې ناست دي او رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د غزا په ميدان کښې په سرو وينو لړلی وو او په کوهي کښې ولوېدو؟ نن ورځ خو دې دا علماء هم لږ د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سختۍ راپه ياد کړي چې د دين په لاره کښې سختۍ شته او که نه؟ نن ورځ چې علماء په کوم کار له خطر او سختۍ سره مخ کېږي بس هغه کار

تعطيل کړي؛ دوی خو دې يو څه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په ژوند کښې فکر وکړي چې هغه په کوم اساس سختۍ تېرې کړې؟ نو مونږ وايو چې علماء دې د دين په ټولو برخو کښې خپل مسئوليت ترسره کړي، د خپل پيشوا لاره دې اختيار کړي، که څه هم په دې لاره کښې تکليفونه ورته ورسيږي، نن ورځ اُمـت ريښتينو علماؤ ته زياته اړتيا لري ترڅو نبوي تګلاره خپله کړي او په اُمـت کښې د ژوند ساه پو کړي.

## د دريو خلافتونو سقوط!

دا چې الله تعالی له مسلمانانو څخه نظام او حکومت اخلي خامخا څه داسې اسباب په هغه نظامونو کښې وي چې د الله تعالی خوښ نه وي، الله تعالی له مسلمانانو سره وعده کړې چې که تاسې په الهي قوانينو روان وئ، نو به تاسې ته په ځمکه کښې حکومت درکړو، دا چې د اسلام په تاريخ کښې زيات اسلامي حکومتونه له منځه تللي سبب يې دا دی چې دوی له الهي قوانينو څخه سرغړونه کړې؛ زه د نمونې په ډول دلت درې اسلامي خلافتونه راوړم چې ولې له سقوط سره مخ شول؟

دا چې اموي خلافت د غزاګانو او فتوحاتو يوه لويه نمونه ده کوم چې د اسلام په تاريخ کې يې مونږ لرو، په اسلامي اُمـت يې لوی احسانونه کړي چې هېڅ د هېرولو نه دي، په اموي خلافت کې د جهاد دنده يو طبعي امر وو، د همدې جهاد او استقامت برکت وو چې د سلطنت ساحه يې په ډېر کم وخت کې پراخه کړه، د دوی له اخلاقو او ښې رويې څخه خلکو د نړی په هره برخه کښې د اسلام دين ته غاړه ايښؤده، نو په همدې اساس د خلافت سلطه او لمن د فرانسې تر سرحداتو، چيچنيا، سند، کاشغر او خراسان پورې رسېدلې وه.

خو کله چې په اموي خلافت کې د زوال اسباب پيدا شول، نور نو د الهي سنتو په اساس د خلافت استقرار ممکن نه وو، د خلافت په رهبری کې داخلي اختلافات پيدا شول، درباريانو به د وخت خليفه ته غلطې مشورې ورکولې، د خلفاؤ په دربار کښې د چاپلوسانو او خودغرضه درباريانو د غلطو مشورو په نتيجه کښې د خليفه څخه لاره ورکه کړې شوې وه، په خلافت کښې د قوميت مادي رشد وکړو، تر دې چې د اُمـت د له منځه تللو لوی سبب وګرځېدو، دا چې اموي خلافت له عربو سره تړاؤ درلود د عجمو سره يې قومي تعصب دومره اندازې ته ورسېدو چې په لمانځه کې به هم د عجمي تر شاه نه درېدو، په نظام کې خو برخه په خپل ځای پرېږده، چې عجمو ته يې

ورکړي وای، په عجمو يې ماليه ډېره لوړه کړه چې د ورکولو څخه يې عاجز وو، بالاخره عجم د عباسيانو سره په سازشونو بوخت شول او د امويانو په خلاف يې بغاوتونه پيل کړل، أبو مسلم خراساني د اموي خلافت په خلاف له عباسيانو سره يو ځای شو، په نتيجه کې اموي خلافت په ۱۳۲ هـ.ق کال کې سقوط وکړو او له منځه لاړو، د زياتو کارنامو درلودونکی قوي او فاتح خلافت د خپلو عملونو څخه په لګيدلي اور کښې لولپه شو او نور يې خپل د أُمـت زعامت ته د پای ټکی کېښوؤد.

هم هغه عجم چې د عباسيانو سره د امويانو په خلاف يو ځای شوي وو بېرته د عباسي خلافت له خوا د قدرت ساتلو په خاطر منحصر شول او مشران يې ووژل شول، لکه أبو مسلم خراساني، چې د خراسان مشر وو، د امويانو په خلاف يې د عباسيانو مرسته کړې وه، بلاخره د همدې عباسيانو له خوا وغوښتل شو او ختم شو، دا ځکه چې دوی وېره لرله چې د دوی د قدرت ساحه به پراخه شي او بغاوت به وکړي، همدا عباسي خلافت چې له کوم اور څخه په ناروا طريقه (د وژنو په طريقه) ځان خلاصولو، په هغه اور کښې خپله وسوزول شو (د نورو خلکو په لاره کښې چې ښوک کوهي کيندي يوه ورځ به خپله په هغه کوهي د دوی لاره وي) خير په هر ځای کښې له خلافت څخه بغاوتونه

کېدل او خلافت کمزورى کېدو، هغه چا به چې بغاوت وکړو هغه به هم نورو دښمنانو ته په لاس ورغلو او له منځه به يې يوړو، عباسيان بيا په خپل منځ کې سره په اختلاف کې شول، حتى د خلافت وزيرانو د تاتاريانو څخه غوښتنه کوله چې مونږ مو مرسته کوو، راشئ، کله چې تاتاريانو حمله وکړه بغداد يې د مسلمانانو په وينو رنګ کړو، هم هغه خلک يې هم ووژل چې د خلافت په مقابل کښې يې تاتاريانو ته د مرستې ډاډ ورکړى وو، يو تاتاري به زيات مسلمانان په ځمکه څملول وروسته به يې اسلحه راواخيسته او ټول به يې پرته له کوم مقاومت څخه ذبحه کړل، دا ځکه چې مسلمانان په خپل منځ کښې دومره بې اتحاده شوي وو چې يو د بل په مقابل کښې به يې له دښمن څخه همکاري غوښته، د مسلمانانو په فتمنو او باعزته ښځو به فاحشو تاتاريانو خپل خواهشات مړول، بې شمېره کتابونه يې وسوزول او درياب ته يې واچول، کوم چې د اسلامي تمدن لويه علمي سرمايه وه، تر نن پورې بيا په علمي برخه کښې دومره پرمختګ نه دى شوى او نه يې هغه تشه ډکه شوې ده؛ په دې اساس عباسي خلافت هم له منځه ولاړو؛ وروسته عثماني خلافت په ترکيه کښې پيل شو، ترڅو چې د الله تعالى ورته اراده وه په مستقيمه لاره روان وو، غربي او د منځني ختيځ (عربي) سيمې يې تر کنترول لاندې وې، اسلام په عزت کښې وو، مسلمانان په عزت کښې وو، له کـفري لويو لويو هيوادونو

ځخه جزيې اخيستل کېدې، کله چې دوی له مستقيمې لارې ځخه کاږه شول، نور بيا د الهي سنتو په اساس د دې خلافت پاتې کېدل هم ممکن نه وو، دوی د عربي نړۍ سره د ژبني او قومي تعصب په اساس عربي ژبه له دربار او خلافت ځخه حذف (لغوه) کړه، په داسې حال کښې چې په عربي ژبه تعليم په خلافت کې رسمي وو، نو همدې تعصب د عربانو احساسات راوپارول او د غربيانو په اشارو يې د خلافت په مقابل کښې سازشونه پيل کړل، د عربي ليکوالانو له خوا عربانو ته عثاني خلافت تر انګريزي اشغال هم بد معرفي شوی وو، په خلافت کښې نورې ستونزې هم وې چې نور يې د دې لپاره شيبې شمارلې ترڅو خلافت له منځه ولاړ شي، لکه اروپايي جاسوسان په لوړو بستونو کښې ځای پر ځای شوی وو، په پوځ کښې لوی لوی مشران وو چې د اروپا د سياستونو لپاره يې کار کولو، هغه وو چې عثماني خلافت هم په 1924 م کال کښې له منځه ولاړو؛ تر نن ورځې بيا په امت کې خلافت نه دی قائم شوی، امت په وړو وړو ټوټو تقسيم شوی چې هره ټوټه يې د نورو په اشارو خپل ژوند مخته وړي.

د خلافتونو ترمنځ قومي، ژبني او سمتي تعصبونه هغه لوی لاملونه دي چې په ډېر کم وخت کې نظامونه او حکومتونه له منځه وړي، د دې مخالفتونو په ټول تاريخ کې (د اسلامي امت بغير) ګټه اصلي

دښمنانو وړې ده، اموي خلافت چې سقوط وکړو، د فتوحاتو لړۍ ودرېده، خاص پرمختګ بیا په فتوحاتو کې نه دی شوی او دښمن ورڅخه په امن شو، عباسي خلافت چې کله سقوط وکړو تاتاریانو یې په نغري اوبه بار کړې او دوی یې ټول شهیدان کړل، عثماني خلافت چې کله سقوط وکړو غربیانو یې په دارالخلافة کې د خپل لاسپوڅي په واسطه سیکلور نظام حاکم کړو.

خو مایوسه نه یو او نه هم ستړي شوي یو، مونږ بیا هم په امت کې د خلافت بخرکي وینو چې رڼا کوي، د جهاد او قربانۍ رلمي تیار دي چې په کفر توره شپه جوړه کړي او ویده اُمــت راویښ کړي، دا ځل مو هیله ده چې د افغانستان څخه به د خلافت رڼا په نړۍ خورېږي، الله تعالی دې زمونږ د حکومت پښې کلکې کړي، ترڅو له داخلي تعصبونو څخه ځانونه وساتي او خپلو خارجي دښمنانو ته متوجې شي، د دنیا ژوند تېرېږي، هر مسئول ته په کار ده چې له قومي، ژبني او سمتي تعصب څخه ځان وساتي، مونږ باید ډېرو غټو اهدافو ته تیار شو راتلونکي ډېر مشکلات په مخ کښې لرو، په دې وړه جغرافیه باید اکتفاء ونه کړو، مونږ باید د نور پرمختګ لپاره اقدامات وکړو، ترڅو دا لاسته راغلې موقع له لاسه ورنکړو، که خدای مه کړه یو ځل بیا دښمن راځي بیا به په همدې خپل ملک کښې ورسره آخته وو او بیا به د دې وړې

جغرافيې لپاره په لکهاوو شهيدان ورکوو، دا طبعي خبره ده چې کله انسان آرام شي، د خواهشاتو پوره کولو لپاره مال او دولت زيات شي، بيا مرګ ورځخه هېر شي، د جهاد مينه کمزورې شي، د قدرت او چوکۍ حرص ډېر شي، تر دې چې انسان په بشپړ ډول د قربانۍ له جذبې خلاص شي؛ نو مونږ بايد دې ځای ته ځان ونه رسوو بلکې اوس هم د جهاد لپاره ترتيبونه جوړ کړو، عملي مبارزه وکړو، سرحدات پراخه کړو او لوی خلافت جوړ کړو، ترڅو نوی خلافت د کفر ستنې ولړزوي.

د داخلي اختلافاتو ختمولو لپاره د خيانت مخه نيولو لپاره ترټولو بهترينه طريقه همدا ده چې بايد د نظام د هرې برخې څخه د جهاد تشکيل وشي، د وزير، والي، قوماندان او رئيس په سطحه کسان د تشکيلونو مسئولين وټاکل شي، په دې طريقه به نظام نور پرمختګ هم وکړي، دښمن به هم وځپل شي او په داخل کښې به د مجاهدينو اصلاح هم شوې وي، ځکه جهاد انسان اصلاح کوي مجاهد په جهادي بهير کښې خپل مرګ په سترګوويني، د شهادت په هر حال کښې ورته سترګې وي، هر مجاهد چې په کال کښې يو ځل تشکيل وکړي هېڅکله به بې لارې نشي ان شاء اللّٰه، د نظام د تصفيې لپاره هم بهترينه لاره ده، خائنين او ضعيف الايمانه خلک به هېڅکله په نظام کښې پاتې نشي، د نظام څخه چې کله ضعيف الايمانه خلک کم شي

په نظام کښې به د خیانتونو اندازه راټیټه شي او نظام به د نور پرمختګ لپاره قوي او تیار شي، زما دا خبرې ممکن ځینو خلکو ته هسې بې ځایه ښکاره شي، خو که د اسلام طبیعت په صحیح ډول درک شي، د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) ژوند مطالعه شي او وروسته دا اورډ څوارلس‌نیم سوه کلن تاریخ تر نظر تېر کړي بیا به څرګند شي چې د خلکو تقوا ساتل او نظام ته بقا ورکول یوازې جهادي تداوم کولای شي.

ومن الله توفیق

اساذ حقمل (خادم المؤمنین)

ګرانه لوستونکیه! په  پای کې ماته، زما مور او پلار ته د خیر او جنت دعا په ډېره مهربانۍ درڅخه غواړم.